

د عربي نړۍ د پېژندل شوي لیکوال دوکتور عائض القرني د نوموتي اثر

## اسعد امرأة فی العالم

پښتو ژباړه

# د نړۍ

# نیکمرغه ښځه



Ketabton.com

لیکوال
دوکتور عائض القرني

ژباړونکی
استاد فرید احمد هلال

(c) ketabton.com: The Digital Library

د عربي نړۍ د پېژندل شوي ليکوال دوکتور عائض القرني د نوموتي اثر

# أسعد امرأة فى العالم

پښتو ژباړه

# د نړۍ نېکمرغه ښځه

ليکوال
دکتور عائض القرني

پښتو کوونکی
استاد فريد احمد هلال

د تعليم الاسلام راډيو د همکارانوله خوا د انټرنيټ د لاري پر ليکه کيږي
www.taleemulislam-radio.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

## کتاب پېژندنه

د کتاب نوم : د نړۍ نېکمرغه ښځه
لیکوال : دوکتور عائض القرني
ژباړن : استاد فريد احمد هلال
خپرندوی : کتاب خپرندويه ټولنه - جلال آباد
کمپوز : خپله ژباړن
بیا کتنه : ابو عثمان عبدالمجيد - ګندهارا خدمتونه
چاپ کال : ۱۳۹۰
خپروني لړ : ۴
چاپ شمېر : ۱۰۰۰ ټوکه

د چاپ حقوق له خپرندويې ټولنې سره خوندي دي

د ترلاسه کېدو ځایونه

**ګندهارا کتابپلورنځی**

پته: اسحاقزي مارکېټ، لاندیني پوړ، جلال آباد ښار، افغانستان
اړیکشمېرې: ۰۷۷۳۳۷۰۳۳۸ - ۰۷۸۶۶۴۲۷۶۹
برېښنا لیک: gandharaservices@gmail.com

**افغان کتابپلورنځی**

پته: ډهکی نعلبندي، قصه خواني بازار، پېښور ښار، پاکستان
اړیکشمېرې: ۰۳۲۱۹۱۱۹۳۵۰ - ۰۳۲۱۹۰۶۳۳۴۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ډالۍ

د پښتني ټولني هرې هغې
خور ته چې د نیکمرغۍ په
لټه کې وي.

(هلال)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لړ لیک

موضوع | مخ


د خپرندویې ټولنې یادښت ........ ۱
د ژباړن خبرې ........ ۲
سریزه ........ ۴
د نړۍ د نېکبختې ښځې په نامه پیغام ........ ۵
د لیکوال وړاندیز ........ ۶
یاسمین ........ ۷
پام! ........ ۸
هو! ........ ۹
افرین! ........ ۱۰
ای زما خورې! ........ ۱۱
د نېکمرغه ښځې لپاره د ګلانو ګېډۍ ........ ۱۲
**د مسلمانې ښځې لپاره لس لوړ بیه ګانې**
لومړۍ ګاڼه: ........ ۱۴
له زورواکۍ سره د ښځې مقابله ........ ۱۴
دویمه ګاڼه: ........ ۱۶
له تا سره د الله ﷻ د نعمتونو یوه پراخه زېرمه شته ........ ۱۶
درېیمه ګاڼه: ........ ۱۸
د الله لور او پېرزوینې راپه زړه کړه او په الله تعالی ښه ګومان ولره ........ ۱۸
څلورمه ګاڼه: ........ ۲۰
مسلمانه او نا مسلمانه ښځه سره نشي برابرېدای ........ ۲۰
پنځمه ګاڼه: ........ ۲۲
لټې او سستي له ناکامۍ سره نه شلېدونکې اړیکې لري ........ ۲۲
شپږمه ګاڼه: ........ ۲۴

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لړلیک

موضوع — مخ


ته تر میلیونونو ښځو غوره یې! ........ ۲۴
اوومه ګانه: ........ ۲۶
په جنت کې د ځان لپاره مانۍ جوړه کړئ ........ ۲۶
اتمه ګانه: ........ ۲۷
په لوی لاس خپل زړه مه خرابوه! ........ ۲۷
نهمه ګانه: ........ ۲۹
ستا معامله له هغه کریم او رحیم ذات سره ده ........ ۲۹
لسمه ګانه: ........ ۳۱
ته په هر حال بریالۍ یې! ........ ۳۱

**د مسلمانې ښځې د نیکمرغۍ لپاره لس امیلونه**

لومړی امیل: ........ ۳۲
د الله لورینې له یاده مه باسه! ........ ۳۲
دویم امیل: ........ ۳۳
لږ مال چې نیکمرغي پرې ترلاسه کیږي، له هغه ډېر مال نه غوره دی، چې بدمرغي ورسره مله وي ........ ۳۳
دریم امیل: ........ ۳۴
لوړ همت ولرئ! ........ ۳۴
څلورم امیل: ........ ۳۶
له ایمان سره کوډله تر هغې مانۍ غوره ده، چې کبر ورسره مل وي ........ ۳۶
پنځم امیل: ........ ۳۷
د خپلو چارو لپاره مهال ویش وټاکئ! ........ ۳۷
شپږم امیل: ........ ۳۸
زموږ نیکمرغي څه بل ډول ده ........ ۳۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لړلیک

| مخ | موضوع |
|---|---|
| ۳۹ | اووم امېل: |
| ۳۹ | د خلاصون په بېړۍ کې سپره شه! |
| ۴۰ | اتم امېل: |
| ۴۰ | سجده د نېکمرغۍ کیلي ده |
| ۴۱ | نهم امېل: |
| ۴۱ | بوډۍ ښځه |
| ۴۲ | لسم امېل: |
| ۴۲ | ته د نړۍ ښکلې ښځه کېدای شې |
| | **د مسلمانې ښځې د نېکمرغۍ لپاره لس مرغلرې** |
| ۴۳ | لومړۍ مرغلره: |
| ۴۳ | ای د لوړې مرتبې خاوندې! |
| ۴۵ | دویمه مرغلره: |
| ۴۵ | نعمت قبول کړه او په خپلو چارو کې یې ولګوه! |
| ۴۷ | درېیمه مرغلره: |
| ۴۷ | په استغفار سره روزي پراخېږي |
| ۴۹ | څلورمه مرغلره: |
| ۴۹ | دعاګانې د بلاګانو مخه نیسي |
| ۵۱ | پنځمه مرغلره: |
| ۵۱ | له لټۍ او نهیلۍ نه ځان وساتئ! |
| ۵۲ | شپږمه مرغلره: |
| ۵۲ | ستا کور د عزت او مینې ټاټوبی دی |
| ۵۴ | اوومه مرغلره: |
| ۵۴ | ته د بې ګټو چارو لپاره وخت نه لرې |

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لړلیک


| موضوع | مخ |
|---|---|
| اتمه مرغلره: | ۵۵ |
| که ته ښه شوې؛ نو ټوله نړۍ به دې هر کلی کوي | ۵۵ |
| نهمه مرغلره: | ۵۷ |
| د هیڅ چا لپاره نېکمرغي او ښېګړې بشپړې نه دي | ۵۷ |
| لسمه مرغلره: | ۵۹ |
| د پوهې او معرفت شنو باغونو ته ورننوځه | ۵۹ |
| **د مسلمانې ښځې د ظاهري او باطني ښکلا لپاره لس ښکلي غمي** | |
| لومړی غمی: | ٦۰ |
| د هغوی په اړه فکر وکړی، چې سترګې یې له اوښکو ډکې او زړونه یې زخمي دي | ٦۰ |
| دویم غمی: | ٦۱ |
| هغه له سره نېکمرغه نه ده!؟ | ٦۱ |
| درېیم غمی: | ٦٣ |
| د الله تعالی لار تر ټولو غوره ده! | ٦٣ |
| څلورم غمی: | ٦۵ |
| کله، چې ټولې لارې وتړل شي | ٦۵ |
| پنځم غمی: | ٦٧ |
| هره ورځ لومړۍ وګڼه! | ٦٧ |
| شپږم غمی: | ٦٩ |
| ښځې په تکه توره شپه کې د سپوږمۍ او ستورو د رڼا په څېر دي | ٦٩ |
| اووم غمی: | ٧۱ |
| له حرامو نه مرګ ښه دی | ٧۱ |
| اتم غمی: | ٧٣ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لړلیک


| مخ | موضوع |
|---|---|
| ۷۳ | رنها ګانې |
| ۷۵ | نهم غمی: |
| ۷۵ | د رحمن ذات په پېژند ګلوی اندېښنې له منځه ځي |
| ۷۷ | لسم غمی: |
| ۷۷ | بر کتناکه ورځ |
| | **د نړۍ د نېکمرغې ښځې لپاره د جنت لس خوږ بویه ډالۍ** |
| ۷۸ | مشک: |
| ۷۸ | نېکمرغه ژوند د ښې ښځې په برخه کېږي |
| ۷۹ | عنبر: |
| ۷۹ | یوازې ننني ورځې ټول عمر وګڼه! |
| ۸۰ | لونګ: |
| ۸۰ | تنګسه مه انګېرئ! |
| ۸۲ | صندل: |
| ۸۲ | تر زیار او خوارۍ وروسته د بریالیتوب خوند |
| ۸۳ | زعفران: |
| ۸۳ | پر اوسني حال خوښه شه |
| ۸۵ | عود: |
| ۸۵ | ریښتیني ارونه |
| ۸۶ | اوومه : |
| ۸۶ | په سربښندنه د الله راضي کول |
| ۸۸ | اتمه: |
| ۸۸ | که د الله ﷻ د پولو ساتنه وکړې؛ نو الله ﷻ به تا وساتي |
| ۸۹ | نهمه: |

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لړلیک

موضوع | مخ

د توبې اوښکې تر نورو اوبو غوره دي ........ ۸۹
لسمه: ........ ۹۱
لومړۍ سرښندونکې ښځه ........ ۹۱

## د نېکمرغې ښځې لپاره لس یاقوت ډالۍ

لومړی یاقوت: ........ ۹۳
خپلې چارې الله ته وسپاره او په ډاډه زړه ویده شه! ........ ۹۳
دویم یاقوت: ........ ۹۵
ریښتینې ړوند هماغه دی، چې زړه یې ړوند وي ........ ۹۵
درېیم یاقوت: ........ ۹۷
د غچ اخیستنې اور ته پوکې مه وهئ، که نه نو خپله به یې ښکار شې ........ ۹۷
څلورم یاقوت: ........ ۹۹
هره بریا په هلو ځلو کې نغښتې ده. ........ ۹۹
پنځم یاقوت: ........ ۱۰۰
کفري نړۍ د بد مرغۍ ښکار ده ........ ۱۰۰
شپږم یاقوت: ........ ۱۰۱
د ژوند د ملګرې اخلاق باید داسې وي ........ ۱۰۱
اووم یاقوت: ........ ۱۰۲
پر تقدیر خوښې شئ! ........ ۱۰۲
اتم یاقوت: ........ ۱۰۴
پر دنیوي شیانو مه خواشینې کېږه! ........ ۱۰۴
نهم یاقوت: ........ ۱۰۶
الله ﷻ انسان ته ښکلې صورت ورښبلی ........ ۱۰۶
لسم یاقوت: ........ ۱۰۸
د سخا انتها ........ ۱۰۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لړليک

موضوع | مخ

## د مسلمانې ښځې د ارزښت د لا ډېرولو لپاره لس قيمتي عقيق


لومړی عقيق: ..................... ۱۱۰

له الله ﷻ پرته کوم عوض نشته ..................... ۱۱۰

دويم عقيق: ..................... ۱۱۲

نېکمرغي شته؛ خو که څوک يې وپلټي! ..................... ۱۱۲

درېيم عقيق: ..................... ۱۱۳

ښکلي اخلاق، د زړونو جنت دی ..................... ۱۱۳

څلورم عقيق: ..................... ۱۱۵

د نېکمرغۍ لس بنسټونه ..................... ۱۱۵

پنځم عقيق: ..................... ۱۱۷

په الله ﷻ پورې له غم او اندېښنو څخه پنا وغواړه! ..................... ۱۱۷

شپږم عقيق: ..................... ۱۱۹

د ژوند په سختو کې مرستندويه ښځه ..................... ۱۱۹

اووم عقيق: ..................... ۱۲۱

جنتۍ ښځه ..................... ۱۲۱

اتم عقيق: ..................... ۱۲۳

خيراتونه د مصيبتونو مخه نيسي ..................... ۱۲۳

نهم عقيق: ..................... ۱۲۵

ښايسته روحې شه، ځکه ښايسته پيدا يې ..................... ۱۲۵

لسم عقيق: ..................... ۱۲۶

خپل تاريخ ليکونکې عظيمه ښځه ..................... ۱۲۶

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لړ لیک

| موضوع | مخ |
|---|---|

## د نېکمرغه ښځې د لا نېکمرغۍ لپاره لس نایابه مرغلرې


لومړۍ مرغلره: ........................ ۱۲۷
خپل وختونه په هوا کې مه لګوه! ........................ ۱۲۷
دويمه مرغلره: ........................ ۱۲۹
نېکمرغي په پيسو نه اخستل کېږي ........................ ۱۲۹
درېيمه مرغلره: ........................ ۱۳۱
توندي او غوسه د بدبختۍ د اور لرګي دي ........................ ۱۳۱
څلورمه مرغلره: ........................ ۱۳۲
د مال د راټولولو لوبه پای نه لري ........................ ۱۳۲
پنځمه مرغلره: ........................ ۱۳۳
وزګارتيا بدګمنې رازېږوي ........................ ۱۳۳
شپږمه مرغلره: ........................ ۱۳۵
له غوسې، شور او ستړيا نه خوندي کور ........................ ۱۳۵
اوومه مرغلره: ........................ ۱۳۷
پاکلمني او حيا د ښايسته وو ښکلا ډېروي ........................ ۱۳۷
اتمه مرغلره: ........................ ۱۳۹
کله الله ﷻ پټ شيان هم راښکاره کوي ........................ ۱۳۹
نهمه مرغلره: ........................ ۱۴۰
يوه داسې کلمه ده، چې ځای او وخت ډکوي ........................ ۱۴۰
لسمه مرغلره: ........................ ۱۴۲
جنت ته لېوال زړونه ........................ ۱۴۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لړليک

موضوع — مخ

**د مسلمانې ښځې د نېکمرغۍ د لاډېرولو لپـاره لس ګامې**


لومړۍ، ګوتمه: ........................ ۱۴۴
د تقدير په ښو او بدو ايمان لرل ........................ ۱۴۴
دويمه والۍ: ........................ ۱۴۶
منځۍ چارې، غوره چارې ........................ ۱۴۶
درېيمه امېل: ........................ ۱۴۷
بدپالي غمونه رازېږوي ........................ ۱۴۷
څلورمه پېزوان: ........................ ۱۴۸
له کينې، غوسې او خپګان څخه ځان وساته! ........................ ۱۴۸
پنځمه نتکۍ: ........................ ۱۴۹
جنګونه، له بې ځايه خبرو راولاړېږي! ........................ ۱۴۹
شپږمه چار ګل: ........................ ۱۵۱
د ژبې ساتنه ........................ ۱۵۱
اوومه ټيکه: ........................ ۱۵۳
له اندېښنو سره په لمانځه ډغره ووهه! ........................ ۱۵۳
اتمه پانزېب: ........................ ۱۵۵
د برېالۍ ښځې خواخوږۍ ........................ ۱۵۵
نهمه غاړه کۍ: ........................ ۱۵۷
څوک که له الله ﷻ سره اشنا نشو؛ نو هغه له هېچا سره نه اشنا کېږي ........................ ۱۵۷
لسمه بنګړي: ........................ ۱۵۹
دوه کمر بندونو والا دوه ژونده تېروي ........................ ۱۵۹

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لړليک

موضوع | مخ

**د مسلمانې ښځې د نېکبختيا د ډېرولو لپاره لس ځانګړې مرغلرې**


لومړۍ مرغلره: ............ ۱۶۱
څوک ډېر خوښ دوست دی؟ ............ ۱۶۱
دويمه مرغلره: ............ ۱۶۲
نېکمرغي په مالدارۍ او غريبۍ کې نشته ............ ۱۶۲
درېيمه مرغلره: ............ ۱۶۳
ايا د الله تعالی شکر تر ټولو ښه نه دی؟ ............ ۱۶۳
څلورمه مرغلره: ............ ۱۶۴
بختوره له ځان سره نورې هم بختورې کوي ............ ۱۶۴
پنځمه مرغلره: ............ ۱۶۶
وېرېږه مه! هر څه د تقدير له مخې کېږي ............ ۱۶۶
شپږمه مرغلره: ............ ۱۶۸
د ام عماره له خولې! ............ ۱۶۸
اوومه مرغلره: ............ ۱۶۹
له خلکو سره نېکي غمونه ختموي ............ ۱۶۹
اتمه مرغلره: ............ ۱۷۱
خپل تاوانونه پر ګټو بدل کړئ! ............ ۱۷۱
نهمه مرغلره ............ ۱۷۳
وفا ډېره ګرانه ده، وفا چېرته ده؟ ............ ۱۷۳
لسمه مرغلره: ............ ۱۷۵
چټکي ............ چټکي ............ ۱۷۵

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لړلیک

| موضوع | مخ |
|---|---|

**د مسلماني ښځې د نېکبختیا د لاډېرولو لپاره لس مرجانه**


لومړی مرجان: ........................................ ۱۷۶
له نفس سره په زړورتیا ودرېږه ........................................ ۱۷۶
دویم مرجان: ........................................ ۱۷۸
وویرېږه! ........................................ ۱۷۸
درېیم مرجان: ........................................ ۱۷۹
د نېکي کوونکي شکر واجب دی ........................................ ۱۷۹
څلورم مرجان: ........................................ ۱۸۱
باید روح ته له بدن نه ډېره پاملرنه وشي ........................................ ۱۸۱
پنځم مرجان: ........................................ ۱۸۲
مستقبل تر راتلو پرېږده ........................................ ۱۸۲
شپږم مرجان: ........................................ ۱۸۴
ډېر ارمانونه ، ډېر مصیبتونه ........................................ ۱۸۴
اووم مرجان: ........................................ ۱۸۶
که پر ځمکوالو ولورېږې؛ نو د اسمانونو خاوند به پر تاسې ولورېږي! ........................................ ۱۸۶
اتم مرجان: ........................................ ۱۸۸
په خوښۍ کې د الله ﷻ معرفت ترلاسه کړه، چې په خپګان کې دې پکار شي ........................................ ۱۸۸
نهم مرجان: ........................................ ۱۹۰
نړۍ ډېره ښکلې ده ........................................ ۱۹۰
لسم مرجان: ........................................ ۱۹۲
د سړي لپاره ښځه هم نېکمرغي ده ........................................ ۱۹۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لړلیک

| موضوع | مخ |
|---|---|

## د نېکمرغۍ په لړکې لس لوړ بیه الماس


لومړی الماس: ........................ ۱۹۴
د بریالیتوب کیلي ........................ ۱۹۴
دویم الماس: ........................ ۱۹۵
تر تنګسې وروسته د پراخۍ خوند ........................ ۱۹۵
درېیم الماس: ........................ ۱۹۷
اندېښنې ........................ ۱۹۷
څلورم الماس: ........................ ۱۹۹
د لغړتوب پایلې ........................ ۱۹۹
پنځم الماس: ........................ ۲۰۱
قوت په علم کې وي، نه په بدن کې ........................ ۲۰۱
شپږم الماس: ........................ ۲۰۳
زړوره ښځه د اندېښنو له اور نه هم ګلزار جوړولای شي ........................ ۲۰۳
اووم الماس: ........................ ۲۰۵
له صبر نه کار واخلئ ........................ ۲۰۵
اتم الماس: ........................ ۲۰۶
په سختئه کې له الله ﷻ پرته بل څوک پکار نه راځي ........................ ۲۰۶
نهم الماس: ........................ ۲۰۸
د بېوسه دعا ........................ ۲۰۸
لسم الماس: ........................ ۲۱۰
بخیلتوب ........................ ۲۱۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لړ ليک

موضوع — مخ

## د نېکمرغۍ ښځې لپاره د ګلانو ګېډۍ

ګلاب: ........ ۲۱۲
ته نه خيځواله او نه لوېديځواله يې، بلکې ته يوه مسلمانه ښځه يې! ........ ۲۱۲
نرګس: ........ ۲۱۴
ځمونه شاته وغورځوئ او په نېکو چارو کې بوختې شئ! ........ ۲۱۴
رامبېل: ........ ۲۱۶
د نېکمرغۍ په اړه څو اړينې لارښوونې ........ ۲۱۶
چامبېل: ........ ۲۱۸
چې ټولې لارې وتړل شي؛ نو د الله ﷻ رسۍ راکلکه کړه! ........ ۲۱۸
غاټول: ........ ۲۲۰
فقط مؤمنان نېکمرغه کېدای شي ........ ۲۲۰
سنبل: ........ ۲۲۲
له بد خرڅۍ پرته ژوند ........ ۲۲۲
ياسمين: ........ ۲۲۴
د خيرات په کولو زړه ډاډ منېږي ........ ۲۲۴
کشمالۍ: ........ ۲۲۵
الله ﷻ موږ له هرې بلا نه ساتي ........ ۲۲۵
ګل لاله ........ ۲۲۷
له غفلت نه مه بې پروا کېږه! ........ ۲۲۷
سلطلې ګل ........ ۲۲۹
د ژوند لپاره وموسېږئ ........ ۲۲۹
اوس: ........ ۲۳۰

(c) ketabton.com: The Digital Library


## د خپرندويې ټولنې يادښت

بسم الله الرحمن الرحيم

خوږو لوستونکيو!

کتاب خپرندويې ټولنې د ۱۴۳۲ هجري قمري د شعبان مبارکې مياشتې په پنځلسمه نېټه د (زينة الصلاة) په نامه د لمانځه د مسائلو په اړه د فضيلة الشيخ ابو محمد امين الله البشاوري صاحب له کتابه خپلې خپرونې پيل کړي دي، چې تر دې دمه يې (زينة الصلاة، مه خپه کېږه!، لمونځ د احاديثو په رڼا کې، د پښتو نحوه، علم النحوه) او داسې نور ارزښتمن کتابونه خپلو لوستوالو ته په خوږه او روانه پښتو وړاندې کړي او په راتلونکې کې د لا ډېرو ارزښتمنو، ديني، علمي او ټولنيزو اثارو د خپرولو هوډ لري.

د نامتو ليکوال دکتور عائض القرني د (مه خپه کېږه!) کتاب تر تود هر کلي وروسته د ټولنې په غوښتنه ښاغلي استاد فريد احمد هلال د نوموړي ليکوال دغه بل ارزښتمن اثر (د نړۍ نېکمرغه ښځه) هم د پښتنې ټولنې د پتمنو لوستونکو لپاره له اردو ژبې څخه په خوږه او روانه پښتو راوژباړه، چې دغه مظلومه او بېوزله طبقه له نېکمرغۍ څخه برخمنه شي، کتاب خپرندويه ټولنه ستاسې د دعاوو په بدرګه د ښاغلي هلال صاحب د لا برياوو لپاره په ستر درشل کې لاسونه لپه کوي.

په درنښت

**کتاب خپرندويه ټولنه**

جلال کوټ

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د ژباړن خبرې

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله رب العالمين، والصلوة والسلام على سيد المرسلين محمد واله وصحبه اجمعين.

پتمنو خوېندو!

د دې کتاب له انتخاب نه ستاسې نېکمرغي په ډاګه کېږي او زه تاسې ته د نېکمرغۍ زېرى درکوم، ځکه چې تاسې د مطبوعاتو په دې توپان کې دا کتاب راواخيست او پاڼې مو ورله په لاسو کې ښکته پورته واړولې او ستاسې د نېکمرغۍ د پخلي لپاره د ثبوت په توګه د عربي ژبې هغه متل وړاندې کوم، چې وايي:

من طلب، فقد وجد

(( هغه څوک يو شى موندلاى شي، چې لټه يې کوي.))

د پورتنۍ وينا پر بنسټ د دې کتاب انتخاب ستاسې نېکمرغي په ډاګه کوي، ځکه چې ډېرې داسې خويندې به هم وي، چې خپل ارزښتمن وخت به د بې ګټو کتابونو، مجلو، راډيوګانو او ټلويزيونونو په کتو تېروي؛ خو تاسې ته يو داسې اثر په لاس درغلى، چې په لوستو او په ژوند کې يې په عملي کولو نه يوازې ستاسې اخرت ښايسته کېږي، بلکې دنيوي ژوند مو پرې ښه کېږي او ډېرې درپېښې ستونزې مو پرې هوارېږي، ځکه چې د دې کتاب نامتو ليکوال "دکتور عائض القرني" له انساني او اسلامي ټولنې سره د بشپړې خواخوږۍ په پامنيوي په ډېره خوږه او زړه راښکونکې ژبه د بېوزله او مظلومې طبقې د نېکمرغۍ لپاره پکې داسې څه اصول ټاکلي، چې په لوستو

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د نړۍ نیکمرغه ښځه

یې انسان ستومانه کېږي نه؛ او عملي کول یې ګران نه دي، چې په لوستو به تاسې پکې لا ډېرې ښېګړې ومومئ، په پای کې له تاسې ټولو قدرمنو خوېندو څخه په خورا درنښت هیله کوم، چې که تاسې ته دا کتاب څه ګټور ښکاره شي؛ نو خپلو نورو خوېندو ته یې هم د لوستو سپارښتنه وکړئ.

ستاسې د دعاوو په هیله

**فرید احمد هلال**

د خاص کونړ د عالي دار المعلمین استاد او د پښتو څانګې آمر

(c) ketabton.com: The Digital Library



## سريزه

بسم الله الرحمن الرحيم
الحمدلله رب العلمين والصلاة والسلام على رسوله محمد واله واتباعه اجمعين. اما بعد:

دا کتاب، په لوړ غږ هره ښځه دې ته رابولي، چې پر خپل دين ځانونه نېکمرغې کړئ، د الله ﷻ پر لورينو او ښېګړو خوښې شئ.

دا کتاب د تمې او اميد يوه وړانګه ده او د هرې هغې ښځې لپاره د موسکا زېرى دى، چې له غم او انديښنو نه يې زړه تر مورګو راډک شوى وي.

دا کتاب په لوړ غږ تاسې دې ته رابولي، چې مرستې ته انتظار وکړئ او تر هرې تنګسې وروسته د خوښې او سوکالۍ تمه ولرئ.

دا کتاب د ښځې عقل او د هغې سپېڅلي زړه ته وايي، چې له صبر او زغم نه کار واخله او پر الله ﷻ له بدګومانۍ نه ځان وساته، ځکه چې الله ﷻ درسره مل دى، هم هغه ستا لپاره بس او ساتندوى دى.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د نړۍ د نېکبختې ښځې په نامه پيغام

هره هغه ښځه، چې الله ﷻ يې رب، اسلام يې دين او محمد رسول الله ﷺ يې په پيغمبرۍ منلی وي، د دين لاره يې خپله کړې وي او نبوي استازيتوب يې خپله دنده ګڼلې وي.

هره هغه ښځه، چې د کور روزنې ته ژمنه وي، هغه چې له خپلو الفاظو سره يې مجاهده او خپله لمن يې پاکه ساتلې وي.

هره هغه ښځه، چې خپل بچي يې په دين روزلي وي، يانې د سنتو اړوند يې هغوی پاللي او غوره چارې يې ورښوولې وي او د ښو چارو په ګاڼه يې سمبال کړي دي.

هره اندېښمنه او غمجنه ښځه دې خوشحاله شي، ځکه چې د الله ﷻ لورينې پرې پېرزو دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د ليکوال وړانديز

اى نېکمرغې ښځې!
ته په دين او ادب، بلکې په جومات، دعاګانو او د مراقبې له پلوه په ټوله نړۍ کې له هر ډول ګانې پرته هم نېکبخته يې!
ستا نېکبختي ستا د زړه او روح په سپېځلتيا کې نغښتې ده، نه په مجازي مينې او عشقي خيالاتو کې، بلکې د مجازي مينې او عشقي خيالاتو اړوند کيسې لوستل انسان له خپل اوسني حال نه لرې باسي.
کېداى شي د داسې پېښو له لوستنې نه ته ښې هيلې او خواږه خوبونه ووينې؛ خو پايله به يې پر لټې سربېره بد ګوماني او يا تر دې هم بدتره وي، ځکه چې دا ناوړه او ناسمې پېښې، مکر، چل، مرګ، ژوبله او داسې نورو ناوړه جرمونو ته لار جوړوي.
په دې کې هم شک نشته، چې ځينې پېښې د نوي کولتور په پامنيوي ليکل شوي وي، يانې ټولې پکې د لغړتوب او بد لمنۍ خبرې وي؛ نو له دې امله هره هوښياره او ځيرکه ښځه بايد داسې پېښې او کيسې ولولي، چې وجدان ته ژوند او سپېځلتيا وربښي.
پورتنۍ خبرې مې په دې موخه ليکلې، چې خپلې خوېندې د لويديځې ټولنې د زهرجن کولتور اغېز نه وساتم.
ما په دې کتاب کې د الله ﷻ او د هغه د استازي ﷺ ذکر کړې کيسې او پېښې راخيستې دي او تر دې بله سپېځلې او غوره خبره به لا کومه وي، چې يوه مسلمانه خور د دين له امله نېکبخته شي!

(دکتور عائض القرني)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د نړۍ نېکمرغه ښځه

**یاسمین**

**لومړی:** له ځانه د شهدو مچۍ جوړه کړه او د شهدو د مچۍ په څېر پر ګلونو کېنه!

**دویم:** ته دومره وخت نه لرې، چې د نورو نیمګړتیاوې وپلټې او تېروتنې یې وشمېرې.

**درییم:** که د الله ﷻ لارښوونې درسره ملې وي؛ نو بیا له څه شي ډارېږې؟؛ خو که الله ﷻ دې خلاف وي؛ نو څوک به دې ترې وژغوري؟

**څلورم:** د کینې اور بدن خوري او د غیرت ډېربښت د اور لمبه کېدل دي.

**پنځم:** که خپله نننۍ ورځ ښه نه کړې؛ نو سبانۍ ورځ؛ خو هسې هم نه لرې (یانې هغه خو په یوه غیبي نړۍ کې پټه ده).

**شپږم:** له بې ځایه او ناوړه بندړارونو څخه ځان په روغه را اوباسه!

**اووم:** د ښو اخلاقو په ګاڼه ځان تر باغچې هم ښکلې کړه!

**اتم:** له نورو سره تر خپله وسه ښېګړه کوه، ځکه چې دا هم د نېمکرغۍ د لاسه کولو لار ده.

**نهم:** کېنه ګر مرګ ته وسپاره او دښمن هېر کړه!

(c) ketabton.com: The Digital Library


**پام!**

پام چې! د خپل ژوند ارزښتمنې شېبې په بې ګټو چارو، غچ، په بحث او مباحثه کې له لاسه ورنه کړې!

پام چې: د شتمنۍ هوس ته پر روغتیا، نېکمرغۍ،خوب او سوکالۍ لومړیتوب ورنه کړې!

پام چې: د بل نیمګړتیاوې مه پلټئ، پردی غیبت مه کوئ، او پر خپلو نیمګړتیاوو سترګې مه پټوئ.

پام چې: ځان د هیلو په بې پایه سمندر کې مه لاهو کوئ، چې د هرې هیلې په ترسره کولو پسې لګیا شئ او د ژوند اصلي لوری درڅخه ورک شي.

پام چې! د ځان او کور په پاکوالي کې لټي مه کوئ، ځکه چې په دې سره کور او چارې بې نظمه کېږي.

پام چې! له حرامو خوړو، ځښو ځان وساتئ.

پام چې! په تېرو پسې مه ژاړئ.

پام چې! د اخروي چارو په اړه ځان په لټۍ مه وهئ او مه د اخرت له پېښو نه بې پروا کېږئ.

پام چې! په حرامو او ناروا چارو کې خپل وخت او شتمني مه خرابوئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**هو!**

د خپلې موسکا چینې په خوځېدا راولئ، چې پردي زړونه خړوب کړي.
هره هغه خوږه کلمه وکاروئ، چې مینه راژېږوي او نفرتونه لرې باسي.
هر هغه شی خیراتوئ، چې بېوزله خوشحالوي او وږي مړوي.
له قرآن کريم سره تړاو ولرئ، په ځیرتیا او خشوع سره يې تلاوت کوئ، توبه او استغفار خپله دنده وګڼئ.
دعاګانې او ذکرونه ډېر کوئ، بیا بیا دعا غواړئ او د خپلې توبې پخلی کوئ.
خپل بچي په دين وروزئ، د سنتو پلیوني يې کړئ او تل ورته ګټور نصیحتونه کوئ.
له هغې ښځې سره ناسته، ولاړه او دوستي کوئ، چې له الله ﷻ څخه وېرېږي، له دين سره مینه لري او ټولنيز ارزښتونه په پام کې نیسي.
د مورو پلار منل، د خپلوی پامنیوی، له ګاونډیانو سره ښه راشه درشه، د یتیم کفالت، د مېړه اطاعت او هر ګټور کتاب مطالعه کوئ!

(c) ketabton.com: The Digital Library



**افرین!**

پر هر هغه ښځه، چې د لمانځه پابنده وي.
پر هر هغه ښځه، چې پرده کوي، خپل پت او عزت ساتي.
پر هر هغه ښځه، چې د دیني علم په ګانه سینګار او عقلمنه وي.
پر هر هغه ښځه، چې وفاداره، ایمانداره او صدقه کوونکې وي.
پر هر هغه ښځه، چې د الله ﷻ ذکر، شکر او د دین په خپراوي کې کارنده ونډه اخلي.
پر هر هغه ښځه، چې د اسیه، مریم او خدیجې رضی الله تعالی عنهن پلیونې وي.
پر هر هغه ښځه، چې خپل بچي زړور مجاهدین روزي.
پر هر هغه ښځه، چې ټولنیز ارزښتونه پالي.
پر هر هغه ښځه، چې د الله تعالی پر دین غیرت کوي او له بدیو ځان لري ساتي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



### ای زما خورې!

دا کتاب ارومرو ولوله! ځکه په دې کتاب کې رېښتينې خبرې، حکيمانه اصول، ډېرې اغېزناکې خبرې، ښه فکر او پخې تجربې شته.

داکتاب ولوله! چې غمونه او اندېښنې دې لرې شي، د فکر لوری روښانه شي، عقل دې له ناوړه خيالونو پاک شي، د دې کتاب لوستل به تاسې د ښېرازه شنو باغونو پر لور روان کړي او د نېکمرغۍ خوږېدلې چينې به ووينې، هيله من يم، چې الله ﷻ به د دې کتاب په لوستو تاسې ته په خپل لور او پېرزوينې سره د دنيا او اخرت نېکمرغي درپه برخه کړي.

ما په دې کتاب کې داسې ګاڼه راټوله کړې ده، چې تاسې ته ښکلا دربښي په دې کتاب کې د رېښتينولۍ هغه رڼا پرته ده، چې د سرو او سپينو زرو تر ښکلا هم ډېره رڼه او پړکېدونکې ده، د دې کتاب ځپرکي د ګاڼې په نامه نومول شوي او تر کومه، چې دا کتاب له تاسې سره وي؛ نو د دنيوي ګاڼې پروا مه کوئ او ځانونه د دې کتاب په ګاڼه سينګار کړئ، چې د نړۍ د نېکمرغو ښځو په کتار کې وشمېرل شئ!

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د مسلمانې ښځې

## لپاره لس

# لوړې

# ګامونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د نېکمرغه ښځې لپاره د ګلانو ګېډۍ

**لومړی ګل:**

دا له یاده مه باسه، چې ستا رب ښښونکی او توبه قبلوونکی دی.

**دویم ګل:**

پر بېوزلو شفقت کوه، چې نېکمرغه شې، اړ کس ته خیرات ورکوه، چې روغتیا ومومې. له چا سره کینه او دښمني مه کوه، چې په عافیت سره اووسې.

**درېیم ګل:**

ښه ګومان لره، ځکه الله ﷻ درسره مل دی، ملائک ستا لپاره د ښښنې دعاګانې غواړي او جنت دې د ورتلو لارې څاري.

**څلورم ګل:**

پر الله ﷻ ښه ګومان کوه، خپلې اوښکې پاکې کړه او د الله ﷻ درکړي نعمتونه رایاد کړه؛ نو له غمونو او اندېښنو به خلاصه شې.

**پنځم ګل:**

داسې فکر مه کوه، چې ګوندې چا به دا دنیا شل کړې وي، ځکه په نړۍ کې داسې څوک نه دی تېر شوی، چې ټول ارمانونه یې ترسره شوي وي، له کومې ستونزې او اندېښنې سره دې مخ شوی نه وي.

**شپږم ګل**

د خرما د ونې په څېر لوړ همت ولره، لکه چې د خرما ونه دنګه او له هرې چارې نه لوړه ده، چې څوک یې په تیږه ولي؛ نو هغه ورته خپلې مېوې راغورځوي.

**اووم ګل**

ایا تا کله اورېدلي دي، چې په خپه کېدو ګوندې ورک شوی شی تر لاسه شوی او یا په غمجنېدو کومه تېروتنه سمه شوې وي؛ نو بیا ته ولې اندېښمنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



او غمجنه يې؟

**اتم ګل:**

د مصيبتونو او فتنو انتظار مه کوه، بلکې د امن، سلامتيا او عافيت انتظار کوه.

**نهم ګل:**

د خپلې سينې د غچ اور په ښښنه ووژنه!

**لسم ګل:**

اودس، غسل، خوشبو او مسواک د هرې تنګسې او انديښنې دوا ده.

**ځلا**

لاحول ولا قوة الا بالله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**لومړۍ ګانه:**

**له زورواکۍ سره د ښځې مقابله**

ما مضى فات والمؤمّلُ غيبٌ- ولك الساعة التي أنت فيها

د شعر ژباړه:

چې تېر شي، هېر شي او راتلونکی په یوه غیبي نړۍ کې پټ دی او ستا په لاس کې یوازې اوسنی وخت دی.

راسې نه ګورئ، چې څنګه په قرآن کریم او حدیثونو کې الله ﷻ او د هغه پیغمبر د فرعون ښځه اسیه بي بي ستایلې، لکه چې الله ﷻ فرمایي:

﴿وَضَرَبَ اللَّهُ مَثَلًا لِّلَّذِينَ آمَنُوا امْرَأَتَ فِرْعَوْنَ إِذْ قَالَتْ رَبِّ ابْنِ لِي عِندَكَ بَيْتًا فِي الْجَنَّةِ وَنَجِّنِي مِن فِرْعَوْنَ وَعَمَلِهِ وَنَجِّنِي مِنَ الْقَوْمِ الظَّالِمِينَ﴾

ژباړه:

او د مؤمنانو په اړه الله ﷻ د فرعون د ښځې مثال وړاندې کوي، کله چې هغې دعا وکړه، چې ای زما ربه! زما لپاره له خپل ځان سره په جنت کې یو کور جوړ کړه او ما د فرعون او د هغه له عمل نه وژغوره او له ظالم قوم نه خلاصون راکړه.

اې ورته ځیرې شئ، چې الله ﷻ څنګه د یوې مسلمانې ښځې لپاره د اسیه بېلګه وړاندې کړې او دا د هرې هغې ښځې لپاره غوره نمونه ده، چې پر سمه لاره تلل غواړي.

اسیه بي بي څومره عقلمنه وه، چې ځان یې الله ﷻ ته نږدې کړ او د فرعون کافر له اطاعت نه یې ځان ډډې ته کړی و، د دنګو ماڼیو ژوند یې د الله ﷻ پر لېوالې قربان کړ او د دنیوي شان شوکت په مقابله کې یې د جنت هغه ماڼۍ غوښتې کړې، چې لاندې ترې نهرونه بهېږي.

په رښتیا، چې اسیه بي بي له الله ﷻ سره د ډېر عظمت لرونکې ښځه وه، چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



او غمجنه يې؟

**اتم ګل:**

د مصيبتونو او فتنو انتظار مه کوه، بلکې د امن، سلامتيا او عافيت انتظار کوه.

**نهم ګل:**

د خپلې سينې د غچ اور په ښښنه ووژنه!

**لسم ګل:**

اودس، غسل، خوشبو او مسواک د هرې تنګسې او انديښنې دوا ده.

**څلا**

لاحول ولا قوة الا بالله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**لومړۍ ګانه:**

## له زورواکۍ سره د ښځې مقابله

ما مضى فات والمؤمَّلُ غيبٌ- ولك الساعة التي أنت فيها

د شعر ژباړه:

چې تېر شي، هېر شي او راتلونکی په یوه غیبي نړۍ کې پټ دی او ستا په لاس کې یوازې اوسنی وخت دی.

تاسې نه ګورئ، چې څنګه په قرآن کریم او حدیثونو کې الله ﷻ او د هغه پېغمبر د فرعون ښځه اسیه بي بي ستایلې، لکه چې الله ﷻ فرمایي:

وَضَرَبَ اللهُ مَثَلًا لِّلَّذِيْنَ اٰمَنُوا امْرَاَتَ فِرْعَوْنَ ۘ اِذْ قَالَتْ رَبِّ ابْنِ لِيْ عِنْدَكَ بَيْتًا فِي الْجَنَّةِ وَنَجِّنِيْ مِنْ فِرْعَوْنَ وَعَمَلِهٖ وَنَجِّنِيْ مِنَ الْقَوْمِ الظّٰلِمِيْنَ ۝

ژباړه:

او د مؤمنانو په اړه الله ﷻ د فرعون د ښځې مثال وړاندې کوي، کله چې هغې دعا وکړه، چې ای زما ربه! زما لپاره له خپل ځان سره په جنت کې یو کور جوړ کړه او ما د فرعون او د هغه له عمل نه وژغوره او له ظالم قوم نه خلاصون راکړه.

ای ورته حیرېږ شئ، چې الله ﷻ څنګه د یوې مسلمانې ښځې لپاره د اسیه بېلګه وړاندې کړې او دا د هرې هغې ښځې لپاره غوره نمونه ده، چې پر سمه لاره تلل غواړي.

اسیه بي بي ځومره عقلمنه وه، چې ځان یې الله ﷻ ته نږدې کړ او د فرعون کافر له اطاعت نه یې ځان ډډې ته کړ ی و، د دنګو ماڼیو ژوند یې د الله ﷻ پر لېوالې قربان کړ او د دنیوي شان شوکت په مقابله کې یې د جنت هغه ماڼۍ غوښتې کړې، چې لاندې ترې نهرونه بهېږي.

په رښتیا، چې اسیه بي بي له الله ﷻ سره د ډېر عظمت لرونکې ښځه وه، چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د نړۍ نېکمرغه ښځه

فرعون په ځېر ظالم او کافر پاچا په مخکې یې د حق کلمه وویله او په دې لار کې یې بلا ستونزې وګاللې ان تر دې، چې شهیده شوه؛ خو الله ﷻ تر قیامته پورې د ښځو لپاره نمونه وګرځوله، په قرآن کریم کې یې وستایله او د هغې پر عملونو الله ﷻ خپله خوښي څرګنده کړه او د فرعون سپکاوی یې بیان کړ.

**رڼا**

که د تېز توپان پر مهال ته په یوه خلاص میدان کې هم یې؛ نو تمه ولره!

**ځلا**

إِنَّ مَعَ الْعُسْرِ يُسْرًا ۝

ژباړه:

بېشکه له تنګسې سره پراختیا هم ده

دویمه ګامه

**له تا سره د الله ﷻ د نعمتونو یوه پراخه زېرمه شته**

لطائفُ اللهِ وإن طال المدى- كلمحةِ الطرْفِ إذا الطرفُ سجى

د شعر ژباړه

که اندېښمن وخت څومره هم اوږد شي؛ خو بیا هم د الله ﷻ لورینې او پرزوینې د سترګو په رپ انسان ته رارسېږي.

زما خوږې خورې! په هره تنګسه پسې اساني وي، په هرې اوښکې پسې موسکا وي او په هرې شپې پسې روڼ سبا شته، د اندېښنو دا تورې ورېځې به لاړې شي، د غم دا شپه به سبا شي، دا ستونزې به ان شاء الله هوارې شي او الله ﷻ به سوکالي درپه برخه کړي؛ خو دا په یاد ولره، چې ستا لپاره په هر حال کې اجر لیکل کېږي، که ته مور یې؛ نو ستا بچي به د اسلام مرستندویه او د دین خدمتګاران وي؛ خو په دې شرط، چې ته یې ښه پالنه او روزنه وکړې! نو همدغه بچي به سبا ته خپل رب ته سر په سجده وي او تا ته به دعاګانې کوي، وګوره یوه مشفقه او نرم زړې مور څومره لوړه مرتبه لري، چې الهي په سجدو کې ورته دعاګانې کوي.

د ښځو لپاره یوازې همدا ویاړ بس دی، چې د رسول الله ﷺ مور بي بي هم یوه ښځه وه، چې ټول انسانیت ته یې د محمد رسول الله ﷺ په څېر یو لارښود ولی کړ.

ته دا وړتیا لرې، چې نورې ښځې هم اسلام ته راوبولې او د دین دعوتګره شې، ته کولای شې، چې نورې ښځې هم د اسلام پر سپېڅلې لار روانې کړې، هغه ښځه که په خپل سیرت او نېکو چارو ولاړه اوسي؛ نو هغه لوړ کارونه ترسره کولای شي، چې لوی لوی ویناوال یې پر ممبرونو نشي کولای.

(c) ketabton.com: The Digital Library


ځومره به داسې ښځې وي، چې په یوه کور، کلي او مالت کې وخت تېر کړي او د چم ګاونډ ټولې ښځې یې د پردې، پاکلمنۍ او ښکلي سیرت مثالونه بیانوي، چې د نورو ښځو لپاره غوره بېلګه وګرځي.

**رڼا**

ټولې غوټۍ به ګل شي، اندېښنې به له مینځه لاړې شي او سوکالي به راشي.

**ځلا**

سَيَجْعَلُ اللَّهُ بَعْدَ عُسْرٍ يُسْرًا ۝

ژباړه:

لېرې نه ده چې الله ﷻ تر تنګلاسۍ وروسته پراخي هم وربه برخه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دريمه ګاڼه:**

**د الله لور او پېرزوينې ته زړه کړه او په الله تعالی ښه ګومان ولره.**

أتيأس أن ترى فرجاً- فأين اللهُ والقدرُ ؟!

ژباړه:

که ته له پراخۍ څخه نهيلې يې؛ نو بيا الله ﷻ او تقدير چېرته دي؟ يانې مه نهيلې کېږه.

که ته د الله ﷻ په لار کې د مجاهدې په لړ کې له کومې ستونزې سره مخ شې؛ نو ان شاء الله، چې هغه به ستا د ګناهونو لپاره کفاره شي.

زه تاسې ته د پېغمبر ﷺ له مبارکې خولې زېری درکوم، هغه ﷺ فرمايي:

که ښځه د خپل رب اطاعت وکړي پنځه وخته لمونځ وکړي او خپله لمن پاکه وساتي؛ نو الله ﷻ به يې جنت ته ننباسي دا ټولې خبرې د هغو ښځو لپاره ډېرې اسانې دي چا ته، چې الله ﷻ د دې چارو توفيق ورکړي؛ نو تاسې هم له الله ﷻ څخه د نېکو چارو توفيق و غواړئ او دا لوړ رتبه چارې راخپلې کړئ، چې الله ﷻ در باندې ولورېږي، د دنيا او اخرت نېکمرغي مو په برخه شي او پر هغه ځای ودرېږئ، چې دين اسلام درته د ودرېدو امر کوي.

د قرآن او سنتو پر حکمونو عمل کوئ، ځکه چې ته يوه مسلمانه ښځه يې او دا ستا لپاره د وياړ ځای دی، ته نه ګورې، چې څومره ښځې داسې دي، چې په کفري سيمو کې زېږېدلې دي، چې په ښه او بد پوه شوې؛ نو يا عيسويانې شوې، يا يهودنې او يا شيعه ګانې شوې دي او پر دې سربېره داسې ولسونه هم شته، چې د دين پر وړاندې په مخالفت کې ولاړ وي؛ خو الله ﷻ ته مسلمانه کړې يې او د محمد رسول الله ﷺ د امتۍ کېدو په وياړ يې وياړلې يې؛ د رسول الله ﷺ د سپېڅلو بيبيانو پر نقش و قدم د تلو لار يې درښودلې او ته ډېره نېکمرغه يې، چې الله ﷻ د پنځو لمونځونو وس دربښلی او ته له دې ځکه هم نېکمرغه يې، چې د رمضان مياشتې فرضي روژې نيسې، د بيت الله

(c) ketabton.com: The Digital Library


حج او پرده کوي او ستا تر ټولو لویه نېکمرغي دا ده، چې الله ﷻ دې په ربوبیت یانې خپل رب، اسلام دې خپل دین او محمد رسول الله ﷺ دې وروستی پیغمبر منلی.

**رڼا**

ستا سره زر ستا دین دی، ستا ګاڼه ستا اخلاق دي او شتمني دې ادب او شرافت دی.

**ځلا**

حَسْبُنَا اللهُ وَنِعْمَ الْوَكِيْلُ۝

ژباړه:

زموږ لپاره الله ﷻ کافي دی او هماغه ډېر ښه کار جوړوونکی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**څلورمه ګاڼه:**

**مسلمانه او نا مسلمانه ښځه سره نشي برابرېدای**

فما يدوم سرورٌ ما سررت به- ولا يردُّ عليك الغائب الحزَنُ

ژباړه:

که خوښي تل نه وي؛ نو په اندېښنو هم له لاسه وتلي شیان بېرته نه راستنیږي.

ته به هله نېکمرغه شې، که پر دې خبره دې سر خلاص شي، چې په اسلامي هېواد کې د مسلمانې ښځې مرتبه او په یوه کفري هېواد کې د نامسلمانې ښځې ارزښت وپېژنې، چې هغه څه ارزښت لري!؟

مسلمانه ښځه په یوه اسلامی هېواد کې د ایمان خاونده وي، روژې نیسي، د تهجدو لمونځونه کوي او خیراتونه کوي، له ګاونډیانو سره ښېګړه او پر خپلو بچیو شفقت کوي؛ نو وګورئ، چې داسې مسلمانه ښځه څومره نېکمرغه ده، څکه په هر پل ورته اجر، ثواب د الله ﷻ خوښي او د سکون شتمني ور په برخه کېږي.

د دې پر عکس په نامسلمانه هېوادونو کې له حقیقت نه ناخبره نامسلمانې ښځې د یو څو ټکو په خاطر خپله حیا تر پښو لاندې کوي، سره له دې چې حیا د ښځې ښکلا او ګاڼه ده؛ خو نامسلمانې ښځې له دې ارزښتونو سره د ناآشنایي له امله ځای پر ځای نمایش او ځان ښودنه کوي؛ نو داسې ښځه په لوی لاس خپل ارزښت له لاسه ورکوي، څکه چې عزت او شرافت نه لري.

که له دې دواړو طبقو ښځو ته ځیر شې؛ نو پوهه به شې، چې هم ته نېکمرغه او د لوړې مرتبې خاونده یې!

په دې اړه د قرآن کریم دې ایت ته ځیرې شئ!

(c) ketabton.com: The Digital Library


وَلَا تَهِنُوا وَلَا تَحْزَنُوا وَأَنتُمُ الْأَعْلَوْنَ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ

ژباړه:
بې زړه کېږئ مه، اندېښمن کېږئ مه، همدا تاسې لاسبري یاست که تاسې مؤمنان اوسئ.

**رڼا**

د هر انسان ژوند تېرېږي، هغه که په ښکلیو او دنګ ماڼیو کې اوسي او که په کوډلو کې؛ خو د پام وړ خبره دا ده، چې په د وی کې به نېکمرغه څوک وي؟

**ځلا**

الله الله ربي لا اشرک به شیئا
الله ﷻ زما رب دی او زه له خپل رب سره هېڅوک نه شریکوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**پنځمه ګامه:**

## لټي او سستي له ناکامۍ سره نه شلېدونکې اړيکې لري

زه تاسې ته سپارښتنه کوم، چې وزګارې مه کېنئ، د سستۍ او لټۍ ځادر له ځانه وغورځوئ، بلکې سر له اوس نه پاځئ، خپل کور راجوړ کړئ، خپلې چارې په ښه ډول ترسره کړئ، لمونځ او تلاوت وکړئ، کوم ښه کتاب مطالعه کړئ، يا له خپلې ملګرې او ګاونډۍ سره کېنئ او د دين په اړه ورسره هغه خبرې وکړئ، چې د الله ﷻ د نږدېکت لامل وي؛ نو ان شاء الله ځانونه به خوښ او نېکمرغه وانګېرئ.

فرض کړئ! زه بيا تاسې ته وايم، چې ځان د وزګارتيا منګولو ته مه سپارئ، ځکه وزګارتيا غمونه، اندېښنې او شکونه رازېږوي. خپله بڼه او صورت هم له پامه مه غورځوئ، بلکې ځان ښه پاک ساتئ په کورکې خوشبويي کاروئ، کورنۍ توکي پر خپل ځای په ترتيب سره ږدئ، له مېړه، بچيو او نورو خپلوانو سره ښه چار چلن کوئ.

همدا راز بله سپارښتنه درته دا کوم، چې ځانونه له ګناهونو وساتئ، ځکه ګناه د ټولو اندېښنو جرړه ده او په ځانګړي ډول له هغو ګناهونو نه ځانونه وساتئ، چې د ښځو ډېره برخه پکې ښکېله وي، لکه په بده سترګه نورو ته کتل، له کوره بهر خپل ډول ښکاره کول، له نامحرم (پردیو سړیو) سره په ټيليفون کې ناسته ولاړه کول، په خپلو منځونوکې لعنتونه ويل، يو بل ته پېغورونه او کنځاوې کول، غيبت کول، د مېړه نافرماني کول، د مېړه ښېګړو ته په سپکه سترګه کتل او داسې نور ګناهونه، چې اکثره ښځې په دې

(c) ketabton.com: The Digital Library


ګناهونوکې ښکېلې وي؛ خو ته له داسې ګناهونو نه ځان وساته او د الله ﷻ له غوسې نه وډار شه، ځکه الله ﷻ نه وېره به ستا د نېکمرغۍ لامل شي او الله ﷻ به درنه راضي شي.

**رڼا**

که د اندېښنو، ستونزو او مصیبتونو په ګرداب کې ښکېل شې؛ نو په لوړ غږ دا کلمه ووایه، چې (لا اله الا الله).

**ځلا**

فَصَبْرٌ جَمِيلٌ

ژباړه:

صبر ښه شی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



شپږمه ګاڼه

**ته تر میلیونونو ښځو غوره یې!**

که نړۍ ته وکتل شي؛ نو روغتونونه له ناروغانو ډک دي، چې هغوی کې څوک د یوې او څوک د بلې پېښې ښکار شوي او څوک د زړه پر ناروغۍ اخته دي. همدا راز بل لور ته زندانونه هم له خلکو ډک دي، چې له دنیوي خوند نه بې برخې پاتې دي که په نړۍ کې معذوره خلکو ته ګورې؛ نو ډېر خلک د معذورتیا ښکار دي، چې په خپلو استوګنځایونو کې هم ګرځېدای او راګرځېدای نشي. ځکه څوک په پښو شل دي. څوک په سترګو ړانده دي او څوک لېوني دي. د عقل له نعمت شخه بې برخې دي او په نړۍ کې داسې فقیران هم شته، چې که په تن روغ دي؛ نو په کوڅو او کنډوالو کې د بېوزلۍ شپې سبا کوي.

څه فکر کوې! ایا په نړۍ کې به داسې ښځې نه وي، چې په یوه پېښه کې یې ټول بچي مړه وي؟ (نن سبا خو بې شمېره داسې بېلګې شته په ځانګړي ډول د منځنۍ اسیا په اسلامي هېوادونو کې) یا د کومې ښځې سترګو او غوږونو کار پرېښی وي او یا یې لاس او پښو کار پرېښی وي او یا لېونۍ شوې وي او یا داسې بلې نه رغېدونکي ناروغۍ سره مخ شوې وي. سره له دې، چې ته په ټولو اندامونو روغه جوړه ښه خوندور ژوند تېروې؛ نو له دې امله ته باید پر خپل ژوند د الله ﷻ شکر وکړې او خپل ارزښتمن وخت په هغو چارو کې تېر نه کړې، چې الله ﷻ پرې خفه کېږي لکه د تلویزیون او کېبل په کتلو وخت بربادول او داسې چېنلو ته کتل، چې انسان د بدلمنۍ او لغړتوب لور ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



راکاږي او په زړونوکې غمونه او اندېښنې رازېږوي.

خو له دې امله پکار ده، چې خپل کور له تلویزیون او داسې نورو چټلیو نه پاک کړو، ځکه دا هغه فتنه ده، چې د ټولې نړۍ چټلتیا او چټل کولتور د انسان کور او ژوند ته راننباسي.

**رڼا**

تېرې کوونکې د قیامت ورځې ته پرېږده، ځکه هلته به یوازې د الله ﷻ ذات قاضي وي او پرېکړه به کوي.

**ځلا**

تل په تنګسې پسې اسانې وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**او ومه ګانه:**

## په جنت کې د ځان لپاره مانۍ جوړه کړئ

أطعْتُ مطامعي فاستعبدتني-ولو أني قنعتُ لكنتُ حُرًا

ژباړه:

زه په خپلو هیلو پسې تلم، ځکه د مریيتوب په لومه کې کنبېوتم، که د دې پر ځای مې قناعت خپل کړی وای؛ نو اوس به خپلواکه وم.

تاسې وګورئ، چې څومره ولسونه له دې نړۍ نه تللي دي ایا هغوی له ځان سره څه وړي دي؟ ایا هغوی له ځان سره دنګې او ښکلې مانۍ یوړې، چې دوی پکې عیش عشرت کاوه؟ ایا هغوی له خپلو سرو او سپینو سره ښخ شوي او که نه له یوه عادي کفن سره؟، نه بلکې له مرګ سره یې خپلوانو له واره د تن کالي هم ترې وویستل او په عادي کفن کې یې تر رانغښتو وروسته قبر ته ورښکته کړي دي او بیا هغوی ټول په قبر کې له دې پوښتنې سره مخ شوي، چې ستاسې رب (پالونکی) څوک دی؟، پیغمبر مو څوک او دین مو څه نومېږي؟؛ نو پکار ده، چې تاسې هم د هغې ورځې تیاری وکړئ او پر دنیوي شیانو مه خپه کېږئ، ځکه چې دا نړۍ ډېره بې ارزښته او فاني ده او له نېکو پرته هیڅ شی پاینښت نه لري، لکه چې الله ﷻ فرمایي:

مَنْ عَمِلَ صَالِحًا مِّنْ ذَكَرٍ اَوْ اُنْثٰى وَ هُوَ مُؤْمِنٌ فَلَنُحْيِيَنَّهٗ حَيٰوةً طَيِّبَةً ۚ وَ لَنَجْزِيَنَّهُمْ اَجْرَهُمْ بِاَحْسَنِ مَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ۝

ژباړه:

هر څوک چې ښه عمل وکړي، که هغه نارینه وي او که ښځه، په دې شرط چې مؤمن وي، پر هغه به موږ په دنیا کې سپېڅلی ژوند تېر کړو او (اخرت کې به) دغسې خلکو ته د هغو اجر له ډېرو ښو عملونو سره سم ورکړو.

**رڼا**

ناروغي یو داسې لوست دی، چې زړې پکې نغښتل شوی او روغتیا یوه ډېره لوړ بیه ګانه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library


**اتمه ګانه:**

**په لوی لاس خپل زړه مه خرابوه!**

إن كان عندك يا زمانُ بقيّةٌ -مما يُهان به الكرامُ فهاتِها !

ژباړه:

ای زمانې که له تا سره داسې څه پاتې وي، چې عزتمن سپکوي ﷺ نو رایې کړه. له دې امله پکار ده، چې له هر هغه شي ډډه وشي، چې وخت بربادوي، لکه ناروا انځورونه کتل، غیر اخلاقي ناولونه او یا د ملحد ډوله -خلکو کتابونه لوستل، بلکې د دې پر ځای ګټورو شیانو ته پام پکار دی، لکه دیني کتابونه او د اخلاقي ارزښتونو په ګاڼه سینګار اسلامي مجلې لوستل پکار دي، چې دنیا او اخرت پرې ښکلې کیږي، څکه د ځینو کتابونو په لوستتو د انسان په زړه کې شکونه راټوکیږي او دا د نامسلمانه ټولنو د هغو ناوړه کنولتورونو اغېز دی، چې نامسلمان هېوادونه یې رالېږي او له دې لارې په اسلامي هېوادونو کې د خپل ناوړه فکر د خپرولو هڅې کوي.

په هر حال د غیبو کنجیانې د اللهﷻ په واک کې دي او هماغه ذات غمونه او اندېښنې پر خوښۍ بدلولای شي او په دې لړ کې دا لاندینۍ دعا ډېره کارنده او ګټوره ده.

اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْهَمِّ وَالْحَزَنِ وَالْعَجْزِ وَالْكَسَلِ وَالْبُخْلِ وَالْجُبْنِ وَضَلَعِ الدَّيْنِ وَغَلَبَةِ الرِّجَالِ

صحيح البخاري ـ حسب ترقيم فتح الباري - (٧ / ٩٩)

ژباړه:

ای الله زه په تا پورې له غم، اندېښنو، کمزورۍ، لټۍ، بخل، بېږې زړه توب، د

(c) ketabton.com: The Digital Library



پور له ډېروالي او د خلکو له غوسې نه پنا غواړم.

که تاسې دا دعا ډېره غوښته؛ نو ان شاء الله، چې ستاسې ټول غمونه او اندېښنې به ختمې شي.

**رڼا**

په یوه ثانیه کې د تسبیحاتو زړی وکره، په یوه دقیقه کې غوره فکر وکړه او په یوه ساعت کې خپل کار بشپړ کړه!

**ځلا**

أَمَّنْ يُجِيبُ الْمُضْطَرَّ إِذَا دَعَاهُ وَيَكْشِفُ السُّوٓءَ

ژباړه:

څوک دی چې د بېکس بېوس دعا اوري کله چې هغه یې وبلي او څوک د هغه کړاو ایسته کوي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



**نهمه ګانه:**

**ستا معامله له هغه کريم او رحيم ذات سره ده.**

زه تاسې ته زېرى دركوم، چې الله ﷻ ستاسې لپاره ډېر غوره جنت او په هغې کې ډېر ښه نعمتونه تيار کړي دي، لکه چې الله ﷻ په قرآن کريم کې فرمايي:

فَاسْتَجَابَ لَهُمْ رَبُّهُمْ اَنِّيْ لَآ اُضِيْعُ عَمَلَ عَامِلٍ مِّنْكُمْ مِّنْ ذَكَرٍ اَوْ اُنْثٰى

ژباړه:

د هغو رب ورته په ځواب کې فرمايي: زه له تاسې نه د هيڅ يوه عمل نه ضايع کوم، که نارينه وي که ښځه.

الله ﷻ له ښځو سره هم د هغه نعمتونو ژمنه کړې ده، لکه چې له سړيو سره يې کړې ده او ښځې يې هم هماغسې ستايلي دي، لکه چې سړي يې ستايلي دي، لکه په لاندينې آيت کې الله ﷻ مؤمنې ښځې له مؤمنانو سړيو سره برابر ذکر کړي دي، چې:

اِنَّ الْمُسْلِمِيْنَ وَالْمُسْلِمٰتِ وَالْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُؤْمِنٰتِ

ژباړه:

بېشکه مسلمان نارينه او مسلمانې ښځې، مؤمنان نارينه او مؤمنې ښځې.

دا آيت ښکاره دليل دی، چې الله ﷻ په اجر او ثواب کې ښځو ته هم د سړيو هومره مرتبه ورکړې.

له دې امله پکار ده، چې تاسې هم پر نيکو او ښو چارو کلکې پاتې شئ، په کور او ټولنه کې ضرب المثل شئ او د خپل امت د زلميو لپاره غوره بېلګه او د نصيحت لامل شئ.

په خپل ژوندکې د اسيه بي بي (چې د فرعون ښځه وه) مريم، خديجې، عائشې، اسماء او د فاطمې رضی الله عنهن په څېر د ښځو پلیوني شئ، ځکه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه سپېڅلې هستۍ د ښېګړو بېلګې او داسې رېښتينې مؤمنانې وې، چې د ورځې به روژه وې او کرۍ شپه به يې په تهجدو روڼوله؛ نو که تاسې د هغوی لار تعقيب کړئ، تاسې به هم نېکمرغه او له خوښۍ ډک ژوند ولرئ

**رڼا**

د يتيم اوښکې پاکې کړه، چې د الله ﷻ خوښي او په جنت کې ځای ترلاسه کړې.

**ځلا**

اَلَيۡسَ الصُّبۡحُ بِقَرِيۡبٍ۝

ژباړه:

ايا سهار نږدې نه دی؟.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د مسلمانې ښځې د نیکمرغۍ لپاره لس

# امیلونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



**لسمه ګامه:**

## ته په هر حال بریالۍ یې!

زه په ټینګار سره درته وایم، چې له الله ﷻ نه د اجر او ثواب تمه ولرئ او که ته له کوم غم او یا اندېښنې سره مخ یې؛ نو پوهه شه، چې دا ستا د ګناهونو لپاره کفاره ده که الله ﷻ مه کړه کوم زوی دې مړ شي؛ نو پوهه شه، چې دغه مړ زوی به دې د قیامت په ورځ الله ﷻ ته سپارښت کوي، همدا راز که له هر ډول ستونزې سره مخ شې؛ نو د الله ﷻ له دربار څخه یې د اجر او ثواب تمه ولره، دغه ثواب به دې له الله ﷻ سره خوندي وي هغه وړه او که لویه ستونزه وي؛ نو الله ﷻ به یې درته په هماغه کچه اجر او ثواب درکوي، لکه د ولږې، تندې خپل اجر دی، د ناروغۍ پر هر اه او زګېروي درته خپل اجر درکول کېږي، ځکه د الله ﷻ پر وړاندې هیڅ عمل بېکاره نه ځي او ستونزې زغمل؛ خو ډېر لوی نېک عمل دی، چې دې ته صبر وایي او الله ﷻ د مؤمن د عملونو داسې ساتنه کوي، لکه چا چې له یوه دوست کره څه امانت پرېښی وي.

**رڼا**

په لمانځه سینه پراخېږي او له اندېښنو نه خوندي کېږي.

**ځلا**

فَخُذْ مَآ اٰتَيْتُكَ وَكُنْ مِّنَ الشّٰكِرِيْنَ۝

ژباړه:

نو څه چې زه درکړم هغه واخله او شکر ادا کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د نړۍ نېکمرغه ښځه

**لومړی امېل:**

**د الله لورېنې له یاده مه باسه!**

که ته سهار روغه جوړه له خوبه راپاڅې؛ نو شکر پرې وکړه، ځکه په زرګونو مصیبت ځپلیو ښځو هم دغه شپه سبا کړې؛ خو تا په خواږه خوب او هغوی پر زګېروو، همدا راز په زرګونو خوارو، بېوزلو او نېستمنو به هم د نني سهار وږانګې لیدلې وي؛ خو دغه ورځ به یې هم د یوې مړۍ ډوډۍ په ترلاسه کولو پسې لالهانده تېره شي، سره له دې چې له تا سره د حلالو او غوره خوړو څه کمی نشته.

همدا راز ځومره داسې ښځې به وي، چې په زندان کې شپې ورځې تېروي او ته د خپلواک ژوند خاونده یې، ځومره به داسې ښځې وي، چې لا تراوسه یې له سترګو اوښکې وچې نه دي او په سرو سترګو ژاړي، د ځومره میندو زړونه به په خپلو بچیو پسې کړېږي او ځومره بچي به خپلو میندو پسې ژاړي؛ خو ستا پر شونډو غوړېدلې موسکا، ایا دا ستا لپاره د شکر ځای نه دی!؟

کله په دې اړه په خپل ګرېوان کې لږ سوچ وکړه، چې الله ﷻ پر تا ځومره لورېدلی، ځکه شتمني، بچې، ښکلا، روغ بدن، په خپل هېواد کې اوسېدل، چې له مساپرۍ او کډوالۍ خلاصه یې، رڼا، اوبه، هوا، غوره خواړه او داسې نورې بې شمېره پېرزوینې یې درباندې کړې دي؛ نو له دې امله پکار ده، چې ته ځان تر ټولو نېکمرغه وګڼې، په خوښۍ او د موسکا په بدرګه د ژوند تېرولو هوډ وکړې.

**رڼا**

د یوې روپۍ په بدل کې د فقیر دعا او د مسکین مینه وپېره!

**ځلا**

که د الله ﷻ پر وېش خوښه شې؛ نو ته د نړۍ شتمنه ښځه کېدای شې!

(c) ketabton.com: The Digital Library



دويم اصل:

**لږ مال چې نېکمرغي پرې ترلاسه کېږي، له هغه ډېر مال نه غوره دی، چې بدمرغي ورسره مله وي**

ستا لپاره چې څومره ژوند ليکل شوی، هماغه د خوښيو، قناعت او د سکون ژوند دی؛ خو حرص او تمه نه يوازې ستاسې ژوند، بلکې ستاسې روغتيا، عافيت او ښکلا زيانمنوي؛ نو له دې امله پکار ده، چې د الله ﷻ خوښې پلټونکې اووسئ، پر هغه څه قناعت وکړئ، چې په لاس کې مو دي، پر تقدير ايمان او له راتلونکې ښې هيلې ولرئ.

تاسې بايد د شهدو د مچيو په څېر شئ، لکه چې هغه ښه شيان خوري او ښه پنځوي (پيدا کوي) که پر ګل کېني؛ نو ګل نه ماتوي، بلکې خپله غذا ترې خوري، په خوند کېني او له خوند سره الوت کوي.

**رڼا**

الله ﷻ له توبه کوونکيو سره مينه کوي، څکه توبه کوونکي الله ﷻ ته رجوع کوي؛ نو تاسې هم خپلې ګيلې هماغه ذات ته وکړئ!

**ځلا**

وَقَالُوا الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِيَ أَذْهَبَ عَنَّا الْحَزَنَ

ژباړه:

او دوی به ووايي، چې شکر دی د هغه الله ﷻ چې له موږ نه يې غم ايسته کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**درېيم اصل:**

**لوړ همت ولرئ!**

په لوړ همت د غره تر لوړو څوکو وخېژئ او په دې لړ کې تل هڅاندې اوسئ، ځکه چې ژوند له تاسې سره د څو لحظو لپاره امانت دی، په دغو څو لحظو کې ترې ډېر کار واخلئ، په صبر او هلو ځلو کې د مېړېانو پليوني شئ، لکه چې هغوی تل په هلو ځلو بوخت وي؛ نو تاسې هم له وزګارتيا نه ډډه وکړئ، ځکه وزګارتيا پر لتۍ او نېستۍ سربېره ډول ډول ناروغۍ رازېږوي.

همدا راز که کله له تاسې نه الله ﷻ مه کړه څه ګنا وشي؛ نو له واره ترې توبه وباسئ، قرآن مجيد په يادو زده کړئ، که درنه هېر شي؛ نو بيا يې زده کړئ، که بيا درنه هېر شي؛ نو بيا يې زده کړئ.

لنډه دا چې د ناکامۍ په انګېرلو همت مه بايلئ او ژوند د بدن په څېر دی، لکه چې په عملياتو سره بدن ښکلی کېدای شي؛ نو همداسې ژوند هم ښکلی او په زړه پورې کېدای شي او پر دې سربېره ژوند د کور په څېر دی، لکه رنګ شوی کور چې بېرته له سره رغېدای شي؛ نو همداسې ژوند هم تر خرابېدو وروسته بېرته ښه کېدای شي او ترخه يې پر خوږو بدلېدای شي.

زه بيا يو ځل تاسې د ناکامۍ له امله له همت بايللو ژغورم، پام چې په هيڅ صورت همت ونه بايلئ او له خپلو مغزو نه د ستونزو، انديښنو او ناروغيو اټکلونه لرې کړئ، ځکه چې الله فرمايي:

وَعَلَى اللهِ فَتَوَكَّلُوٓا اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ۝

ژباړه:

پر الله ﷻ ډاډه اوسئ که تاسې مؤمنان يئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**رڼا**

ګناه پرېښودل جهاد دی او پر ګناه کلک پاتې کېدل د جهاد ضد دی.

**ځلا**

وَبَشِّرِ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا

ژباړه:

او ای پیغمبره! کومو خلکو چې پر دې کتاب ایمان راوړ، هغوی ته زېری ورکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**څلورم اصل:**

**له ایمان سره کوډله تر هغې ماڼۍ غوره ده، چې کبر ورسره مل وي**

که یوه ښځه په کوډله کې اوسېږي؛ خو د خپل رب عبادت کوي، پنځه وخته لمونځ کوي او د روژې په مبارکه میاشت کې روژې نیسي؛ نو دا تر هغې ښځې ډېره نېکمرغه ده، چې په ښکلیو دنګو ماڼیو کې د پیاده ګانو په شتون کې په ویاړ او غرور کې ژوند تېروي.

همدا راز هغه مؤمنه ښځه، چې په کوډله کې اوسېږي، د عادي اوبو په څښلو ګوزاره کوي، په لاس کې یې قرآن کریم او تسبې وي؛ نو دا تر هغې ښځې زر ځله غوره او نېکمرغه ده، چې پر بخملي بستره خوب کوي؛ خو له خپل رب نه نا خبره او د سنتو له تابعدارۍ نه بې برخې وي.

له دې امله پکار ده، چې تاسې د نېکمرغۍ پر مانا وپوهېږئ، ځکه د نېکمرغۍ مانا هغه نه ده، چې تنګ زړو خلکو په خپل ذهن کې انځور کړې، یانې د هغوی په اند مال، دولت، دینوي شان و شوکت، ښه کور او ښه خواړه نېکمرغي ده؛ خو داسې نه ده، بلکې نېکمرغي د زړه خوښي، د وجدان سکون، د روح راحت، د عقل سالمیت او قناعت دی.

**رڼا**

داسې خلک کله راحت موندلای شي، چې مسلمان زوروي او یا پرې تېری کوي.

**څلا**

وَتَوَكَّلْ عَلَى الْحَيِّ الَّذِي لَا يَمُوتُ

ژباړه:

ای محمده ﷺ! پر هغه الله ﷻ توکل وکړه، چې ژوندی دی او هېڅکله مړ کېدونکی نه دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**پنځم اصل:**

## د خپلو چارو لپاره مهال وېش وټاکئ!

عسى الهم الذي أمسيتُ فيه- يكون وراءه فرجٌ قريبُ

ژباړه:

ما چې په کوم غم کې ورځ بېګاه کړه کاش! چې د دغه غم تر شا نصرت نږدې وای.

د کوم ګټور کتاب پر لوستو ځان وازموئ او یا د قرآن په تلاوت د ځان جاج واخلئ، ځکه کېدای شي د قرآن کریم کوم آیت پر تا اغېز وکړي، ویده احساس دې راويښ کړي او د همغه آیت له برکته هدایت او رڼا ترلاسه کړې، چې له امله یې ستا اندېښنې، شکونه او د نهیلۍ سیوري د تل لپاره درسره خدای په اماني وکړي.

که تاسې د خپل خواږه پیغمبر محمد رسول الله ﷺ سپېڅلي حدیثونه مطالعه کړئ؛ نو درته په ډاګه به شي، چې روغتیا ښښونکی درمل او ګټور علم هماغه دی، چې له امله یې ځان له ګمراهۍ نه وژغورلای شئ، ځکه چې ستا درمل په قرآن او سنت کې دي، ستاسې راحت په ایمان کې، د سترګو یخوالی په لمانځه کې او د زړه سلامتیا مو په خوښۍ کې، سکون په قناعت کې، ښکلا په موسکا کې، عزت مو په پرده کې او ډاډ مو د الله ﷻ په ذکر کې نغښتی دی.

**رڼا**

تل د بېوزلو له ښېرو نه ځان ساته!

**ځلا**

لِّكَيْلَا تَأْسَوْا عَلَىٰ مَا فَاتَكُمْ وَلَا تَفْرَحُوا بِمَا آتَاكُمْ

ژباړه:

(دا هر څه د دې لپاره دي) چې تاسې ته که هر زیان وي، پر هغه باندې زړه ماتي نشئ او څه چې الله ﷻ تاسې ته درکوي، پر هغه ونه غوړېږئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د نړۍ نېکمرغه ښځه

**شپږم اصل:**

### زموږ نېکمرغي څه بل ډول ده

سيُعافى المريضُ بعد سُقامٍ- ويعودُ الغريبُ بعد غيابِ

ژباړه:

ناروغ به صحت وموميي، بې درکه شوی به بېرته راستون شي.

که تاسې ته څوک وايي، چې ډرامې، له بې حيايۍ نه ډکې مجلې او فلمونه کتل د خوښۍ او نېکمرغۍ لاملونه دي؛ نو دا درته دروغ وايي، څکه دغه ټول شيان د بدلمنۍ کيلي ګانې دي د نهيلۍ لارې د غم او اندېښنو دروازې دي او دا د هغه چا رېښتينې خبرې دي، چې پر دروغو لارو يې خپل ژوند تېر کړی؛ خو په پای کې يې ترې توبه کړې؛ نو تا ته هم پکار ده، چې له دغو شيانو او دغو لارو ځان وساتې، چې له نېغې لارې مو اړوي تاسې د قرآن مجيد تلاوت خپله مشغولا وګرځوئ، داسې ګټور کتابونه مطالعه کړئ، چې په لوستو يې ستاسې غمجنې سترګې له اوښکو پاکې شي او جاري صدقو ته ډېره پاملرنه وکړئ، رېښتينې توبه وکړئ، چې الله ﷻ مو ګناهونه دروښښي او ستاسې زړونه له سکون او خوښۍ ډک کړي.

**رڼا**

په روغ زړه کې شرک، بې ايماني او حسد نه وي.

**څلا**

رَبِّ اشْرَحْ لِي صَدْرِي ﴿٢٥﴾

ژباړه:

پروردګاره! زما سينه راته پراخه کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**اووم امېل:**

**د خلاصون په بېړۍ کې سپره شه!**

يا إله الكونِ قد أسلمتُ لك- ربِّ فارحم ضعفنا ما أرحمك

ژباړه:

ای پالونکیه! ما ځان تا ته سپارلی دی، زما پر کمزورۍ ولورېږه، ځکه چې ته ډېر رحیم یې.

ما د ډېرو سندر غاړو هلکانو او نجونو کیسې لوستلي دي او ډېره د خواشینۍ خبره ده، چې روږه دارې، عبادت کوونکي سړي او ښځې څه شوې؟ ایا دا لنډ او تنګ ژوند دومره پراخه شوی، چې په ګناهونو یې ولړئ او د لېوانو په څېر یې برباد کړئ.

ایا تاسې پر دې دنیوي ژوند سربېره بل ژوند لرئ؟ پر دې ورځو سربېره نورې کومې ورځې شته؟

ایا تا څه د مرګ مرۍ په غاړه کړې؟

چې نه به مرې او خاورو ته به نه ورځې؟ قسم په الله ﷻ که داسې وي، بلکې دا دروغجنې هیلې، هسې وهم او ګومان دی، له دې امله ته باید له ځان سره حساب وکړې او چټک ګامونه واخلې، چې د خلاصون له کاروان سره مله شې او د خلاصون په بېړۍ کې سپره شې.

**رڼا**

عقلمن دې ته وایي، چې دښته ښېرازه کړي.

**ځلا**

مرسته تل له اندېښنو سره وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د نړۍ نېکمرغه ښځه

**اتم امېل:**

### سجده د نېکمرغۍ کیلي ده

ولستُ أری السعادة جمع مالٍ- ولکنَّ التقيَّ هو السعیدُ

ژباړه:
زما په اند نېکمرغي د مال راټولول نه دي، بلکې پرهېزي ریښتینې نېکمرغي ده.

په ننني نوټ کې لومړی مخ د سهار لمونځ دی، تاسې خپله ننۍ ورځ د سهار په لمانځه پیل کړئ او تر دې وروسته ځان الله ﷻ ته وسپارئ؛ نو هله به الله ﷻ تاسې له هر ډول اندېښنو خوندي کړي او د نېکیو لار به درته وښیي او له ټولو بدیو به مو وساتي او الله ﷻ ستاسې لپاره هغه ورځ کله هم نه برکتناکه کوي، چې تاسې د دغې ورځې د پیل یانې د سهار لمونځ نه وي کړی، ځکه چې د قبولیت لومړۍ نښه او د بریالیتوب د کتاب لومړنی عنوان همدا شی دی او هغه ښځه ریښتینې نېکمرغه ده، چې د سهار لمونځ یې په ښه ډول کړی وي او هغه ښځه ډېره تاواني ده، چې د سهار لمانځه ته یې هیڅ ارزښت نه وي ورکړی.

**رڼا**

بې ځایه او بې ګټې جر و بحث د مخ نور کموي.

**ځلا**

اَلَمۡ نَشۡرَحۡ لَكَ صَدۡرَكَ۝

ژباړه:
(ای پیغمبره!) ایا موږ ستا سینه ستا لپاره پرانښتله؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



نهم اصل:

## بوډۍ ښځه

تاسې هم د هغې بوډۍ ښځې په څېر هوډ منې او روغه عقیده ولرئ، چې زوی یې له حجاج بن یوسف سره بندي و او هغه یې د وژلو پرېکړه کړې وه؛ نو دغې ښځې ورته وویل، چې ای حجاجه! که ته مې زوی ونه وژنې؛ نو هم به یوه ورځ مري، د تل لپاره ژوندی نه پاتې کېږي.

او یا د هغې فارسۍ ښځې په څېر شئ، چې چېرته په سفر وتله؛ نو خپله کوډله او چرګ، چورګوړي هر څه یې پرېښودل او الله ﷻ ته یې د دعا لاسونه لپه کړل، چې ای الله ﷻ ته زما د کوډلې او چرګانو حفاظت وکړې، ځکه ته تر ټولو ستر او غوره ساتندوی یې.

او یا د خنساء رضي الله عنها په څېر استقامت ولرئ، چې د څلورو زامنو په شهادت یې همت و نه بایله او د الله ﷻ شکر یې پر ځای کړ او د زامنو شهادت یې د ځان لپاره وياړ وباله.

دا هم ستاسې په څېر ښځې وې، چې د دومره لوړې مرتبې خاوندانې شوې، چې تاسې یې تر ننه کیسې لولئ او که تاسې د دوی لار تعقیب کړئ؛ نو تاسې هم د راتلونکیو نسلونو لپاره غوره بېلګه کېدای شئ!

## رڼا

د پرخې له سپکوالي ګټه پورته کړئ، لکه چې هغه څومره سپکه او بې وزنه وي، تاسې هم هغسې شئ! د مشکو له خوشبو او د غره له ثابت قدمۍ نه زده کړه وکړئ او هماغسې ثابت قدمې اوسئ!

## څلا

وَلَا تَهِنُوا وَلَا تَحْزَنُوا وَأَنْتُمُ الْأَعْلَوْنَ إِنْ كُنْتُمْ مُؤْمِنِينَ

ژباړه:

بې زړه کېږئ مه، اندېښمن کېږئ مه، همدا تاسې برلاسي یاست که تاسې مؤمنان اوسئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**لسم اصل:**

## ته د نړۍ ښکلې ښځه کېدای شې

وكلُّ الحادثاتِ وإن تناهتْ- فموصولٌ بها فرجٌ قريبُ

ژباړه:

دنیوي ستونزې که څومره هم سترې او ګرانې وي؛ خو مرستې هم ورسره ملې وي.

ته د خپلې ښکلا له امله تر لمر هم ډېره ځلانده یې، ته د خپلو ښو اخلاقو له امله تر مښکو هم ډېره ارزښتمنه یې او د خپلې عاجزۍ له امله تر سپوږمۍ لوړه یې؛ نو پکار ده، چې پر خپل ایمان سربېره خپل قناعت او پرده وساتې.

یاد ولره، چې ستا ګاڼه سره، سپین، لعل او جوهر نه دي، بلکې د تهجد دوه رکعته لمونځ، د روژې تنده او هغه پټه صدقه، چې یوازې الله ﷻ پرې خبر وي او پر دې سربېره هغه اوښکې، چې ګناهونه مینځي، هغه اوږده سجده، چې د الله ﷻ د تعظیم لپاره وي او له الله ﷻ نه هغه حیا، چې د شیطان له وسوسو نه دې ساتي، ستاسې ریښتینې ګاڼه ده؛ نو راشئ او د پرهېزګارۍ په زړه پورې او زړه راښکونکې جامه په تن کړئ؛ نو ته به د نړۍ ښکلې ښځه شې، که څه هم زړې جامې دې په تن وي، همدا راز د حیا بورقعه په سر کړه، ځکه چې ته د نړۍ ښه ښځه یې، که څه هم د پښو کولو لپاره غوره پیزار نه لرې او تل نامسلمانو او ګناهګارو ښځو ته په دې نظر ګوره، چې دوی د دوزخ سکروټې دي.

**رڼا**

تاسې ته به د ژوند ټول ګوټونه تیاره ښکاري؛ خو دغه تیاره ګوټونه په خپله رڼا راڼه کړه.

**ځلا**

د سهار تر بیدارېدو وروسته د ماښام انتظار مه کوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**لومړۍ مرغلره:**

**ای د لوړې مرتبې خاوندې!**

رُبَّ أمرٍ تتقیه- جرَّ أمراً ترتجیه

ژباړه:

کله نا کله داسې هم کېږي، چې له څه شي نه ډارېږې هماغه ستا لپاره ګټور تمام شي او هغه ښېګړې له ځان سره راوړي، چې ستا ډېرې خوښې وي.

ای ربښتینې مسلمانې ښځې! ای د الله ﷻ لور ته راګرځېدونکې مؤمنې ښځې، ته باید د خرما د ونې په څېر شې. لکه چې هغه له چټلۍ لوړه وي او که څوک تیږه ورګوزار کړي؛ نو له بره نه ورته مېوې راوروي، په اوړي او ژمي دواړو کې شنه او ګټوره وي.

ای مسلمانې ښځې! ته هم ځان له لغویاتو او چټیاتو نه په ساتلو سره لوړ مقام ترلاسه کړه او له هر هغه شي ځان وساته، چې ستا فطري شرم او حیا زیانمنوي، ته باید ذکر خپلې خبرې وګرځوې او په چوپتیا کې ښه فکر وکړې، خپل نظر د عبرت او پند لپاره وکاروې؛ نو هله به نېکمرغي، راحت او په ټولنه کې قبولیت ترلاسه کړې، خلک به دې په ښه نامه یادوي او ربښتینې دعاګانې به یې له تا سره ملې وي (په دې مانا، چې ټول مسلمانان په لمانځه کې نېکانو خلکو ته دعاکوي او وایي ((السلام علینا و علی عباد الله الصالحین))، یانې پر ما او پر ټولو نېکانو دې سلامتیا وي او کله، چې ته نېکه ښځه وې؛ نو د ټولو مسلمانانو په دعاګانو کې یاده شوې، الله تعالی به ستا له سره د اندېښنو وریځې او د غمونو غرونه لرې کړي، د مؤمنانو د دعا له

(c) ketabton.com: The Digital Library



برکته به ته خوښ او سوکاله ژوند ولرې او هله به درته په ډاګه شي، چې نېکمرغي د شتمنۍ په راټولولو کې نه، بلکې د الله ﷻ په طاعت کې ده او همدا راز نېکمرغي په ښکلې جامه کې نه، بلکې د خلکو په خدمت کې نغښتې ده.

**رڼا**

له ځانه مه نهیلې کېږه! په ژوندکې به له داسې ستونزو سره مخ شې، چې همت به دې ځواب درکړي؛ خو ته باید دغه ستونزمن حالات او ستونزې پر ځان لاسبرې نه کړې!

**ځلا**

ادْعُونِيٓ أَسْتَجِبْ لَكُمْ

ژباړه:

ما وبولئ زه به ستاسې دعاوې قبولې کړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دویمه مرغلره:**

**نعمت قبول کړه او په خپلو چارو کې یې ولګوه!**

د الله تعالی نعمتونه له شکر او اطاعت سره په خپلو چارو کې ولګوه، په دې مانا، چې پر اوبو شکر وکړه، ویې څښه، اودس پرې وکړه او پرې ولامبه.

د لمر په تودوښه ځانونه تاوده کړئ او له شنو باغونو مېوې راټولې کړئ، دریابونو ته ګورئ او د ځمکې سیل کوئ او پر دې هر څه د هغه مالک قهار ذات شکر کوئ.

الله ﷻ د خپلو نعمتونو په لورولو سره تاسې سره ښېګړه کړې؛ نو تاسې باید له دغو نعمتونو نه ګټه پورته کړئ: خو پام چې د دغو نعمتونو تکذیب او ناشکري ونه کړئ، ځکه الله ﷻ فرمایي

يَعْرِفُونَ نِعْمَتَ اللهِ ثُمَّ يُنْكِرُونَهَا

ژباړه:

دوی د الله ﷻ ښېګڼه پېژني، بیا ورڅخه منکرېږي.

د ونې اغزو ته تر ځیر کېدو مخکې یې مېوو ته ځیر شئ او د هغې ښکلا په پام کې ونیسئ او مخکې له دې، چې ته د لمر له تودوښې ګیله وکړې باید له رڼا نه یې ګټه پورته کړې او مخکې له دې، چې د شپې په تروږمۍ کې زړه تنګې شې باید د شپې سکون او ارام په پام کې ونیسې.

ته همېشه ولې په نهیلۍ، بدګومانۍ او په بده سترګه هر څه ته ګورې؟ ته ولې د فطرت قانون بدلول غواړې؟

الله تعالی فرمایي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



اَلَمْ تَرَ اِلَى الَّذِيْنَ بَدَّلُوْا نِعْمَتَ اللّٰهِ كُفْرًا

ژباړه:

تا هغه خلک ولیدل، چې هغوی د الله ﷻ نعمت ومونډ او هغه یې د نعمت په ناشکرۍ سره بدل کړ.

د الله ﷻ لورینې راخپلې کړه او شکر پرې وکړه.

## رڼا

د تېروتنو د اصلاح لارې چارې که اوږدې هم دي؛ خو بیا هم په زړه پورې دي.

## ځلا

لَا تَقْنَطُوْا مِنْ رَّحْمَةِ اللّٰهِ

ژباړه:

د الله ﷻ له رحمت نه مه ناهیلي کېږئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دریمه مرغلره:**

## په استغفار سره روزي پراخېږي

أجارتنا إن الأماني كواذبٌ-وأكثر أسباب النجاح مع اليأسِ

ژباړه:

ای زما ګاونډې هره تمنا دروغجنه وي - خو اکثره بریاوې په نهیلیو کې نغښتې وي.

یوې ښځې د ګیلې په توګه وویل، چې په دېرش کلنۍ کې کونډه شوم په داسې حال کې، چې پنځه بچي راپه غاړه وو، د مېړه په مرګ مې ژو ند تیاره شو، په ژړا ژړا مې نږدې سترګې ړندې شوې وې، نهیلیو پسې واخیستم او غمونو رانه غېږه راتاوه کړه، ځکه چې بچي مې واړه وو، لا د ګټې وټې نه وو په مېراث راپاتې مال مو په ډېر احتیاط لګاوه او په دې اندېښنو مې شپې او ورځې تېرېدې، بله ورځ مې راډیو ولګوله، د راډیو ستن پر یوه اسلامي خپرونه وربرابره شوه، په خپرونه کې یو عالم د نبيﷺ د خولې دا مبارک حدیث بیاناوه: څوک چې استغفار ډېر وايي؛ نو الله ﷻ به یې له اندیښنو او تنګسو راوباسي د دې حدیث په اورېدو مې سره له بچو استغفار وظیفه کړ؛ نو قسم په الله، چې لا شپږ میاشتې نه وې تېرې شوې، زموږ په زاړه کور د سرک نقشه راغله او دولت له موږ نه هغه بېکاره کور په ډېره لوړه بیه وپېره ، چې له دې امله په میلونونو روپۍ لاسته راغلې، مشرې زوی مې استاذ شو، کور مو له خوښیو ډک شو، سوکالي او نېکمرغي مو په برخه شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ونا**

که نهیلی پسې واخیستې؛ نو نه به دې څه له لاسه کېږي او نه به نېکمرغه شې.

**څلا**

إِنَّهُۥ لَا يَاْيْـَٔسُ مِن رَّوْحِ ٱللَّهِ إِلَّا ٱلْقَوْمُ ٱلْكَٰفِرُونَ ۝

ژباړه:

بې شکه، چې د الله ﷻ له رحمت څخه کافر ولس نهیلي کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


**څلورمه مرغله:**

## دعاګانې د بلاګانو مخه نیسي

قد يُنْعِمِ الله بالبلوى وإن عظُمت- ويبتلي الله بعض القومِ بالنعمِ

ژباړه:

کله الله ﷻ د يو چا لپاره مصيبت نعمت ګرځوي او د ځينو خلکو لپاره نعمت مصيبت وګرځوي.

زما د يوه عابد (عبادت کوونکي) ملګري ښځه د کينسر په ناروغۍ اخته شوه، په داسې حال کې، چې درې زامن يې درلودل او دنيا له خوښۍ سره سره پر دوی راتنګه شوه.

په دې حالاتو يوه عالم دې ته وهڅاوه، چې د شپې د تهجدو په لمانځه کې دعا او استغفار غواړه، د زمزم اوبه دموه او پر خپله ناروغه ښځه يې څښنه، زما ملګري همداسې کول پيل کړل؛ نو الله ﷻ د ده د دعا له برکته د دوی غمونه او انديښنې په خوښيو بدلې کړې، څکه چې ښځې او مېړه دواړو به په ګډه د سهار له لمانځه تر لمر ختو پورې او ماښام نه تر ماخوستنه پورې دعاګانې او استغفار (ښښنه) غوښته او د زمزم دم کړې اوبه به يې پر ښځه څښلې؛ نو الله تعالی يې ښځه له وروستۍ ناروغۍ نه جګه جوړه کړه، څکه له الله تعالی پرته بل هېڅوک شفا ورکوونکی نشته او نه له هغه پرته بل څوک د عبادت وړ دی؛ نو راځي خويندو او ميندو يوازې همدې الله تعالی ته د دعا لاسونه لپه کړو او خپلې ستونزې پرې هوارې کړو، څکه دا هر څه د الله تعالی په واک کې دي نه د يوه نوم ورکي ولي او بزرګ په لاس کې.

ای زما خورې! که ناروغه شې؛ نو د الله تعالی لور ته خپل پام راواړوه، توبو او استغفار ته زور ورکړه او له الله ﷻ نه ښه تمه ولره، څکه الله ﷻ توبه قبلوونکی

(c) ketabton.com: The Digital Library



او د مصيبتونو لرې کوونکی دی، لکه چې فرمايي:

اَمَّنۡ يُّجِيۡبُ الۡمُضۡطَرَّ اِذَا دَعَاهُ وَ يَكۡشِفُ السُّوۡٓءَ

ژباړه:

څوک دی چې د بېکس بېوس دعا اوري، کله چې هغه يې وبلي او څوک د هغه کړاو ايسته کوي؟

**رڼا**

د خپل تېر او راتلونکي جاج واخلئ، ځکه چې ژوند پر تجربو ولاړ دی.

**ځلا**

وَكَانَ بِالۡمُؤۡمِنِيۡنَ رَحِيۡمًا ۝

ژباړه:

هغه پر مؤمنانو ډېر مهربان دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**پنځمه مرغلره:**

**له لټۍ او نهیلۍ نه ځان وساتئ!**

والحادثات وإن أصابك بؤسُها– فهو الذي أنباك كيف نعيمُها

ژباړه:

که تاسې د ستونزو له امله د نهیلۍ ښکار شوي یاست؛ نو دې پلو ته یې هم وګورئ، چې د ستونزو زغملو اجر هم ډېر لوی دی.

د یوې ښځې یواځینی او نازولی زوی په څه تور دولت ونیو؛ نو مور یې ډېره اندېښمنه وه ان تر دې، چې د شپې خوب یې پسې ورک شو او په ژړا ژړا یې د اوښکو چینې وچې شوې؛ نو الله ﷻ یې پر ژبه دا ذکر جاري کړ:

لاحول ولاقوة الا بالله

هغې ښځې دا ذکر وظیفه کړ، بله ورځ یې دروازه وټکېده، چې دروازه یې پرانسته ګوري، چې زوی یې مخې ته ولاړ دی؛ مور د زوی په لیدو له خوښۍ وغوړېده. همدا راز کومه ښځه چې خپلې هیلې په الله ﷻ پورې وتړي؛ نو الله ﷻ یې ټولې چارې سموي؛ نو له دې امله پکار ده، چې ته هم د الله ﷻ ذکر وظیفه کړې او په دې سره خپل غمونه له ځانه وشړې او له اندېښنو سره د تل لپاره خدای په اماني وکړې او له الله ﷻ نه د خوښۍ او مرستې تمه ولرې، ځکه چې د الله ﷻ ذکر ډېره لویه شتمني او د نېکمرغۍ زېرىنده ده؛ خو دا خبره په پام کې ولرئ، چې نهیلۍ ته په خپل زړه کې ځای ورنه کړئ، ځکه چې تر هرې ستونزې تنګسې وروسته اساني وي او دا د الله ﷻ نظام دی.

**رڼا**

د ژوند پاڼې په ستومانتیا او اندېښنو مه ډکوه، ځکه دا ستا او د نېکمرغۍ ترمنځ خنډ کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**شپږمه مرغلره:**

**ستا کور د عزت او مینې ټاټوبی دی**

قل هو الرحمنُ آمنّا به- واتبعنا هادياً من يثربِ

ژباړه:

ورته ووایه، چې موږ پر هغه رحمن ذات ایمان راوړی او د مدني لارښود پلیوني شوي یو.

ای زما خوږې خورې!

ته د خپل کور له انګړ نه بې ضرورته بهر پښه مه ږده، ځکه چې ستا نېکمرغي او درنښت په کور کې دی، نه په بازار کې او الله ﷻ هم په دې اړه تا ته فرمایي:

وَقَرْنَ فِي بُيُوتِكُنَّ

ژباړه:

په خپلو کورونو کې مېشتې اوسئ.

هغه سپکې او بې ارزښته ښځې وي، چې له اړتیا پرته له کوره بهر په بازارونو کې ګرځي، نوي نوي مودونه راخپلوي او د زمانې له رفتار سره مزل کول غواړي او د هر نوي بازاري شي په اړه معلومات ترلاسه کول غواړي؛ خو د دین د زده کړې څه پروا نه لري؛ نو دا څه ژوند نه دی، بلکې په لوی لاس خپل ارزښت له لاسه ورکول او د ځان سپکول دي، ځکه ژوند؛ خو یوازې دې ته نه وایي، چې ښه وخوره، ښه واغونده او ښه په مستۍ ژوند تېر کړه، بلکې ژوند د یوې سترې موخې لپاره له موږ سره امانت دی او هغه ستره موخه د الله ﷻ خوښي ده او دا هله شونې ده، چې د هغه د رالېږلي پیغمبر محمد رسول الله ﷺ په طریقه ژوند تېر کړی شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما پتمنې خورې!

کور د خوښيو، د امن او سوکاليو ځای، د مينې او سلامتيا منزل دی، کور ته په سپکه سترګه مه ګوره او د خپل کور لپاره د ښيګړې بنسټ شه!

**رنا**

خپل راز هغه چا ته مه وايه، چې سمه لار نه درښيي.

**ځلا**

په حديث شريف کې دي، چې د مؤمن هر کار د اريانتيا وړ دی، ځکه د ده هر کار له خيره ډک وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**اوومه مرغلره:**

**ته د بې ګټو چارو لپاره وخت نه لرې**

البدر يضحك والنجوم تصفّقُ-فعلام تقتلنا الهمومُ وتخنقُ ؟!

ژباړه:

سپوږمۍ خاندي او ستوري ورته چکې وهي؛ نو موږ ولې ځانونه له مرېيو ونيسو.

د راتلونکي په اړه جګړه کول او د هغې پلټنه پرېږدئ، ځکه چې په دې کار زړه تنګېږي او پر خلکو د داسې خبرې منلو کوښښ مه کوئ، چې خلک يې په اړه بېلابېل نظرونه لري او پکار ده، چې په داسې حالاتو کې ته له زوږ پرته په نرمه لهجه خپل نظر وړاندې کړې او ځان له نيوکې وساتې، ځکه که د دې په عکس کار وکړې، ياني په ستغه لهجه پر خلکو د خپلې خبرې د منلو هڅه کوې؛ نو ذهني سکون به دې درې وړې شي او د خلکو په ذهنونو کې به بده انځوره شې او ته هله د خلکو زړونو ته لار پيدا کولای شې، چې په خوږه ژبه خپل نظر نورو ته ځرګند کړې او پر دې سربېره ځانونه له غيبت نه وساتئ، ځکه چې د غيبت په کولو زړه غمجنېږي، ګنا درباندې پېټې کېږي، له زړه نه ډاډ او سکون وځي؛ نو له دې امله پکار ده، چې پردۍ نيمګړتياوې پلټل پرېږدئ او خپلو نيمګړتياوو ته ځير شئ، ځکه چې هر انسان له نيمګړتياوو ډک دی او دا بېله خبره ده، چې پردۍ نيمګړتياوې درته ښکاري او خپلې نه؛ خو نېکمرغه هغه څوک دي، چې خپلې نيمګړتياوېويني او د سمون کوښښ يې کوي.

**رڼا**

که د کومې مور زوی له لوږ ځايه راپرېوځي؛ نو په چيغو او سورو دې خپل وخت نه خرابوي، بلکې دغه وخت دې د خپل بچي په درملنه ولګوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**اتمه مرغلره:**

**که ته ښه شوې؛ نو ټوله نړۍ به دې هر کلی کوي**

أتحسبُ أن البؤس للمرء دائمٌ- ولو دام شيءٌ عدَّه الناسُ في العجبْ

ژباړه:

ته څه فکر کوې، چې پر انسان راځپرې شوې اندېښنې به د تل لپاره وي، که دا د تل لپاره وای؛ نو خلکو به نا اشنا ګڼلې.

ژوند ته د مینې او تمې په سترګه ګوره، ځکه چې ژوند د الله ﷻ له خوا یوه ډالۍ ده او د الله ﷻ له خوا دغه ډالۍ قبوله کړئ او په خوښۍ ژوند تېر کړئ، سبا صادق له هغې ښکلا او شپه له هغه سکون او وقار سره قبوله کړئ، چې الله ﷻ پکې ایښې دی، د ساه په راښکلو له هوا نه خوښي، خوند او ښکلا ترلاسه کړئ.

ژوند ته د عبرت په سترګه وګوره او د الله ﷻ په دې پراخه ځمکه له پراخه نعمتونو نه ګټه پورته کړه، ته نه ګورې، چې دا خوشبویه ګلان، شبنم، شنه باغونه، د لمر تودوخه، د سپوږمۍ رڼا او داسې نور ټول د الله ﷻ لورنې دي، چې پر موږ یې لورولي دي او موږ ترې ګټه اخلو، دا چې الله ﷻ پر موږ دومره بې شمېره نعمتونه لورولي دي؛ نو پکار ده، چې د همغه ذات بنده ګي وکړو او د هغه د راضي کولو کوښښ وکړو.

پام چې! غمونه او اندېښنې دې په مخه نه کړي که نه؛ نو د الله ﷻ نعمتونه به دې له سترګو پنا شي او الله ﷻ دغه نعمتونه ځکه پر تا لورولي، چې د هغه په بنده ګۍ کې درسره مرستندویه شي.

الله ﷻ فرمايي:

يَٰٓأَيُّهَا ٱلرُّسُلُ كُلُوا۟ مِنَ ٱلطَّيِّبَٰتِ وَٱعْمَلُوا۟ صَٰلِحًا

ژباړه:

ای پیغمبرانو! پاک شیان وخورئ او نیک عمل وکړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## رڼا

تر ټولو ښه سخا د هغه چا ده، چې هیڅ نه لري؛ خو د نرمو الفاظو او د موسکا په ارزښت پوهیږي او ډېر داسې خلک به هم تاسې لیدلي وي، چې هره خبره یې دومره ستغه وي ته به وایې، چې په مخ څپېړې درکوي.

## ځلا

وَمَنْ يَتَّقِ اللَّهَ يَجْعَلْ لَهُ مَخْرَجًا ۝

ژباړه:

څوک چې له الله ﷻ نه په وېرېدو کار وکړي الله ﷻ به د هغه لپاره له ستونزو نه د وتلو کومه لاره پیدا کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**نهمه مرغلره:**

**د هیڅ چا لپاره نېکمرغي او ښېګړې بشپړې نه دي**

اطردي الهمَّ بذكر الصَّمدِ- واهجري ليل الهوى وابتعدي

ژباړه:

غمونه او اندېښنې د الله ﷻ په ذکر له ځانه وشړه او د شپې له ناوړه خیالاتو نه لرې وتښته.

ـکه ته دا فکر کوې، چې ژوند به ما ته لاربښوونه کوي او په ژوند کې به مې ټول ارمانونه تر سره کېږي، له هیڅ ډول ستونزې سره به نه مخ کېږم؛ نو دا ستا تېروتنه ده، ځکه چې دنیوي ژوند له ازمېښتونو ډک دی، په دې کې به ته ارومرو له ناروغۍ، مصیبت او داسې نورو حالاتو سره مخ کېږې؛ خو له صبر نه به کار اخلې او په خوښۍ به يې زغمې او دا خبره له خپلو مغزو وباسه، چې ګوندې تل به روغه جوړه يې او له هیڅ ډول ناروغۍ سره به نه مخ کېږې، یا به ټول عمر همداسې شتمنه يې او کله به هم له نېستۍ سره نه مخ کېږې او یا به له ستونزو سره له مخ کېدو پرته نېکمرغه شې او یا به دې داسې مېړه درپه برخه شي، چې هیڅ نیمګړتیا دې ونه لري، بلکې داسې نشي کېدای.

پکار ده، چې ته خپل عادت داسې راجوړ کړې، چې په هر شي کې د نیمګړتیاوو پلټلو پر ځای د هغه ښکلا او ښېګړې په پام کې ونیسې.

تاسې ته زما سپارښتنه دا ده، چې له راتلونکې نېکې هیلې او پر الله ﷻ ښه ګومان ولرئ او په هر حالت کې الله ﷻ ته رجوع وکړئ او له هغه نه سوال وکړئ، ځکه هر څه د هغه په وس کې دي او له الله ﷻ پرته هېڅوک چا ته نه ښه او نه بد رسولای شي؛ نو بیا ولې دغه لوی ذات پرېږدئ او له یوه داسې کس نه غوښتنې کوئ، چې هغه خپله اړ دی او له تاسې سره هیڅ مرسته نشي کولای، «سره له دې که هغه څومره هم نېک بنده او د الله ﷻ ولي دی؛ خو

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا هم مړی دی او په خاورو کې پروت دی او د الله ﷻ له حساب کتاب سره مخ دی او ستاسې دعاګانو ته اړ دی)، لکه چې الله فرمايي:

اِنَّهُمْ لَنْ يُّغْنُوْا عَنْكَ مِنَ اللّٰهِ شَيْـًٔا

ژباړه:

د الله ﷻ په مقابل کې هغوی تا ته هيڅ په درد نشي خوړلای.

## رڼا

پر دې خبره کله هم مه خوښېږه، چې ستا د ژوند کوم ګوټ دې تياره وي، ځکه چې رڼا شته؛ خو يوازې د رڼا تنۍ پلټل پکار دي، چې په کېکاږلو يې تيارې په رڼاګانو واوړي.

## خلا

وَمَنْ يَّتَّقِ اللّٰهَ يَجْعَلْ لَّهٗ مِنْ اَمْرِهٖ يُسْرًا ۝

ژباړه:

څوک چې له الله ﷻ نهووېرېږي، الله ﷻ يې په کار کې هغه اسانتياوې پيدا کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د نړۍ نېکمرغه ښځه

اسمه مرغلره:

### د پوهې او معرفت شنو باغونو ته ورننوځه

أيها الشامت المعيِّر بالدهرِ- أأنت المبَّرأُ الموفورُ ؟

ژباړه:

ای زمانې ته کنځل کوونکې! ایا ته دا غواړې، چې ته دې یوازې ښه ژوند ولرې؟

د نېکمرغۍ یو لامل د دین زده کړه ده، ځکه چې د دین په زده کړې سره سینه پراخېږي او د الله ﷻ خوښي پرې تر لاسه کېږي، لکه چې رسول الله ﷺ فرمايي:

الله چې چا ته د خیر اراده وکړي؛ نو په دین کې پوهه ورپه برخه کړي.

پکار ده چې ته هم ګټور کتابونه، لکه رياض الصالحين، د قرآن کریم اسان تفسیرونه او دیني مجلې مطالعه کړې، چې پوهه دې ډېره شي؛ خو دا خبره له یاده مه باسئ، غوره علم هغه دی، چې عمل ورسره مل وي او د الله ﷻ او د هغه د استازي موخه پرې وپېژني.

راځه سر له ننه د قرآن کریم په زده کړه او ښوونه پیل وکړه او له خپل دین او شریعت سره ځان اشنا کړه، ځکه چې له دین سره د نا اشنایۍ له امله پر زړونو تیارې راخورېږي او سینې تنګېږي؛ نو له دې امله پکار ده، چې ته په کور کې د خپل وس اړوند یو کتابتون ولرې او خپل ارزښتمن وخت هسې په بې ګټو چارو، لکه د سندرو، فلمونو او د ناوړه مجلو په لوستو خراب نه کړې، ځکه چې له تاسې سره د دې هرې لحظې حساب کېږي؛ نو پکار ده، چې خپلې ارزښتمنې شېبې د الله ﷻ د خوښۍ د تر لاسه کولو لپاره په کار واچوئ.

**رڼا**

له لویې نه لویه ستونزه هم د یوه هوډمن انسان په وړاندې هیڅ نه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د مسلمانې ښځې د ظاهري او باطني ښکلا لپاره لس ښکلي غمي

(c) ketabton.com: The Digital Library



**لومړی غمی:**

**د هغوی په اړه فکر وکړی، چې سترګې یې له اوښکو ډکې او زړونه یې زخمي دي**

ألم تر أن الليل لما تكاملت - غياهبُه جاء الصباحُ بنوره

ژباړه:

ته نه وینې چې کله شپه پخه شي؛ نو د سهار زېړی له ځان سره راوړي.

که تاسې فکر کوئ، چې له زمانې سره مو وعده کړې چې ستاسې هر ارمان به پوره کوي او تاسې به خوشحاله ساتي؛ نو تاسې د اندېښنو پر لار د اندېښنو ملګرتیا پرېږدئ؛ نو کله چې تاسې له ستونزو سره مخ شئ او یا کوم ارمان مو ترسره نشي؛ نو مه خپه کېږئ! دا معلومه خبره ده، که زمانه ستاسې کومه هیله پوره کړي؛ نو د زمانې خلک به ستاسې په خوښۍ ناخوښ وي او همدا دستور د ادم ﷺ له زمانې راهیسې راروان دی او د ټولو لپاره همدا یوه تګلاره ده، که څوک په مانۍ کې وي او که په جونګړه کې.

نو تاسې هم اندېښنې شا ته وغورځوئ، خپلې اوښکې پاکې کړئ، ځکه چې ته لومړۍ ښځه نه یې، چې زمانې د خپلو تېریو هدف ګرځولې وي، بېشکه چې ستاسې دا ستونزې او اندېښنې به د دنیا د کتاب په لومړي مخ نه لیکل کېږي.

**رڼا**

په تېرو ګناهونو اوبه واړوئ، دا فکر وکړئ چې د هغو بدله په نېکیو څنګه پوره کړئ.

**خلا**

د ستونزو پر مهال له زړه څخه رېښتینې دعا وغواړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوېم غمی:

**هغه له سره نېکمرغه نه ده!؟**

اشتدي أزمةُ تنفرجي- قد آذن ليلُك بالبلج

ژباړه:

مصيبت که څومره هم ګران شي او تر عروجه ورسېږي؛ نو بیاهم زائله کېږي او ستا شپه نوره سبا کېدونکې ده.

شپه نور خپل کالي کنډولي رانغاړي په تلو ده او سبا په رارسېدو دی؛ نو ته هغه چا ته مه ګوره، چې په فېشن او بدخرڅۍ کې لګیا دي، ځکه د دغسې کسانو په لېدو سره زړونه خوشحالېږي نه، بلکې لاپسې غمجنېږي.

همدا راز ځینې خلک داسې هم وي، چې په خپلو هیلو او خوندونو پسې ځغلي او په دې لړ کې بې کچه لګښتونه کوي او په، هر حال د خپلو ارمانونو ترسره کول غواړي او د دې فکر ورسره نه وي، چې دا به حرام وي که حلال؛ خو بس ترلاسه کول یې غواړي؛ نو دا ډول خلک له سره نېکمرغه نه دي، ځکه که تاسې دې ډول خلکو ته ځیر شئ؛ نو وبه ګورئ، چې دوی د غمونو او اندېښنو په ګردابونو کې راښکېل دي، ځکه چې خوښي او نېکمرغي په دین او قناعت کې نغښتې ده او دا ډول خلک نه دین پېژني او نه قناعت؛ نو په داسې حال کې دوی کله نېکمرغه کېدای شي؟؛ خو دا چې تاسې ته له ورایه ښکلي او خوښ ښکاري؛ نو دا تاسې ته د شیطان خپور کړی دام دی، چې د هغوی په څېر تاسې هم پکې نښلول غواړي.

د دې په عکس تاسې به ډېر داسې بېوزله خلک لیدلي وي، چې په زړو کودلو، کېږدیو او په خاورینو کورونوکې اوسېږي؛ خو په ماڼیو کې له اوسېدونکیو نه ډېر نېکمرغه او خوښ ژوند تېروي، سره له دې، چې نه یې په

(c) ketabton.com: The Digital Library



تن وربښمینې جامې وي او نه په بخملي بسترو کې خوب کوي.

همدا راز هره هغه مؤمنه فقیهه او عبادت کوونکې ښځه زر ځلې له هغې ښځې نه ښه او نیکمرغه ده، چې د دین دښمنانو په خوښه ژوند تېروي.

**رڼا**

نیکمرغي په تاسې کې پټه پرته ده؛ نو پکارده، چې د رابرسېره کولو لپاره یې هلې ځلې وکړئ.

**ځلا**

فَاعْلَمْ اَنَّهٗ لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ

ژباړه:

ښه وپوهېږه، چې له الله ﷻ پرته بل هېڅوک د عبادت وړ نشته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**درېيم غمی:**

**د الله تعالی لار تر ټولو غوره ده!**

ربما تجزعُ النفوسُ لأمرٍ - ولها فرجةٌ كحلِّ العقالِ

ژباړه:

کله ناکله د غمونو او اندېښنو له امله د انسان زړه تر مورګو راډک شي، سره له دې، چې د الله ﷻ مرسته ورته په دومره واټن کې وي، لکه چې سړی یوه غوټه پرانیزي.

نېکمرغي څه ته وايي؟ ایا د دنیا ګټلو ته یې وايي؟ په حسب او نسب کې نېکمرغي نغښتې ده؟ د دې پوښتنو ځوابونه سره بېلابېل دي؛ خو له ځواب نه مخکې د هغې ښځې نېکمرغۍ ته ځیر شئ!

یوه ښځه او مېړه سره په جنګ شو؛ نو مېړه ښځې ته وویل، چې زه به دې ژوند تنګ کړم، ښځې په ډېره خوږه لهجه ځواب ورکړ، چې ما نشې تنګولای، ځکه چې که نېکمرغي په مال کې وای؛ نو هغه به دې رانه اخیستې وای، که په ګاڼه کې وای؛ نو هغه به دې رانه په زور اخیستې وای؛ خو هسې نه ده، ځکه نېکمرغي په ایمان کې ده او ایمان مې په زړه کې دی او د زړه واکوال مې له الله ﷻ پرته بل څوک نشي کېدای.

دا هماغه رېښتینې نېکمرغي ده، چې له هغه چا پرته پرې نور څوک نه پوهېږي د چا په زړه او مغزو کې، چې د الله رېښتینې مینې ځای نیولی وي، ځکه چې د نېکمرغۍ رېښتینی مالک الله رب العزت دی؛ نو د هغه په اطاعت نېکمرغي ترلاسه کېږي.

د نېکمرغۍ د ترلاسه کولو یکې یوه لار ده، هغه دا چې پر دین ځان سم پوه کړې او د هغې اړوند عمل وکړې، نه دا چې تا ویلې ما ویلې پسې روانه شې، بلکې د هغه دین تابع شې، چې له محمد رسول الله ﷺ نه په صحیح سند سره نقل وي او که چا دا لار راټینګه کړه؛ نو که دا د سر سیوری هم نه لري او

(c) ketabton.com: The Digital Library



دري وخته په مړه ګېډه ډوډۍ هم نه وررسېږي؛ خو بیا هم نېکمرغه دی او د زړه خوښي یې په برخه ده؛ خو که څوک د دې په عکس روان دی؛ نو هغه که د ژوند ټولې اسانتیاوې په واک کې ولري؛ خو بیا هم د یوه بدمرغه ژوند خاوند دی، چې د زړه خوښي یې نه ده په برخه شوې، بلکې زړه یې د غمونو او اندېښنو استوګنځای دی او اخرت یې هم خراب دی.

**رڼا**

موږ، مال او شمنې، ته د ژوند تېرولو لپاره اړتیا لرو؛ خو د دې مانا دا نه ده، چې موږ د مال راټولولو لپاره ژوندي یو.

**ځلا**

اللّٰهُمَّ اني اسئلك العفو و العافية

ژباړه:

اې الله ﷻ! زه له تا نه بښنه او روغتیا غواړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library


**خلورم غمی:**

**کله، چې ټولې لارې وتړل شي.....**

إذا ضاق بك الأمرُ-  ففكرْ في أ لم نشرحْ

ژباړه:

**که زړه تنګي وانګېرې؛ نو د (الم نشرح) سورة تفسير وګوره!**

علامه ابن القيم رحمه الله فرمايي، چې يو ځل څه خبرې اندېښمن کړم؛ نو ډېر يې زړه تنګی کړم او د دغې زړه تنګۍ له امله غمونو راکره واړول؛ نو زه به تل په دې فکر کې وم، چې څنګه ترې ځان خلاص کړم، بيامې دا آيت فکر ته راغی:

وَمَن يَتَّقِ اللَّهَ يَجْعَل لَّهُ مَخْرَجًا ۝

ژباړه:

څوک چې له الله ﷻ نه په وېرېدو کار وکړي الله ﷻ به د هغه لپاره له ستونزو نه د وتلو کومه لاره پيدا کړي.

د دغې آيت تر لوستو وروسته پر دې پوه شوم، چې له هرې تنګسې نه د خلاصون يواځينۍ لار تقوی ده؛ نو ما هم د تقوی لپاره هلې ځلې پيل کړې او د دې هلو ځلو په پايله کې الله ﷻ زه له ټولو اندېښنو راخلاص کړم.

زه وايم، چې د هوښيارانو په اند تقوی د هرې نېکۍ زېږنده ده، ځکه چې مصيبتونه د ګناهونو زېږنده دي، يانې د ګناهونو له امله پر انسانانو مصيبتونه راځي او تر هغې مصيبتونه، نه ختمېږي، چې انسان له هغې ګناه توبه ونه کاږي د کومې له امله، چې دغه مصيبت پرې نازل شوی وي.

دا چې هره اندېښنه او تنګسه د ګناهونو پايله ده، چې له انسان نه شوي وي، لکه په لمانځه کې سستي د مسلمانې ښځې غيبت (يانې د چا داسې نېمګړتياوې، چې هغه يې په ښکاره کېدو خپه کېږي د هغه په نشتوالي کې يادول او که د هغه نيمګړتيا نه وي او ته يې ورپورې تړې؛ نو دا بهتان دی او

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا له غیبت نه غټه ګناه ده او (۸۰) اتیا دورې به هم پرې وهل کېږي؛ او د داسې نورو ګناهونو پایله ده او که څوک د الله ﷻ نافرماني کوي؛ نو د هغې سزا خو به ګالي او بل دا، چې نېکمرغي الله ﷻ پیدا کړې او د دې لپاره یې خپل شرطونه ټاکلي دي؛ نو که چا په دغو شرطونو ژوند تېراوه، الله ﷻ نېکمرغي ورپه برخه کوي؛ خو که چا له دغه قیوداتو نه سرغړونه کوله او خپل سرى ژوند یې کاوه؛ نو په دنیا کې به بدمرغه لنډ او تنګ ژوند ولري او په اخرت کې به له دردناک عذاب سره مخ وي، الله ﷻ دې ترې موږ او تاسې وساتي امین!

### رڼا

خپل سوچ له ناوړه ښځو څخه لرې وساته او خپل فکر د بریالیتوب پرلور بوځه!

### څلا

په یوه قدسي حدیث کې دي، چې زما بنده پر ما څنګه ګومان کوي؛ نو زه یې هم د هغه دګومان اړوند ورکوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**پنځم غمی:**

**هره ورځ لوړې وګنه!**

إذا غامرت في شرفٍ مرومٍ- فلا تقنع بما دون النجوم

ژباړه:

که د غره په لوړه څوکه جنګېږې؛ نو د ستورو له لوړوالي پرته بل څه مه قبلوه!

له الله ﷻ نه دلرې والي په صورت کې له بې لارۍ پرته نور څه نشي ترلاسه کولای او دا لا څه، چې د عقل څواکمنتیا، ښکلا، د پوهې او معرفت په څېر نعمتونه به درته نصیب شي؛ نو له دې امله الله ﷻ انسان له بدو پایلو نه ډاروي، لکه یو څوک پر سرک روان دی، له ورایه یو ګاډی ویني، چې ډېر په چټکۍ د ده پر لور راروان دی، د ګاډي په رانږدې کېدو انسان داسې انګېري، چې ګوندې ګاډی پرې نور راخېژي؛ نو په دې وخت کې د سرک څنډې ته ټوپ وهي او ځان خلاصوي؛ نو همدا راز الله ﷻ هم خپل بنده له ناوړه پایلونه په ډارولو سره سمې لارې ته رابولي، لکه چې فرمایي:

فَفِرُّوٓا۟ إِلَى ٱللَّهِ ۖ إِنِّى لَكُم مِّنْهُ نَذِيرٌ مُّبِينٌ ۝

ژباړه:

نو ورمنډه کړئ د الله ﷻ خوا ته، زه ستاسې لپاره د هغه له خوا ښکاره خبرداری درکوونکی یم.

ښځې ته پکار دي، چې کله د الله ﷻ لور ته وګرځي، ځان ته وګوري، ځان له نفساني او شیطاني خیالاتو پاک کړي او خپل ژوند په دغه ډول راجوړ کړي؛ نو په دې ډول به له خپل الله ﷻ سره د بیا ځل لپاره اړیکه ټینګه او تړاو پیدا کړي او د دې دعا په غوښتو دې ورسره نوی تړون لاسلیک کړي:

اللَّهُمَّ أَنْتَ رَبِّي لاَ إِلَهَ إِلاَّ أَنْتَ خَلَقْتَنِي وَأَنَا عَبْدُكَ وَأَنَا عَلَى عَهْدِكَ وَوَعْدِكَ مَا اسْتَطَعْتُ أَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ مَا صَنَعْتُ أَبُوءُ لَكَ بِنِعْمَتِكَ عَلَيَّ وَأَبُوءُ بِذَنْبِي

(c) ketabton.com: The Digital Library



اغْفِرْ لِي فَإِنَّهُ لاَ يَغْفِرُ الذُّنُوبَ إِلاَّ أَنْتَ

صحيح البخاري حسب ترقيم فتح الباري - (٨ / ٨٣)

ژباړه:

ای الله ﷻ ته زما رب يې له تا پرته بل الله نشته، تا زه پيدا کړی يم او زه دې بنده يم او زه د خپل توان په کچه ستا پر لوظونو او وعدو ټينګ يم، د خپلو کړو له شر نه په تا پورې پنا غواړم، تا ته ستا د نعمتونو او زما د ګناهونو له امله در ګرځم؛ نو ما ته ګناهونه وبښه، ځکه له تا پرته څوک ګناهونه نشي ښښلای.

**رڼا**

که په کوم کار کې درنه کمی يا زياتی وشي؛ نو ځان د نهيلۍ ځپو ته مه سپاره او مه دوه زړی کېږه، ځکه چې نهيلي او دوه زړه توب هغه نيمګړتيا نشي بشپړولای.

**ځلا**

په حديث شريف کې دي، چې له چا سره د موسکا په بدرګه مخ کېدل صدقه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د نړۍ نېکمرغه ښځه

شهرم غمی:

**ښځې په تکه توره شپه کې د سپوږمۍ او ستورو د رڼا په څېر دي.**

وإن ألمت صروفُ دهرٍ- فاستعنِ الواحدَ القديرا

ژباړه:

که د زمانې په مصیبتونو کې رانښکېل شې؛ نو له هماغه واحد او قادر ذات نه مرسته وغواړه!

نېکه او مسلمانه ښځه هماغه ده، چې د الله ﷻ تر اطاعت وروسته د خپل مېړه اطاعت او ښه چلن ورسره کوي او رسول الله ﷺ هم داسې ښځه ستایلې او مثالي یې بللې او سړیو ته پکار دي، چې د داسې ښځو لټون وکړي، همدا راز رسول الله ﷺ وپوښتل شو، چې په ښځو کې تر ټولو غوره ښځه هماغه ده، چې مېړه یې په لیدو خوښي وانګېرې، د مېړه هره خبره په ورین تندي مني، د مېړه په مال او ځان کې خیانت نه کوي.

کله، چې دا لاندینی آیت نازل شو:

وَالَّذِينَ يَكْنِزُونَ الذَّهَبَ وَالْفِضَّةَ

ژباړه:

او هغه خلک چې سره او سپین زر خزانه کوي.

نو عمر ﷛ په منډه د رسول الله خوا ته په داسې حال کې ورغی، چې ثوبان ﷛ هم ورپسې و.

عمر ﷛ عرض وکړ، چې ای د الله ﷻ رسوله! د دې آیت په نازلېدو سره ستا پر ملګرو ډېر بوج پرېوتی؛ نو رسول الله ﷺ ورته وفرمایل، چې ایا تا ته داسې خزانه درونه ښییم، چې د انسان لپاره تر هر څه غوره وي؟ عمر ﷛ عرض وکړ، چې ای د الله ﷻ رسوله ضرور یې راو ښییه!؛ نو رسول الله ﷺ وفرمایل، چې غوره خزانه هغه نېکه ښځه ده، چې مېړه یې په لیدو خوشحاله شي او که څه امر ورته وکړي؛ نو په ورین تندي یې اطاعت وکړي او د مېړه په

(c) ketabton.com: The Digital Library



نشتوالي کې د کور او مال ساتندویه وي.

همدا راز نبي کریمﷺ د مېړه خوښي د ښځې لپاره جنت ته د تلو شرط ټاکلی، لکه چې ام سلمهؓ وایي، چې رسول اللهﷺ فرمایلي دي:

که کومه ښځه په داسې حال کې مړه شي، چې مېړه ترې خوښ وي؛ نو دا به ارومرو جنت ته ځي.

له دې امله پکار ده، چې تاسې هم خپل مېړونه خوښ وساتئ او د خپلو مېړونو په خوښۍ کې نېکمرغي او تر مړینې وروسته جنت ترلاسه کړئ!

**رښا**

ستا لپاره په لومړي کتار کې ځای شته؛ خو په دې شرط، چې په هر کار کې پخوالی او کمال ترلاسه کړې.

**ځلا**

خوښي دې په برخه کېږي، ځکه چې ځمکه ګرځي؛ نو پر تا به هم د خوښۍ وار راشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اووم غمی:

## له حرامو نه مرگ ښه دی

ولا تجزعْ وإن أعسرت يوماً- فقد أيسرت في الزمن الطويلِ

ژباړه:

له یوه ورځ دربانديې څه مصیبت راغی؛ نو پرېې مه خپه کېږه، ځکه چې د هغه یوې ورځې مصیبت له امله به اوږد مهالی راحت وگټې.

په حدیث شریف کې دي، چې په تېرو زمانو کې درې کسان د توند باران له امله یوې سمڅې ته ورننوتل، په دې کې له غره نه یو گټ راورغښت او د غار خوله یې وروتړله، دا چې د خلاصون بله لاره نه وپاتې؛ نو درېواړو د خپلو نېکو چارو په وسیله له الله ﷻ نه دعاگانې غوښتل پیل کړې، په دې کې یوه وویل:

ای الله ﷻ! زما د تره یوه لور وه، چې ما ته ډېره گرانه وه، ما به ترې د زنا غوښتنه کوله؛ خو هغې به انکار کاوه، بله ورځ څه اړتیا راخیستې وه او ما ته راغله، له ما نه یې د پیسو غوښتنه وکړه؛ نو ما په دې شرط یو سلو شل (۱۲۰) دیناره ورکړه، چې زما هغه تېره غوښتنه به مني، جینۍ خواره اړ وه؛ نو غاړه یې کېښوده؛ خو کله چې د زنا په تکل ورنږدې شوم؛ نو جینۍ راته وویل چې له الله ﷻ نه وډار شه او زما پاکه لمنه مه داغجنوه!

دا چې هغه جینۍ له مخکې نه پرهېزگاره وه او تل به یې د تره زوی له بدکارۍ نه ژغوره او نېستۍ بدکارۍ ته اړ کړه؛ خو د بدکارۍ په وخت بیا خپل ایمان رابیداره کړه او خپل تره زوی یې له الله ﷻ نه ووېراوه او د هغه کس پام یې هم د توبې پر لور راوگرځاوه.

هغه کس د سمڅې له مصیبت نه د خلاصون لپاره خپل نېک عمل وسیله

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړ، چې ای الله ﷻ ستا د وېرې له امله زه له هغې ګناه نه راستون شوی وم که دغه هر څه مې ستا د رضا لپاره کړي وي؛ نو موږ له دې مصيبت نه خلاص کړه، لنډه دا چې درېواړو خپل خپل نېک عملونه الله ﷻ ته وسیله کړل؛ نو الله ﷻ د سمڅې له خولې نه هغه کمر ایسته کړ او دوی ته یې خلاصون ورویاښه!

**رڼا**

ځان په ستونزمنو حالاتو کې هم له ثابت قدمۍ سره اشنا کړئ؛ نو ټولې ستونزې به مو خپله هوارې شي.

**څلا**

ستا ژوند ستا د فکر پر بنسټ ولاړ دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



الم نشرح:

## رڼا ګانې

إني رأيتُ – وفي الأيام تجربة – للصبرِ عاقبةً محمودةَ الأثرِ

(پاره،

له تجربې او مشاهدې نه دا کوچ په لاس راغله، چې د صبر مېوه خوږه ده.

الله ﷻ فرمايي:

سَيَجۡعَلُ اللَّهُ بَعۡدَ عُسۡرٍ يُسۡرًا

(پاره،

لېرې نه ده، چې الله ﷻ تر تنګلاسۍ وروسته پراخي هم ورپه برخه کړي.

همداشان په بل ځای کې فرمايي:

يَٰٓأَيُّهَا الَّذِينَ ءَامَنُوا اصۡبِرُوا وَصَابِرُوا وَرَابِطُوا وَاتَّقُوا اللَّهَ لَعَلَّكُمۡ تُفۡلِحُونَ

(پاره،

ای مؤمنانو! له زغم نه کار واخلئ، د باطل پرستانو په مقابل کې مېړانه وښيئ، د حق د خدمت لپاره ملا ټينګه وتړئ او له الله ﷻ نه وېرېدونکي اوسئ، هيله ده چې بری ومومئ.

د بقرې په سورة کې فرمايي:

وَبَشِّرِ الصَّٰبِرِينَ الَّذِينَ إِذَآ أَصَٰبَتۡهُم مُّصِيبَةٞ قَالُوٓا إِنَّا لِلَّهِ وَإِنَّآ إِلَيۡهِ رَٰجِعُونَ

(پاره،

هغو کسانو ته زېری ورکړه چې په دې حالاتو کې صبر وکړي او د مصيبت راتللو په وخت کې ووايي چې 'موږ د الله ﷻ يو او د هماغه الله ﷻ لوري ته زموږ ورګرځېدل دي'

په دې اړه د شورى په سورت کې فرمايي:

وَهُوَ الَّذِي يُنَزِّلُ الۡغَيۡثَ مِنۢ بَعۡدِ مَا قَنَطُوا وَيَنشُرُ رَحۡمَتَهُۥ

(پاره،

(c) ketabton.com: The Digital Library



هماغه ذات دی، چې د خلکو له ناهیلي کېدو نه وروسته باران اوروي او خپل رحمت خوروي.
همدا راز د صبر په اړه په الزمر سورت کې فرمايي:
اِنَّمَا يُوَفَّى الصّٰبِرُوْنَ اَجْرَهُمْ بِغَيْرِ حِسَابٍ ۝
ژباړه:
صبر کوونکيو ته به خپل اجر بې حسابه ورکړ شي.
په دې لړ کې الله ﷻ په قرآن کريم کې د يونس ؑ دعا راخيستې ده:
اَنْ لَّآ اِلٰهَ اِلَّآ اَنْتَ سُبْحٰنَكَ ۖ اِنِّيْ كُنْتُ مِنَ الظّٰلِمِيْنَ ۝
ژباړه:
نشته بل معبود مگر ته يې، پاک دی ستا ذات، بېشکه ما لنډون وکړ.
وګورئ د قرآن دغه آيتونه تاسې دې ته رابولي، چې نېکمرغه او ډاډمن شئ؛ نو پکار ده، چې د الله ﷻ پر ژمنو باوري شئ؛ او الله ﷻ خپل مخلوق د دې لپاره نه دی پيدا کړی، چې په عذابونو کې يې ښکېل وساتي، بلکې د ازمېښت، تهذيب او د ادب ورزده کولو لپاره يې پيدا کړي، ځکه چې الله ﷻ پر خپل بنده باندې تر اويا ميندو هم ډېر شفقت کوونکی دی؛ نو پکار ده، چې د دغه الله ﷻ په ذکر، شکر د قرآن کريم په تلاوت او د سنتو په تابعداری ځانونه د رحم او لورينې وړ وګرځوو.

**رڼا**

که ځانونه مخکې له مخکې د غمونو او اندېښنو زغملو ته چمتو کړئ؛ نو ښې پايلې به ولرئ.

**ځلا**

د ښځو لپاره همدومره وياړ بس دی، چې ښځو پيغمبران زېږولي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د نړۍ، د نیکمرغۍ

# بنځې لپاره د جنت

# لس

# خوږ بویه

# ډالۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



نهم غمی:

**د رحمن ذات په پېژندګلوۍ اندېښني له منځه ځي.**

إذا صحَّ منك الودُّ فالكلُّ هيِّنٌ-وكلُّ الذي فوق التراب ترابِ

ژباړه:

ای پالونکیه! که تا سره مې مینه پیدا شوه؛ نو د نور هیڅ شي پروا نه لرم، ځکه دا هر څه، چې د خاورو پر سر دي دا خاورې کېږي.

الله ﷻ زښت ډېر سخي او مهربانه دی، ځکه چې خپل بنده ته یې د هغه له غوښتنې نه هم ډېره ورکړې او له ډېرو ګناهونو نه هم ورسره تېرېږي، لکه چې الله ﷻ فرمايي:

يَسْـَٔلُهُۥ مَن فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۚ كُلَّ يَوْمٍ هُوَ فِى شَأْنٍ ﴿٢٩﴾

ژباړه:

په اسمانونو او ځمکه کې چې هر څوک دي ټول خپلې اړتیاوې له همغه نه غواړي، هره شېبه هغه په نوي شان کې دی.

قدرمنو خوېندو!

الله ﷻ د داسې قدرت خاوند دی، چې په یوه وار د ټول مخلوق دعا او فریاد اوري او ټول مخلوق ویني، د خپل مخلوق پر ستونزو خبر دی او په بیا بیا غوښتنو د مخلوق په څېر خوا بدی کېږي نه، بلکې لا پرې خوشحالېږي او د دعا په نه غوښتو له انسان نه خپه کېږي هم.

الله ﷻ ډېر پرده پوښ ذات دی، پر انسان پرده اچوي؛ خو انسانان خپله ځانونه بې پردې کوي الله ﷻ پر انسانانو شفقت کوونکی ذات دی؛ خو انسانان خپله پر ځانونو تېري کوونکي دي؛ نو دا به څنګه زړه وي، چې له داسې ذات سره دې هم مینه نه کوي، ځکه چې همدا ذات د ښېګړو رامنځته کوونکی او

(c) ketabton.com: The Digital Library



بدګړې له منځه وړونکې دی او له ده پرته بل څوک د دعاګانو قبلوونکی، ګناهونو ښښونکی او پرده پوښ نشته.
همدغه الله ﷻ ډېر لوراند او قدرمن ذات دی. همده ته لاسونه لپه کېږي او پر همدې الله ﷻ توکل کېږي.

**رڼا**

د نېکمرغۍ ترلاسه کول کلک هوډ غواړي.

**ځلا**

ضَرَبَ اللهُ مَثَلًا لِّلَّذِيْنَ كَفَرُوا امْرَاَتَ نُوْحٍ وَّ امْرَاَتَ لُوْطٍ ؕ كَانَتَا تَحْتَ عَبْدَيْنِ مِنْ عِبَادِنَا صَالِحَيْنِ فَخَانَتٰهُمَا فَلَمْ يُغْنِيَا عَنْهُمَا مِنَ اللهِ شَيْئًا وَّ قِيْلَ ادْخُلَا النَّارَ مَعَ الدّٰخِلِيْنَ ۝ وَ ضَرَبَ اللهُ مَثَلًا لِّلَّذِيْنَ اٰمَنُوا امْرَاَتَ فِرْعَوْنَ

ژباړه:

الله ﷻ د کافرانو په باب د نوح ؑ او لوط ؑ مېرمنې د مثال په توګه وړاندې کوي، هغوی زموږ د دوو صالحو بندګانو مېرمنې وې، خو هغوی له خپلو مېړونو سره خیانت وکړ او دوی د هغو لپاره د الله ﷻ په مقابل کې هیڅ په درد.ونشو خوړلای: دواړو ته وویل شول چې ځئ اور ته ننوتونکیو سره تاسې هم لاړې شئ او د مؤمنانو په باب الله ﷻ د فرعون د ښځې مثال وړاندې کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اسم ضمې:

## برکتناکه ورځ

واصبرْ إذا خطبٌ دهى-يأتِ الإلهُ بالفرجْ

ژباړه:

د مصیبت پر مهال له صبر نه کار واخله؛ نو الله ﷻ به خپله مرسته درسره مله کړي.

د سهار په لمانځه پسې قبلې ته مخ کړې کېنه! په عاجزۍ او زارۍ له الله ﷻ نه دعاګانې، برکتناکه او ښه ورځ غواړه، چې نیکمرغي او بریالیتوب ورسره مل وي او له الله ﷻ نه د ورځې په پیل کې داسې ورځ غواړه، چې له اندېښنو او مصیبتونو نه خالي وي او پاتې ورځ پر دنیوي چارو سربېره په دیني چارو، لکه لمونځ او تلاوت کې بوخته کړه، که خپله قرآن کریم نشې لوستلای؛ نو د یل خوږ غږي قاري سي ډي او کیسټ ځانته ولګوه او هغې ته غوږ کېږده، ځکه د قرآن کریم لوستل او اورېدل دواړه ثواب لري او له زړونو نه ګرد او زنګ لرې کوي او کله، چې زړونه له ګرد او زنګ نه پاک شي؛ نو خپله له خوښۍ او ډاډ څخه برخمن کېږي.

## رڼا

د کومو چارو له ترسره کولو چې عاجزه یې، هغه پر ځای پرېږده او هغه چارې ترسره کړه، چې ښه پرې لاسبري یې.

## ځلا

اَلَآ اِنَّ نَصۡرَ اللّٰهِ قَرِیۡبٌ۝

ژباړه:

هو! د الله ﷻ مرسته نژدې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د نړۍ نیکمرغه ښځه

**مشک:**

**نېکمرغه ژوند د ښې ښځې په برخه کېږي**

عسی فرجٌ یأتي به الله إنه-له کل یوم في خلیقته أمرُ

ژباړه:

کېدای شي، چې د الله ﷻ مرسته درسره مله شي، ځکه الله ﷻ هره ورځ یوه نوې پرېکړه کوي.

ښې ښځې ته پکار دي، چې په کور کې د مېړه په راتلو یې ښه تود هر کلی وکړي او که مېړه اندېښمن وانګېري؛ نو دا نه چې دا ځان تر هغه هم اندېښمن وښيي او یا له واره ترې پوښتنې پیل کړي، چې څه خبرې اندېښمن کړی یې ژر شه ماته یې هم ووایه، بلکې له ځیر کتیا نه دې کار واخلي او چې مېړه یې ورته څه امر کوي په پراخه تنده دې هغه کار ترسره کوي، ځکه چې مېړه یې په کرار کېني او دمه شي؛ نو کېدای شي چې پرته له پوښتنې خپلې اندېښنې له ښځې سره شریکې کړي؛ خو که بیا یې هم مېړه خپلې اندېښنې له ښځې سره شریکې نه کړي؛ نو بیا ښځه کولای شي، چې په ښه او پسته لهجه یې وپوښتي او مېړه پر دې وپوهوي، چې زه درسره غمشریکه یم او که ښځه پر دې پوه شي، چې د مېړه اندېښنې په څه چل لرې کولای شي او پرې لاسبرې ده؛ نو له واره باید په دې لړ کې له مېړه سره مرسته وکړي، ځکه په دې سره به یې د مېړه اندېښنې سمې شي او بل دا احساس به ورته وشي، چې دا په کور کې یوه داسې مرغلره لري، چې د نړۍ تر ټولو مرغلرو لوړ بیه ده.

**رڼا**

**د یو کار په نه پېژندو مه نهیلي کېږئ، ځکه چې د لویانو کارونه، نه خلاصېږي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**عنبر:**

**يوازې نننۍ ورځې ته ول عمر وګڼه!**

ولا يحسبون الخير لا شرَّ بعده-ولا يحسبون الشرَّ ضربة لازبِ

ژباړه:

هغوی نه پوهېږي. چې په خير پسې شر هم راځي او پر دې هم نه پوهېږي، چې شر کله نا کله د سړي سر ماتوي.

د يوه نېکبخته کس وينا ده، چې ښکلې ورځ هماغه ده، چې موږ پکې د دنيا واکوال شو او هغه زموږ واکواله نشي او هماغه ښکلې ورځ ده، چې موږ پکې خپلې هيلې کابو کړو او هيلې مو پکې راکابو نکړي.

هغه هم ښه ورځ ده، چې انسان پکې د شک او شبهو له زخمونو (ګرداب) نه په راوتو برياله شي او پر دې سربېره هغه هم ښه ورځ ده، چې نور دې وستايي.

**رنا**

ځانونه نېکبختې کړئ، پر شته قناعت وکړئ او په ناشونو خوبونو پسې مه ځغلئ.

**ځلا**

عَفَا اللهُ عَمَّا سَلَفَ

ژباړه:

مخکې چې څه شوي، هغه الله ﷻ ښښلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**لونګ:**

**تنګسه مه انګېرئ!**

انعمْ ولَذَّ فللأمورِ أواخرُ - أبداً كما كانت لهنَّ أوائلُ

ژباړه:

ښه خوښ اوسئ، څکه چې هر شی د ابتداء په څېر انتها لري، دا ډېره غوره او په زړه پورې نسخه ده، چې له تاسې سره د اضطراب، عصبي کمزورتیا په له مینځه وړلو او د بریالیتوب په ترلاسه کولو کې مرسته کوي او همدا راز د دوستۍ او خوښۍ په تلپاتې ساتلو کې هم درسره مرسته کوي.

ستړې ښځې هماغه دي، چې د نورو خویونو په پامنیوي ورسره چلن کوي، د نورو خوښې او خپګان په پام کې نیسي او تل ځان د نورو پر ځای په انګېرلو سره پرېکړې کوي، په دې مانا چې که د یو چا په اړه څه پرېکړه کوي؛ نو مخکې دا سوچ کوي، چې که د هغې پر ځای زه وای؛ نو بیا...؟

پر دې هر څه یوازې هماغه ښځه ښه پوهېږي، چې د نورمال اعصابو خاونده وي، څکه هغه پر دې هم پوهېږي، چې که له کومې ستونزې سره مخ ده او یا یې کوم ارمان نه تر سره کېږي؛ نو دا د فطري قانون او د تقدیر برخه ده، څکه ډېر ځل انسان د یو څه غوښتونکی وي او د ځان لپاره یې ګټور بولي؛ خو په هغه کې د ده لپاره شر نغښتی وي او د دې په عکس ډېر ځل انسان له یو څه نه کرکه کوي او شر یې ګڼي؛ خو هغه د دې انسان لپاره ګټور وي.

ستړه او زړوره ښځه پر دې پوهېږي، چې هغه د دې کاینات یوه برخه ده او وړپیښې اندېښنې، دردونه او خوښۍ به یې نصیب و؛ نو څکه له هیڅ ډول اندېښنو سره د مخ کېدو په صورت کې نه وارخطا کېږي او نه نهیلې کېږي؛ نو داسې ښځه له عصبي ناروغۍ نه هم بېغمه وي په خلاف د هغې تنګزړې

(c) ketabton.com: The Digital Library


ښځې ، ځکه پر تنګ زړې ښځې ، چې لږ مصیبت راشي ؛ نو وار پار ترې خطا وي او ځان په دې ډکه نړۍ کې یوازې بولي او داسې فکر کوي ، چې مصیبت یوازې پر همدې راغلی او پر بل چا نه راځي او د دې برخه خواره ده ؛ خو ستره او زړوره ښځه له سره دې خبرو ته نه ګوري او نه یې محسوسوي.

**رڼا**

خوښه اوسه او په راتلونکي کې هم د خوښۍ انتظار کوه؛

**ځلا**

سَلَٰمٌ عَلَيْكُمْ بِمَا صَبَرْتُمْ

ژباړه:

پر تاسې سلامتیا ده ، څنګه چې تاسې په دنیا کې له صبر څخه کار واخیست.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**صندل:**

**تر زيار او خوارۍ وروسته د برياليتوب خوند**

الغمرات ثم ينجلينا – ثمتَ يذهبن ولا يجينا

ژباړه:

مصيبتونه راځي؛ خو يو څه وخت وي او بېرته ځي او بيا نه راځي.

يو کس تر برياليتوب وروسته خپله کيسه کوي، چې پر موږ ډېره نېستي وه ان تر دې، چې مور به زموږ د ګېډو اور د سړولو لپاره يو او بل ته د سوال لاسونه غځول، چې دغه کار به زه ډېر غمجنولم؛ خو کله چې زه لس کلنۍ ته ورسېدم؛ نو له کوره په خوارۍ مزدورۍ پسې راووتم، تر يوولس کاله زيار ګاللو وروسته زه د اتيا ډالرو خاوند شوم (؟) او په دې موده کې ما يو ډالر هم بې ځايه يانې د خپل خواهش پوره کولو په لړ کې نه دی لګولی، همدا راز کله چې يوويشت کلن شوم؛ نو بيا به ځنګل ته تلم او له هغه ځايه به مې د لرګيو درانه پېټي راوړل، او د دغو درنو پېټو په راوړو مې په لاسته راوړنه کې هم بنه توپير راغی، هغه دا چې بيا به مې د مياشتې شپږ ډالر ګټل او دغه هر ډالر به ما ته په تکه توره شپه کې د سپوږمۍ هومره ارزښت لاره.

**رڼا**

که له تاسې نه کومه ګناه وشي؛ نو له هغې ګناه نه عبرت واخلئ او تر عبرت اخيستو وروسته له هغې ګناه نه توبه وکاږئ او هېره يې کړئ.

**ځلا**

قُلِ اللّٰهُ يُنَجِّيكُمْ مِّنْهَا وَمِنْ كُلِّ كَرْبٍ

ژباړه:

ووايه، الله ﷻ تاسې ته له هغې او له بل هر کړاو څخه نجات درکوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زعفران:

## پر اوسني حال خوښه شه

غريبٌ من الخلاّن في كلِّ بلدةٍ - إذا عظُمَ المطلوبُ قلَّ المساعدُ

ژباړه:

زموږ هغه خپل خپلوان د حيرانتيا وړ دي، چې په پرديو هېوادونو کې د مساپرۍ شپې ورځې سبا کوي ،کله چې غوښتنه لويه شي مله خلک کم شي.

زه يو داسې کس پېژنم، چې د څه ناروغۍ له امله يې طبيبانو پښه ورپرې کړې وه، کله چې يې زه پوښتنې ته ورغلم، دا چې هغه کس هوښيار او پوه کس و؛ نو ما ورته وويل، چې دا امت د دې انتظار نه کوي، چې ته دې په دغه بېړۍ کې له دې دريابه پورې وځې . بلکې دوی له تا نه د نصيحت او د ښه سوچ تمه لري او شکر دی، چې دغه ارمغان له تا سره شته؛ خو کله چې زه د هغه له کوره راستنېدم؛ نو په راوتو کې يې راته وويل، چې الحمدلله د پښې پرېکېدو له ما سره د دين په خدمت او د زړه په خوښۍ کې ډېره مرسته کړې.

د يوه عقلمن په وينا ذهن تر هغې ډاډ نه مومي، چې انسان د يوه مصيبت پر مهال داسې ونه انګېري، چې تر دې هم بدتر ساعت شته.؟

تاسې به ډېر داسې خلک هم ليدلي وي، چې د يوه واړه مصيبت په ورپېښېدو ځان په لوی لاس د هلاکت کندې ته ورغورځوي. دا ځکه چې هغوی پر دې باور نه لري، چې تر دغې بدتر ساعت هم شته يانې پر ورپېښ شوي مصيبت صبر او شکر نه کوي، چې په دې سره له لوی مصيبت نه په امن شي، ځکه چې الله ﷻ ته څه ګرانه ده، که دا ساعت يې در باندې راوستی دی، چې يوه پښه دې پرې شوې ده؛ نو هغه الله ﷻ پر دې هم لاسبری دی، چې له دواړو پښو دې خلاص کړي او پر دې سربېره دواړه سترګې هم درڅخه واخلي؛ نو بيا به څه کوې او څه کولای شې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



بلکې هيڅ نه شي کولای؛ نو ايا له دې نه صبر او شکر ښه نه دی، چې الله ﷻ هم درنه راضي شي، مصيبت درباندې اسان شي او په بدل کې يې جنت هم در په برخه کړي او له عصبي ناروغۍ نه هم انسان پرې خوندي کېږي، د مصيبت پر مهال په تېر وخت پښېمانتيا او پر تکليف يې اوښکې تويول د اسلام له نظره ناشکري او پر تقدير ناخوښي ښکاره کول دي.

**رڼا**

نهيلي ستاسې تر ټولو لوی دښمن دی، ځکه نهيلي ستاسې سکون او ډاډ بربادوي.

**ځلا**

وَكَذٰلِكَ جَعَلْنٰكُمْ اُمَّةً وَّسَطًا

ژباړه:

او په همدې ډول موږ تاسې يو 'اُمت وسط' (غوره امت) ګرځولي ياست.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هود:

## ريښتينې اروونه

فکم رأينا أخا هُمومٍ - أعقب من بعدها سرورا

ژباړه:

موږ ډېر داسې اندېښمن وروڼه ليدلي دي، چې له مصيبتونو وروسته يې خوښۍ موندلې دي.

امامة بنت حارثة، چې کله خپله لور له خپله کوره رخصتوله؛ نو يو څو اصول يې ورته بيان کړل:

۱- کومه ښځه چې د خپل مېړه پروا نه کوي؛ نو هغه د مور و پلار نه هم بې پروا وي، سره له دې، چې هغوی ورته اړتيا لري په هر صورت ښځې د مېړونو لپاره پيدا دي او مېړونه د ښځو لپاره.

۲- د مېړه په حال قناعت کول.

۳- د مېړه اطاعت کول.

۴- د مېړه بايد داسې څه تر سترګو نه شي، چې بد يې راځي.

۵- په مېړه بايد ستا خوشبو ورشي نه بد بوی.

۶- د مېړه د خورک او خوب خيال ساته، ځکه چې ولږه تاو تريخوالی رامنځته کوي او بې خوبي غوسه.

۷- مال په ډېر فکر او دقت سره لګوه او د بچيو په روزنه کې ښه زيار ګاله.

۸ - ۹ - ۱۰:- د مېړه نافرماني مه کوه او مه يې کوم راز ښکاره کوه، ځکه د مېړه نافرماني تا بې قدره کوي او که راز دې ورله ښکاره کړه؛ نو له دښمنۍ نه به يې خوندي نشې، بله دا چې که مېړه دې غمجن و؛ نو ته خوښي مه ښکاره کوه او که مېړه دې خوشحاله و؛ نو ته خپل غم مه ښکاره کوه.

رڼا

نېکبختي د انسان په خپل لاس کې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**اوومه:**

**په سربښندنه د الله راضي کول.**

ولا تيأسْ فإنَّ اليأس كفرٌ - لعلَّ الله يغني عن قليلِ

ژباړه:

مه نهيلي کېږئ، ځکه چې نهيلي کفر دی او کېدای شي، چې الله ﷻ په لږ څه سره ستاسې نهيلي ختمه کړي.

ايا تاسې د هغه صحابيې په اړه نه دي اورېدلي، چې زنا ترې شوې او رسول الله ﷺ ته راغله او عرض يې وکړ، چې ای د الله رسوله! پر ما شرعي حد قائم کړه او ما له دې ګناه نه پاکه کړه او د درو په وهلو مې دغه ګنا ورژوه! (د واده کړي لپاره د زنا حد رجم ياني سنګسارول دي: خو دا چې دغه ښځه اميدواره وه؛ نو رسول الله ﷺ يې سر پرست راوغوښت او ورته يې وويل، چې دا ښځه له ځان سره بوځه، ښه چلن ورسره کوه تردې، چې بچی وزېږوي کله چې هغې بچی وزېږاوه؛ نو رسول الله ته راغله او حد پرې قايم شو ياني سنګساره شوه او بيا پرې رسول الله ﷺ جنازه وکړه؛ نو عمر رضي الله عنه عرض وکړ، چې ای د الله رسوله! ته پر يوې داسې ښځې جنازه کوې، چې زنا يې کړې ده؟ نو رسول الله ﷺ وفرمايل، چې دې ښځې داسې تو به کاږلې، چې که د مدينې په څېر په اويا کليو ووېشل شي؛ نو بيا به هم پاتې شي او تا ته تر دې بله کومه غوره خبره ښکاري، ځکه دې ښځې د الله ﷻ لپاره سر وښنده.

دا ايماني ځواک و، چې له ګناه نه د پاکېدو لپاره يې دغه ښځه سربښندنې ته چمتو کړې وه او د اخرت ژوند يې غوره کړ او که دغه ښځه د پاخه ايمان خاونده نه وای؛ نو کله به يې هم په لوی لاس مرګ ته غاړه نه وای ايښې.

کېدای شي د چا په ذهن کې دا پوښتنه راولاړه شي، چې که دغه ښځه دومره

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښکه وه: نو بیا یې زنا ولې کوله، ځکه چې زنا د کمزوري ایمان خاوندان کوي؛ نو د دې ځواب دا دی، چې د انسان ایمان زیاتېږي او کمېږي هم؛ خو دا چې انسان کمزوری دی؛ نو ګناه ترې کېږي او د ایمان ځواک یې بېرته توبې ویستو ته راښکاږي.........

**زنا**

ډېرې ګیلې مه کوه.

**خلا**

مصیبت که څومره هم ګران وي؛ خو بیا هم ختمېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د نړۍ نیکمرغه ښځه

**اتمه:**

**که د الله ﷻ د پولو ساتنه وکړې؛ نو الله ﷻ به تا وساتي**

ولا عار إن زالت عن المرء نعمةٌ - ولكنَّ عاراً أن يزول التجمُّلُ

ژباړه:

له یو چا نه نعمتونه زائله کېدل څه د شرم خبره نه ده، بلکې د شرم خبره دا ده، چې له انسان نه نېک خویونه زایله شي.

د مصر د یوې ښکلې او شتمنې ښځې په اړه ویل کېږي، چې یوه ورځ د دغې ښځې پر کاله غله ورواوښتل او ښځه په تېښته بریالۍ نه شوه یانې د غلو په لاس کېوته، غلو ترې د شتمنۍ درک وپوښته؛ نو ښځې له واره وروښود، چې د هغې په پلانکي بکس کې هر څه پراته دي.

په غلو کې یوه کس د دې پر ښکلا زړه وبایله او غوښتل یې، چې له ناموس سره یې لوبې وکړي، ښځه یې پر نیت وپوهېده نو له غله نه یې تشناب ته د تلو اجازه وغوښته غل اجازه ورکړه، ځکه هغه پر دې باوري شو، چې ګوندې ښځې یې غوښتنه ومنله.

ښځه چې تشناب ته ننوته؛ نو د تشناب د کړکۍ له لارې یې بهر ته ځان وغورځاوه او د ګندګۍ په ډېرۍ کې یې ځان پټ کړ، غلو تر لوټ مار وروسته تر یو څه ځنډ په ښځه پسې اخوا دېخوا وګرځېدل؛ خو د نه موندو په صورت کې یې خپله لار ونیوه، د غلو تر تلو وروسته ښځه له ګندګۍ نه راپاڅېده شکر یې وکړ، چې د دین او ابرو ساتنه د مال تر ساتنې غوره ده، ځکه چې نېستي تر فتنې غوره ده.

**رڼا**

په نړۍ کې کله ناکله داسې حالات هم راځي، چې له هغې تېښته د انسان په وس کې نه وي؛ نو په دغه وخت کې یوازې صبر په کار راځي.

**ځلا**

شتمني د مېړونو د لاس خیرې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د نيکمرغۍ بنځې

## لپاره لس

# ياقوت

# ډالۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د توبې اوښکې تر نورو اوبو غوره دي

افرحي بالحياة فهي جميلة - واجعليها بكل خير خميلة

ژباړه:

په ژوند خوښ اوسه او دغه ښکلی ژوند په نېکو او ښو خویونو ورغوه!

الله ﷻ له هغه چا سره مینه کوي، چې توبه کاږي او له ګناهونو نه د ځان پاکولو په هڅه کې وي او الله ﷻ د توبه کوونکي پر توبه داسې خوښېږي، لکه چې له چا نه په یوه شړه دښته کې د خوراکي توکو بار سورلۍ ورکه شي او دغه کس تر یوې ونې لاندې نهیلی د مرګ په انتظار کېني، په ناسته یې سترګې پټې شي، چې له خوبه راپاځي؛ نو سورلۍ یې سره له باره مخې ته ولاړه وي؛ نو دغه کس له ډېرې خوښۍ چیغې کړي، چې ای الله ﷻ ته زما بنده او زه دې رب یم، یانې له ډېرې خوښۍ یې خوله خطا شي او په عکس کلمې یې له خولې راووځي؛ نو الله ﷻ هم د توبه کوونکي پر توبه هومره خوښېږي.

سبحان الله! دغه الله ﷻ څومره پاک او عظیم ذات دی، چې د خپل بنده پر توبه کاږلو خوښېږي، ځکه په دې سره د هغه بنده د دوزخ له اوره خوندي کېږي او جنت ته د تلو وړ ګرځي، لکه چې مور د زوی پر بریا او له اور نه په خلاصون خوښېږي؛ نو الله ﷻ هم ارومرو خوشحالېږي، ځکه چې الله ﷻ تر اویا میندو هم ډېر مهربانه دی.

په دې لړ کې الله ﷻ خپلو بندګانو ته په قرآن کریم کې داسې فرمایي:

تُوبُوٓا إِلَى ٱللَّهِ جَمِيعًا أَيُّهَ ٱلْمُؤْمِنُونَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ ۝٣١

ژباړه:

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د نرۍ نېکمرغه ښځه

ای مؤمنانو! تاسې ټول په ګډه الله ﷻ ته توبه وباسئ، ښايي چې بری درپه برخه شي.

په پښېمانتيا او د توبې پر اوښکو خيرن زړونه مينځل کېږي انسان له ګناه نه داسې پاکېږي، لکه چې اوس له مور نه زېږېدلی وي.

**رڼا**

په ښه طريقه د نېکو هيلو په پامنيوي داسې سوچ وکړئ، چې الله ﷻ مه کړه که کله بده ورځ هم راشي؛ نو هغه به د ښه وخت د راتلو لپاره سريزه وي.

**ځلا**

حَٰفِظَٰتٌ لِّلۡغَيۡبِ بِمَا حَفِظَ ٱللَّهُ

ژباړه:

او د نارينه وو په غياب کې د الله ﷻ تر ساتنې او څارنې لاندې د هغو د حقوقو ساتنه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## لومړۍ سربښندونکې ښځه

ولربما کره الفتی - أمراً عواقبه تسرُّ

ژباړه:

کله نا کله ستونزمن وخت پر انسان ډېر ګران تېرېږي؛ خو پایله یې ښه وي.

یوه ښځه چې په ښکلیو او دنګو ماڼیو کې اوسېده، ډېرې وینزې او نوکران به یې په امر کېناسته، پاڅېدل.

اسیه بنت مزاحم وه (یانې د فرعون ښځه) په تاریخ کې لومړۍ ښځه وه، چې خپل سر یې د الله ﷻ له توحید نه ځار کړ، سره له دې چې په دنګو او ښکلیو ماڼیو کې یې ښه د مزې ژوند کاوه؛ خو په زړه کې یې ایماني رڼا غځونې وکړې او ایمان د خپل کافر مېړه مقابلې ته اړه کړه او د عیش و عشرت ژوند ته یې د توحید په مقابله کې هیڅ ارزښت ورنکړ او په دې لړ کې یې هر ډول سختیو ته په ښه تنده هر کلی ووایه، همدا لامل و چې الله ﷻ یې په قرآن کریم کې یادونه وکړه او د ټول انسانیت لپاره یې د مسلمانۍ بېلګه وګرځوله او د ښځو هغه عذر یې پرې ختم کړ، چې د قیامت په ورځ ووایي، چې ای الله ﷻ زه مې مېړه دینداری ته نه پرېښودم او هغه ظالم و؛ نو الله ﷻ به ورته وایي، چې ایا ستا مېړه تر فرعون ډېر ظالم و او پر تا یې تر اسیې رضي الله عنها هم ډېر ظلم کاوه.

الله تعالی د فرعون دښځې په اړه فرمایي:

وَضَرَبَ اللّٰهُ مَثَلًا لِّلَّذِيْنَ اٰمَنُوا امْرَاَتَ فِرْعَوْنَ ۘ اِذْ قَالَتْ رَبِّ ابْنِ لِيْ عِنْدَكَ بَيْتًا فِي الْجَنَّةِ وَنَجِّنِيْ مِنْ فِرْعَوْنَ وَعَمَلِهٖ وَنَجِّنِيْ مِنَ الْقَوْمِ الظّٰلِمِيْنَ ⑪

ژباړه:

او د مؤمنانو په باب الله ﷻ د فرعون د ښځې مثال وړاندې کوي کله چې هغې دعا وکړه، چې ای زما ربه! زما لپاره له خپل ځان سره په جنت کې یو کور

(c) ketabton.com: The Digital Library



جوړ کړه او ما د فرعون او د هغه له عمل نه وژغوره او له ظالم قوم نه ما ته نجات راکړه.

د دې ایت په تفسیر کې علماء لیکي، چې اسیه ﷺ له کور نه مخکې د الله ﷻ ګاونډ اختیار کړ، ځکه رسول الله ﷺ یې نوم د نړۍ په کاملو ښځو کې وشمېره، په حدیث شریف کې رسول الله ﷺ فرمایي، چې په خلکو کې ډېر کامل خلک شته؛ خو په ښځو کې د فرعون له ښځې اسیې، مریم بنت عمران او عائشې ﷺ پرته کاملې ښځې نشته او دا پورتنۍ ښځې پر نورو ښځو دومره لوړوالی لري، لکه په خوړو کې چې خوږه حلوا ده.

**رڼا**

که خپل سوچ او فکر په ښه لاره واچوې؛ نو نېکبخته به شې.

**ځلا**

إِنَّ رَحۡمَتَ ٱللَّهِ قَرِيبٞ مِّنَ ٱلۡمُحۡسِنِينَ ﴿٥٦﴾

ژباړه:

په یقیني توګه د الله ﷻ رحمت نېکانو ته نږدې دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**لومړی یاقوت:**

**خپلې چارې الله ته وسپاره او په ډاډه زړه ویده شه!**

عسی الله أن يشفي المواجع إنه - إلي خلقه قد جاد بالنفحاتِ

ژباړه:

ژر به الله تعالی له درېیښې ناروغۍ نه شفا در په برخه کړي، ځکه چې الله ﷻ پر خپلو بنده ګانو رحمتونه رالېږلي دي

هغه ټولې ښځې، چې د الله ﷻ پر تقدیر خوښې دي، له هر لوري پر غشو ویشتل شوي دي، د بچیو مور و پلار او خپلو خپلوانو بېلتانه ځپلي؛ خو بیا هم غمونو یې زړونو ته لار نه ده کړې او نه یې له سترګو کومه اوښکه راتوی شوې؛ نو د داسې مؤمنو ښځو لپاره زېری دی، چې الله ﷻ به یې ټولې ستونزې هوارې کړي او د ورپېښې مصیبت له امله به یې الله ﷻ درجې لوړې کړي

الله ﷻ فرمایي:

وَاسْتَعِينُوا بِالصَّبْرِ وَالصَّلَاةِ ۚ وَإِنَّهَا لَكَبِيرَةٌ إِلَّا عَلَى الْخَاشِعِينَ ﴿٤٥﴾

ژباړه:

په صبر او لمانځه مرسته وغواړئ، په دې کې شک نشته چې لمونځ یو ډېر سخت کار دی؛ خو هغو امر منونکو بندګانو ته سخت نه دی.

علي ؓ فرمایي، چې صبر په ایمان کې داسې درجه لري، لکه په ټول بدن کې سر

زه تاسې ته ستاسې په صبر د لوی اجر زېری درکوم، چې په جنت الفردوس کې به د الله تعالی ګاونډتوب در په برخه شي تاسې ډېرې نېکبخته یاست، چې د ایمان تر څنګ مو پر مصیبتونو صبر کړی، ځکه چې همدا د بریالیتوب لاره ده او الله ﷻ د صبر کوونکیو په اړه فرمایي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د نړۍ نېکمرغه ښځه

وَبَشِّرِ الصّٰبِرِیْنَ

ژباړه:

صبرناکو ته زېری ورکړه.

**رڼا**

که تاسې پر ځان ډاډه یاست؛ نو د دې مانا دا ده، چې تاسې بریالۍ کېدای شئ، که څه هم د عمر په هر پړاو کې یاست

**څلا**

اَللّٰهُ لَطِیْفٌ بِعِبَادِهٖ

ژباړه:

الله ﷻ پر خپلو بندګانو ډېر مهربان دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دویم یاقوت:**

**رېښتینې ړوند هماغه دی، چې زړه یې ړوند وي**

هل الدهرُ إلا كربةٌ وانجلاؤها - وشيكاً وإلا ضيقةٌ وانفراجُها.

ژباړه:

زمانه همدې ته وايي، چې مصیبت او د مصیبت د لرې کېدو وختونه سره نږدې نږدې وي یا چې کله مصیبت اوج ته ورسېږي؛ نو زوال یې ورپسې پیلېږي.

په یوه کلي کې یو داسې ړوند اوسېده، چې ښځه یې په برخه وه، بچیو یې هم خبره منله او ملګري یې هم ښه وفادار وو، هر اړخیزه نېکبختي یې په برخه وه؛ خو یوازې د سترګو کمی یې درلود، چې خپله دغه نېکبختي یې په خپلو سترګو نشوه لیدلای او ده هم همدغه یو ارمان درلود، چې کاش! دا هر څه مې لیدلی شوای.

بله ورځ یو طبیب دغه کلي ته ورغی؛ نو ړوند ورته ځان راورساوه او د خپل ړوند والي ګیله یې ورته وکړه، چې د بینا کېدو څه دوا راکړه، طبیب ورته څه دارو درمل ورکړل چې دا خوره سترګې به دې ښې شي یانې لیدل به شروع کړي؛ خو چې کله رڼا ووینې؛ نو ورخطا کېږې به نه!

ړانده به هره ورځ په خپل ټاکلي وخت دوا خوړه او هغه پرهېز به یې ورسره کاوه، چې طبیب ورښودلی و، بله ورځ په خپله باغچه کې ناست و، چې ناڅاپي یې سترګو کار پیل کړ نړۍ یې په خپلو سترګو ولیده، له خوښۍ نه یې ټوپونه وهل او د کور پر لور یې منډه واخیسته، چې خپلې مخلصې او خواخوږې ښځې ته دغه زېری واوروي، چې د کور په دروازه ورننووت؛ نو خپله مخلصه ښځه یې له هماغه وفادار دوست سره بوخته ولیده، بېرته

(c) ketabton.com: The Digital Library



راستون شو، چې خپل هغه منونکی زوی وګوري؛ نو پر هغه يې هم په داسې حال کې سترګې ولګېدې، چې د ده مال يې غلا کاوه نور يې د صبر کاسه تر مورګو راډکه شوې ده او دغه هر څه ورته له زغمه وتلي وو؛ نو په لار کې يو پروت مېخ يې راپورته کړ او په خپلو دواړو سترګو يې وتومبه. چې له دې نه ړوند شه يم

**رڼا**

عصبي ناروغي د تېپونو له درد نه هم ډېره زيانمنوونکې ده.

**خلا**

كَلَّا ۖ إِنَّ مَعِيَ رَبِّي سَيَهْدِينِ ﴿٦٢﴾

ژباړه:

هېڅکله نه، له ما سره زما رب دی، هغه به هرو مرو ما ته لارښوونه وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**مریم یاقوت:**

**د غځ اخیستنې او ر ته پوکي مه وهئ، که نه نو خپله به یې ښکار شې**

إنّ رباً كفاك ما كان بالأمسِ - سيكفيك في غدٍ ما يكونُ

ژباړه:

له پروني مصیبت نه چې الله ﷻ وساتلې؛ نو له سباني مصیبت نه به دې هم وساتي.

ځینې خلک داسې وي، چې که څوک ورسره بد کوي؛ نو دوی یې پر بدو سترګې پټوي، د چا په خبرو پسې دومره نه ګرځي، له خپل حق نه خلکو ته ورتېرېږي او پر خپل حق هم له چا سره شخړه نه کوي؛ خو د دې پر عکس ځینې خلک بیا له سره ښښنه نه پېژني او خپل یو وړوکی حق هم چا ته نه پرېږدي، بلکې د ترلاسه کولو لپاره یې ښې هلې ځلې کوي؛ نو دا ډول خلک تل له خلکو سره لاس او ګرېوان وي.

ښکاره خبره ده، چې دغه ښښونکي خلک خوښ او سوکاله ژوند لري، د هر چا خوښ وي او د بریالیتوب هره دروازه یې پر مخ پرانستې وي او د دې پر عکس هغه خلک چې له ښښنې سره سر و کار نه لري، تل له اندېښنو سره مخ وي، ځکه دوی د هر چا په خبرو پسې غوږ وهي، چې له دې امله پر عصبي ناروغۍ سربېره د یو شمېر ناروغیو ښکار کېږي، خلک هم ترې کرکه کوي او ځان ترې ډډې ته کوي؛ نو د داسې خلکو په وړاندې د بریالیتوب ټولې دروازې تړلې وي.

د رسول الله ﷺ مبارک خوی هم دا و، چې که هغه ته به په دوو کارونو کې د یوه د غوره کولو واک ورکړل شو؛ نو اسان به یې ترې غوره کاوه؛ خو په دې شرط، چې د الله ﷻ نافرماني به پکې نه راتله، ځکه که هغه ﷺ په ګرانو پسې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګرځېدلی؛ نو بیا خو به خلکو ترې کرکه کولی، همدا راز رسول ﷺ فرمایي: پر هغه چا دې رحمت وي، چې په پېرو پلور کې له درګزر نه کار اخلي.

**رڼا**

تاسې باید په اوسني حالاتو کې ښه خواري وکړئ او د راتلونکیو مصیبتونو په سوچ کې ځانونه ښکېلې نه کړئ.

**ځلا**

مَآ اَنۡزَلۡنَا عَلَيۡكَ الۡقُرۡاٰنَ لِتَشۡقٰٓى ۙ

ژباړه:

موږ دا قرآن پر تا باندې د دې لپاره نه دی نازل کړی، چې ته په کړاو اخته شې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ځلورم یاقوت:**

**هره بریا په هلو ځلو کې نغښتې ده.**

إذا لم يكن عونٌ من الله للفتى - فأول ما يجني عليه اجتهادُه

ژباړه:

که له انسان سره په کوم کار کې د الله ﷻ مرسته مل نه وي؛ نو تر هر څه له مخه به د خپلو هڅو بدې پايلې ويني.

د يوه شتمن وينا ده، چې زه د هيڅ خبرې پروا نه لرم، ځکه زه په نړۍ کې شتمن کس يم؛ خو د يوه عادي وګړي په څېر ژوند تېروم، په يوه ساده کور کې له خپلو بچيو سره اوسېږم، د بدخرڅۍ او بېباکۍ ژوند نه خوښوم. لکه چې نور شتمن يې خوښوي، چې په ورځپاڼوکې د خپلو دنګو ماڼيو او ورېښمين پوښاک انځورونه خپرول غواړي.

سره له دې چې زه کار کول خوښوم او چې کار ته ځم؛ نو د ماسپښين ډوډۍ هم له کوره له ځان سره وړم، کله چې زه په زړه کې د شتمنۍ په اړه فکر کوم؛ نو دغه سوچ په ما کې تکبر او لويي نه رازېږوي ، بلکې لا پسې نېکبختي راته کوي او خوشحالېږم، چې ما د ټوکيو د ښار په پراخولو کې له خپلو هېواد والو سره مرسته کړې او زما دغې مرستې د دې ښار ښکلا يو په دوه کړې، چې نن يې له امله ليدو ته خلک د نړۍ له ګوټ ګوټ نه راځي، په هر حال زما له خبرې موخه دا ده، چې زما د دې برياليتوب تر شا زما هلې ځلې کارنده دي.

**رڼا**

ډوبېدونکې بېړۍ يوازې په افسوس کولو له ډوبېدو نشي خلاصېدای.

**ځلا**

أَلَيْسَ اللَّهُ بِكَافٍ عَبْدَهُ

ژباړه:

ايا الله ﷻ د خپل بنده لپاره کافي نه دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



**پنځم یاقوت:**

### کفري نړۍ د بد مرغۍ ښکار ده

ولو جاز الخلودُ خلدت فرداً - ولكن ليس للدنيا خلودُ

ژباړه:

که نړۍ تلپاتې کور وای؛ نو ما به پکې يوازې اوسېدل خوښ کړي وای؛ خو نړۍ تلپاتې کور نه دی!

امریکايي ډاکټر هارولډسن د لويو لويو ډاکټرانو او پروفيسرانو په مخکې د خپلې يوې وينا په ترڅ کې دا خبره کړې، چې ما د (۱۷٦) شتمنو کسانو څېړنه کړې او په دوی کې مې دغه درې ناروغۍ، شوګر، د معدې خرابي او زړه تنګي تر سترګو شوې، چې دغه درېواړه ناروغۍ خپله د عصبي ناروغيو زېږنده دي، سره له دې، چې په دوی کې يو هم تر څلوېښت کلنۍ اوښتی نه و؛ نو تاسې وواياست، چې ايا په دې ناروغيو اخته کسان دغه مرګونې ناروغۍ د خپل بريالیتوب په بيه اخلي؟ ايا دوی بريالي دي؟ که په داسې مرګوني ناروغيو اخته کسان ډېره پانګه راټوله کړي؛ نو پرې څه؟ ځکه که يو څوک د ټولې نړۍ پاچا هم شي؛ نو بيا به هم پر يوه بستره څملي او درې وخته ډوډۍ به خوري؛ نو بيا د دغه شتمن او هغه کارګر ترمنځه څه توپير دی، چې کرۍ ورځ پردۍ مزدوري کوي ، ځکه هغه هم درې وخته ډوډۍ خوري او د خوب لپاره يو تور شک غوړوي، بلکې کېدای شي، چې دغه کارګر تر هغه شتمن هم ښه او سوکاله ژوند ولري.

د يوه پروفيسر په وينا په هرو پنځو کسانو کې څلور د ناروغۍ ښکار دي او د دوی دغه ناروغي د څه زخم او درد پايله نه ده، بلکې د عصبي کمزورۍ او يا د کينې له امله د دغو ناروغيو ښکار شوي دي.

**رڼا**

ته خپل تېر وخت نشې بدلولای؛ نو بيا ولې ځان د غمونو او اندېښنو غېږ ته ورغورځوې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



شهرم یاقوت:

## د ژوند د ملګري اخلاق باید داسې وي

وربَّ عُسرٍ أتی بیسرٍ - فصار معسوره یسیراً

ژباړه:

کله ګران وخت هغه اساني هم له ځان سره راوړي، چې ستونزې پرې هوارېږي.

مؤمنه او نېکه ښځه هماغه ده، چې د خپلو هیلو د ترلاسه کولو لپاره خپل مېړه نه تنګوي، بلکې پر هغه څه صبر او قناعت کوي، چې الله ﷻ ور په برخه کړې وي او د داسې ښځو لپاره د رسول الله ﷺ کورنی ژوند غوره بېلګه ده، لکه عروه رضی الله عنه له خپلې ترور عایشې رضی الله عنها نه نقل کوي، چې ماته یې وفرمایل: ای خوریه! قسم په الله ﷻ په میاشتو میاشتو به د رسول الله کره اور نه بلېده (یانې د پخلي څه به نه و، چې اور یې پسې بل کړی وای) نو عروه رضی الله عنه خپله ترور وپوښتله، چې تاسې به په څه ګوزاره کوله؟ عایشې رضی الله عنها ورته وفرمایل، چې پر دوو تورو شیانو به مو ګوزاره کوله یانې پر خرماوو او اوبو باندې.

بل دا چې د نبي کریم ﷺ په ګاونډ کې څه انصار اوسېدل، چې هغوی ګډې، وزې لرلې؛ نو هغوی به کله نا کله شېدې هم د رسول الله ﷺ کره ورلېږلې.

### رڼا

د ژوند ارزښت دا دی، چې د ژوند هره لحظه په ښه طریقه تېره شي.

### ځلا

کار د تمې پټرول او د سستۍ دښمن دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**اووم یاقوت:**

**پر تقدیر خوښې شئ!**

ولا تظُنُنْ بربّك ظنَّ سوءٍ - فإن الله أولى بالجميلِ

ژباړه:

پر الله ﷻ بدګوماني مه کوئ، ځکه الله ﷻ د غیر په پرتله د ډېر ښه ګومان وړ دی.

د ابراهیم ﷺ ښځې او د اسمعیل ﷺ مور ځومره په زړه پورې خبره کړې، هغه مهال چې ابراهیم ﷺ خپله پاکلمنه ښځه هاجره بي بي له تي رودونکي زوی سره په داسې شاړه دښته کې پرېښوده، چې نه د خوراکي، څښاکي توکو څه درک و او نه پکې د سر سیوری و، ان تر دې چې د سیوري لپاره پکې ونه هم نه وه، کله چې ابراهیم ﷺ خپله ښځه او د غېږې زوی په دغه شاړه کې پرېښودل او ترې روان شو؛ نو هاجرې بي بي ورپسې ورمنډې کړې، چې موږ په داسې شاړه کې ولې پرېږدې؟ ابراهیم ﷺ پسې مخ هم ور وانه ړاوه او خپل مزل یې جاري وساته، لنډه دا چې هاجره بي بي وپوهېده، چې ابراهیم ﷺ ته د الله ﷻ له لوري امر شوی دی؛ نو ابراهیم ﷺ یې وپوښته، چې ایا الله ﷻ درته داسې امر کړی دی؟ ابرا هیم ﷺ د سر په ښورولو د هو! ځواب ورکړ؛ نو هاجرې بي بي وویل، چې که دا د الله ﷻ امر وي؛ نو زموږ قبول دی او هغه به موږ نه ضایع کوي.

په رښتیا چې الله ﷻ خپل بنده ګان کله هم نه ضایع کوي او تاسې څه فکر کوئ، چې الله ﷻ هغه کس او هغه ښځې ته د هغه د زوی غوره بدله ورنه کړه؟ د کهف په سورت کې الله ﷻ د هغوی په اړه داسې فرمايي:

وَأَمَّا الْغُلَٰمُ فَكَانَ أَبَوَاهُ مُؤْمِنَيْنِ فَخَشِينَآ أَن يُرْهِقَهُمَا طُغْيَٰنًا وَكُفْرًا ﴿٨٠﴾ فَأَرَدْنَآ أَن يُبْدِلَهُمَا رَبُّهُمَا خَيْرًا مِّنْهُ زَكَوٰةً وَأَقْرَبَ رُحْمًا ﴿٨١﴾

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دغه هلک معامله دا وه، چې موروپلار يې مؤمنان وو، له موږ سره دا اندېښنه وه چې دغه هلک به په خپلې سرکشۍ او کفر سره هغوی تنګ کړي. له دې امله موږ وغوښتل چې د هغو رب د دغه هلک په بدل کې يې موروپلار ته داسې اولاد ورکړي، چې په اخلاقو کې هم له ده نه ښه وي او له ده نه د صله رحمۍ تمه هم زياته وي.

**رڼا**

زه له خپل تېر وختونه بدلولای شم او نه له راتلونکي نه خبرېدای شم؛ نو بيا ولې د اندېښنو ښکار شم.

**څلا**

برسته له صبر سره مله ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**اتم یاقوت:**

**پر دنیوي شیانو مه خواشینې کېږه!**

فیا عجباً کیف یُعصی الإله - أم کیف یجحده الجاحدُ ؟!

ژباړه:

د رب العلمین نافرماني او د هغه تکذیب ډېره نااشنا خبره نه ده؟

کومه ښځه چې د نړۍ پر فاني کېدو باوري شي، چې دا نړۍ فاني او فنا کېدونکې ده او په دنیوي ژوند کې انسان له ډول ډول حالاتو سره مخ کېږي؛ نو دغسې ښځه بیا پر هیڅ دنیوي شي افسوس نه کوي او نه د کوم شي په ضایع کېدو نهیلې کېږي؛ نو له دې امله تاسې باید د کوم شي پر ضایع کېدو اندېښمنې او غمجنې نشئ، ځکه چې تر دې دنیوي ژوند وروسته ستاسې لپاره یو بل نه ختمېدونکی ژوند شته او تاسې پر دې هم باوري یاست، چې له خپل پالونکي سره به مخ کېږئ او دا ستاسې نېکمرغي ده، ځکه چې نامسلمانې ښځې نه د اخرت پر ورځ ایمان لري او نه له الله ﷻ سره د مخ کېدو تمه لري؛ نو ځکه د هغوی ژوند بې مانا او پیکه دی.

رښتیا هم هغه ښځه نېکمرغه ده، چې د اخرت پر ورځ ایمان لري او د هغې لپاره خواري کوي او د دې پر عکس هغه څوک هلاک او تباه دي، چې ایمان یې کمزوری او د اخرت ورځ یې هېره وي.

تاسې وګورئ چې له ایمان پرته دنګې ماڼۍ او ګاڼې څه ارزښت لري؟ او له تقوی پرته لوی لوی سندونه څه حیثیت لري؟ که په حکومت او سوداګرۍ نېکمرغي ترلاسه کېدی شوای؛ نو داسې پاچایان او وزیران به مو نه ترسترګو کېدای، چې په تنګسه کې ژوند تېروي، له ستونزو او مصیبتونو نه سر ټکوي؛ خو که موږ او تاسې ځیر شو؛ نو د ګردې نړۍ پاچایان او وزیران

(c) ketabton.com: The Digital Library



له ډول ډول ستونزو او مصیبتونو سره لاس او ګرېوان دي.

**رنا**

څېره ورځ د لیدلي خوب په څېر ده او له راتلونکې نېکې هیلې لرو؛ خو زموږ په واک کې یوازې ننني ورځ ده

**څلا**

ښځه ده، چې نړۍ ته يې ستر ستر شخصیتونه ډالۍ کړي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**نهم یاقوت:**

## الله ﷻ انسان ته ښکلی صورت ورښلی

دع الأیام تفعل ما تشاءُ - وطب نفساً إذا حکم القضاءُ

ژباړه:

ورځنۍ چارې پرېږده او څه چې دې خوښه وي هغه کوه؛ خو که قدرت کومه پرېکړه وکړي؛ نو پرې خوښه شه!

د انسان ښکلا د بدن په بېلابېلو غړیو، ژبو او غوږونو کې نغښتې ده . ځکه چې الله ﷻ هر شي ته ښکلی صورت ورښلی، لکه چې الله تعالی فرمايي:

وَصَوَّرَكُمْ فَأَحْسَنَ صُوَرَكُمْ

ژباړه:

او ستاسې صورتونه یې جوړ کړل ښه ښایسته یې جوړ کړل.

همدا راز فرمايي:

يَٰٓأَيُّهَا ٱلۡإِنسَٰنُ مَا غَرَّكَ بِرَبِّكَ ٱلۡكَرِيمِ ﴿٦﴾ ٱلَّذِي خَلَقَكَ فَسَوَّىٰكَ فَعَدَلَكَ ﴿٧﴾ فِيٓ أَيِّ صُورَةٖ مَّا شَآءَ رَكَّبَكَ ﴿٨﴾

ژباړه:

ای انسانه! څه شي ته پر خپل هغه مهربانه الله ﷻ دوکه کړی یې، هغه ذات ته پیدا کړی یې، ستا اندامونه یې برابر کړي دي، ته یې په برابرۍ جوړ کړی یې او په هره بڼه یې چې خوښه شوه ته یې نښلولی جوړ کړې؟

په دې اړه الله ﷻ په بل ځای کې فرمايي:

لَقَدۡ خَلَقۡنَا ٱلۡإِنسَٰنَ فِيٓ أَحۡسَنِ تَقۡوِيمٖ ﴿٤﴾

ژباړه:

موږ انسان په ډېره ښه بڼه پیدا کړ.

بې ستنو اسمان، د ستورو ځلا، د لمر رڼا، د سپوږمۍ ښکلا او د فضا پراخی ته ځیرې شئ، ځمکې ته وګورئ، چې الله ﷻ څنګه غوړولې ده، دریابونه او

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د مسلمانې ښځې د

# ارزښت د لا ډېرولو

# لپاره لس

# قیمتي

# عقیق

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د نړۍ ښکمرغه ښځه

نهرونه يې پکې روان کړي دي او غرونه يې پرې مېخ کړي دي.
د دريابونو او نهرونو نظام ته وګورئ! شپه، ورځ، شنه باغونه، ورېځو او د نړۍ چاپېريال ته ځيرې شئ؛ نو تاسې به په هر څه کې ښکلا وويني.
تاسې وګورئ! بوټو، شېدو، شاتو او د شاتو مچيو ته، همدا راز د خرما د ونې اوچتوالي او د هغې مېوو ته، مېږيانو ته، ډول ډول کبانو (ماهيانو) ته ډول ډول مرغيو، مرغانو او څارويو ته، چې دغه هر څه الله ﷻ پيدا کړي دي او دغو ټولو شيانو ته يې بې پايه ښکلا وربښلې ده؛ نو پکار ده، چې تاسې هم ووايئ:
فَسُبۡحَٰنَ ٱللَّهِ حِينَ تُمۡسُونَ وَحِينَ تُصۡبِحُونَ ۝ وَلَهُ ٱلۡحَمۡدُ فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ وَعَشِيّٗا وَحِينَ تُظۡهِرُونَ ۝ يُخۡرِجُ ٱلۡحَيَّ مِنَ ٱلۡمَيِّتِ وَيُخۡرِجُ ٱلۡمَيِّتَ مِنَ ٱلۡحَيِّ وَيُحۡيِ ٱلۡأَرۡضَ بَعۡدَ مَوۡتِهَاۚ وَكَذَٰلِكَ تُخۡرَجُونَ ۝

ژباړه:
نو د الله ﷻ تسبيح وکړئ، کله چې تاسې ماښام کوئ او کله چې سهار کوئ. په اسمانونو او ځمکه کې د همغه لپاره ثنا ستاينه ده. او (د هغه تسبيح وکړئ) مازيګر او کله چې پر تاسې د ماسپښين وخت راځي.
هغه له مړي نه ژوندی راباسي او له ژوندي نه مړی راباسي او ځمکې ته د هغې تر مرګ وروسته ژوند ببښي. په همدې توګه به تاسې هم (د مرګ له حالت نه) راوويستل شئ.

### رڼا

په ژوند کې د غمونو او اندېښنو لور ته مه ګورئ، بلکې د ژوند له خوښيو او ښکلا ګانو نه خوند واخلئ.

### ځلا

وَقَرۡنَ فِي بُيُوتِكُنَّ

ژباړه:
په خپلو کورونو کې مېشتې اوسئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**لسم یاقوت:**

## د سخا انتها

کم فرجٍ بعد إیاسٍ قد أتی - وکم سرورٍ قد أتی بعد الأسی

ژباړه

تر څومره نهیلیو وروسته مرسته راغلې او څومره خوښۍ دي، چې خپګان ورپسې وي.

یو ځل رومیانو د مسلمانانو پر یوه سیمه برید وکړ او څه مسلماني ښځې یې بندۍ بوتلې، کله چې منصور بن عمار خبر شو؛ نو د هارون رشید دربار ته ورغی، چې خلک جهاد ته چمتو کړي، په دې لړ کې د غونډې له ګډونوالو نه یوه پرده پوښه ښځه راپاڅېده او یوه کڅوړه او یو لیک یې منصور بن عمار ته وړاندې کړ، منصور چې لیک پرانست، پکې لیکل شوي وو، چې زه یوه عربه ښځه یم او د مسلمانو خویندو له بندیتوب نه خبره شوې یم، په دغه کڅوړه کې ما خپلې پرېکړې کوڅۍ او د سر چوټه اچولې، کېدای شي غازیان یې د اسونو د قیضو لپاره وکاروي، یانې کېدای شي د غازیانو اسونه قیضو ته اړتیا ولري؛ نو زما چوټې او کوڅۍ دې د دغه کار لپاره وکاروي؛ نو کېدای شي، چې الله تعالی زما پر دې حالت و لورېږي او زموږ ښه ورځ راستنه کړي ‹دا د هغو پتمنو خویندو سرښندنه او ایمان و، چې تر پېړیو پورې د مسلمانانو د سر لوړۍ لامل شوه، کاش! که نن هم د دغه منصور په څېر شازلمي او د دغې خور په څېر څو خویندې په اسلامي ټولنه کې وای؛ نو ولې به مو زلمي د بېغمۍ او بې غېرتۍ په درانه خوب ویده وای او د خویندو عزت به مو د باګرام، ګوانتنامو او د ابوغوریب په زندانونو کې نه پامالېدای او که کومه خور دغه ډول قرباني نشي کولای؛ نو لږ تر لږه خپل ځان؛ خو په کابو کې ساتلای شي، چې زموږ زلمي د دوی او د شیطان په لومه کې ونه نښلي او د خپل راتلونکي په اړه فکر کولو ته وزګار شي او دغو خویندو ته زما له لوري دغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملوريزه ډالۍ ده».

ناسې که ليدلی په پرده کې وي
حسن خومره ښکلی په پرده کې وي
ښېښلې که حيا راسره وپالي
هله به مو کلی په پرده کې وي
«هلال»

منصور د دغه ليک په لوستو دومره وژړل، چې د غونډې ګډونوال يې هم له ځان سره وژړول، هارون رشيد چې د ګډونوالو احساسات وليدل؛ نو راپاڅېده او د جهاد اعلان يې وکړ او خپله هم د غازيانو په لښکر کې غزا ته روان شو؛ نو الله ﷻ مسلمانانو ته بريا هم ورپه برخه کړه.

**رڼا**

په تېرو پسې مه ژاړه، ځکه چې په ژړا تېر وخت نه راستنېږي (خو که په تېرو ګناهونو وژاړې؛ نو ګټه به وکړې، ځکه چې الله ﷻ به دې تېر ګناهونه در وبښي.

**ځلا**

آلَا بِذِكۡرِ اللّٰهِ تَطۡمَىِٕنُّ الۡقُلُوۡبُ ﴿۲۸﴾

ژباړه:

خبردار اوسئ! همدغه د الله ﷻ ياد هغه شی دی، چې په هغه سره زړونو ته ډاډينه ورپه برخه کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**لوړې عقيق:**

**له الله ﷻ پرته کوم عوض نشته.**

عوى الذئبُ فاستأنستُ بالذئبِ إذ عوى - وصوَّت إنسانٌ فكدتُ أطيرُ

ژباړه:

شرمښ وغپلې؛ نو له هغه سره مې مينه پيدا شوه؛ خو چې د انسان اواز مې واورېده نږدې وم، چې الوتلی وای.

يو سړی د لمانځه له وخت پرته جومات ته ننوت؛ نو يو لس کلن هلک يې وليد، چې په ډېرې خشوع سره يې لمونځ کاوه؛ نو د هلک د لمانځه تر خلاصولو يې انتظار وويست، تر لمانځه وروسته ورته راغی سلام يې پرې واچاوه.

سړی: بچيه! ته د چا زوی يې؟ نو هلک سر ښکته کړ او پر اننگو يې اوښکې راغلې او په ژړغوني غږ يې وويل:

هلک: ای تره! زه له موروپلار نه يتيم پاتې يم.

د هلک پر دې خبره پرې د هغه سړي زړه خوږ شو، ورته يې وويل.

سړی: چې زه دې زوی کړم څنگه ده؟

هلک: که وږی شم؛ نو خواړه به راکوې؟

سړی: هو!

هلک: که بربنډ شم؛ نو جامې به رکوې؟

سړی: هو!

هلک: چې ناروغ شم جوړوې به مې؟

سړی: دا کار خو زما په وس کې نه دی.

هلک: چې مړ شم؛ نو راژوندی به مې کړې ؟

سړی: دا هم نه شم کولای.

هلک: ما هغه ذات ته پرېږده، چې زه يې پيدا کړی يم او سمه لار راته ښيي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوراک او څښاک راکوي، چې ناروغ شم جوړوي مې او امید لرم، چې د قیامت په ورځ راته ګناهونه وبښي؛ نو سړی ترې غلی روان شو او له ځان سره یې ویل: ما پر الله ﷻ ایمان راوړی، چا چې پر الله ﷻ ځان وسپاره الله ﷻ به یې کافي شي.

**رڼا**

که خپل ویښتان وتړې او غم ته اجازه ورکړې، چې ستا مری ونیسي؛ نو د تېر شوي وخت یو څاڅکی هم نشې راستنولای.

**ځلا**

وَرَحۡمَتِي وَسِعَتۡ كُلَّ شَيۡءٖ

ژباړه:

خو زما رحمت پر هر څه خور شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دویم عقیق:**

**نېکمرغي شته؛ خو که څوک يې وپلټي!**

وقلت لقلبي إن نزا بك نزوةٌ – من الهمّ افرحْ، أكثرُ الروعِ باطلُهُ

ژباړه:

ما خپل زړه ته وویل که په تا د غم یوه چپه راشي؛ نو خوشحاله شه. ځکه ډېرې وېرې بې بنسټه وي.

هیڅ یو انسان له خپل ځان پرته په بل څه کې نېکمرغي نشي ترلاسه کولای؛ خو بیا هم ورته پکار ده، چې نېکمرغۍ ته د رسېدو غوره لارې چارې ولټوي، د نېکمرغۍ تر لاسه کولو لپاره هغه غوره لارې چارې دا دي، چې، انسان باید ریښتوني، زړور، له کار او خلکو سره مینه، له نورو سره مرسته کوونکی او له ځان ځانۍ څخه پاک او د ژوندي وجدان خاوند وي، ځکه چې نېکمرغي څه توکه نه ده، بلکې یو روښانه حقیقت دی، چې ډېر خلک ترې خوند اخلي او موږ هم ترې ګټه اخستلای شو.

که موږ خپل ځان ته ځیر شو؛ نو د خپل ژوند له تجربو نه ډېر څه ترلاسه کولای شو او له ډېرو رواني ناروغیو خلاصون موندلای شو او خپل دا رنګین ژوند، چې الله ﷻ رابښلی دی، نور یې هم پسې ښه کولای شو او له انکار، مخالفت او بدمرغۍ پرته یې تېرولای شو.

**رڼا**

ښځه فقط غمونه بې وخته بوډۍ کوي.

**څلا**

وَلَسَوْفَ يُعْطِيكَ رَبُّكَ فَتَرْضَىٰ ۝

ژباړه:

او ډېر ژر به ستا رب تا ته دومره درکړي چې ته خوشحاله شې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مریم عقیق:

## ښکلي اخلاق، د زړونو جنت دی

أعلّلُ النفس بالآمالِ أرقبها – ما أضيقَ العيش لولا فسحةُ الأملِ

ژباړه:

ما په امیدونو پورې خپل ژوند تړلی دی. که هیلې نه وای؛ نو ژوند به څومره ډېر تنګ وی.

خلک د انسان لپاره د هېنداريې حیثیت لري، کله چې انسان له نورو سره ښه چار چلن کوي؛ نو خلک به هم ور سره ښه اخلاق کوي؛ نو اعصاب به یې ارام او زړه به یې خوشحاله او په دوستانه فضا کې به ژوند تېروي؛ خو که انسان خپله بد اخلاقه وي؛ نو خلک به هم ور سره بد اخلاقي، سختي او بد ژبي کوي، څکه څوک چې د بل احترام نه کوي؛ نو بل یې هم احترام نه کوي، د ښو اخلاقو خاوند ډاډمن وي، له عصبي او رواني ناروغیو خوندي وي، پر دې سربېره ښه اخلاق د الله تعالی بندګي ده او اسلام پرې ټینګار کړی دی، لکه چې الله تعالی فرمایي:

خُذِ الْعَفْوَ وَ أْمُرْ بِالْعُرْفِ وَ أَعْرِضْ عَنِ الْجٰهِلِيْنَ ﴿۱۹۹﴾

ژباړه:

د نرمۍ او تېرېدنې لار غوره کړه، د ښو چارو ښوونکی اوسه او له ناپوهانو سره مه نښله.

په بل ځای کې د خپل پیغمبر په ستاینه کې داسې فرمایي:

فَبِمَا رَحْمَةٍ مِّنَ اللّٰهِ لِنْتَ لَهُمْ ۚ وَ لَوْ كُنْتَ فَظًّا غَلِيْظَ الْقَلْبِ لَا نْفَضُّوْا مِنْ حَوْلِكَ ۖ فَاعْفُ عَنْهُمْ وَ اسْتَغْفِرْ لَهُمْ وَ شَاوِرْهُمْ فِي الْاَمْرِ ۚ فَاِذَا عَزَمْتَ فَتَوَكَّلْ عَلَى اللّٰهِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ الْمُتَوَكِّلِيْنَ ﴿۱۵۹﴾

ژباړه:

(ای پیغمبره!) دا د الله ﷻ لوی رحمت دی، چې ته د دې خلکو لپاره ډېر نرم

(c) ketabton.com: The Digital Library



خویه جوړ شوی یې، که داسې نه وای او ته تونډ خویه او سخت زړی وای؛ نو دا ټول به ستا له شا و خوا نه خواره شوي وای. د دوی خطاوې وبښه. د دوی لپاره بښنه وغواړه او د دین په چارو کې هغوی ته هم په مشوره کې برخه ورکړه. بیا چې ستا اراده پر کومه رایه ټینګه شي؛ نو پر الله ﷻ توکل وکړه، د الله ﷻ هغه خلک خوښېږي، چې د هماغه په ډاډینه کار کوي.

نبي کریم ﷺ فرمایلي دي:

إن أحبكم إليّ أحاسنكم أخلاقاً، الموطئون أكنافاً، الذين يألفون ويؤلفون، وإن أبغضكم إليّ المشّاؤون بالنميمة، المفرقون بين الأحبة، الملتمسون للبرآء العيب

ژباړه:

په تاسې کې ما ته ډېر خوښ هغه څوک دي، چې اخلاق یې ښه وي ..... له خلکو سره مینه کوي او خلک له دوی سره مینه کوي او ډېر ناخوښ ما ته هغه څوک دي، چې د خلکو ترمنځ شیطانت کوي، دوستان سره جلا کوي او په پاکو خلکو کې عیبونه لټوي.

**رڼا**

د دوه زړتوب، شک او د مشکلاتو تر څنګ له امیدونو پرته ګرځېدل انسان په عصبي ناروغیو اخته کوي.

**ځلا**

لَا يُكَلِّفُ اللّٰهُ نَفْسًا اِلَّا وُسْعَهَا

ژباړه:

الله ﷻ هیڅ نفس ته د هغه له وسې نه پورته مسوولیت نه متوجه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلورم عقیق:

**د نیکمرغۍ لس بنسټونه**

صبر کوه الله تعالی تر تنګسې وروسته پراخي راولي، کېدای شي دغه ستونزه ختمه شي او کېدای شي...

یو امریکایي ارواپوه (د. دیکس) وایي، چې نېکمرغه ژوند تېرول یو ښه هنر دی، چې لس اصول یې دا دي.

لومړی: هغه کار کوه، چې ستا خوښ وي، که د هغه کار زمینه درته سازه نه وي؛ نو بیا هغه کار کوه، چې په وزګارتیا کې یې کوې.

دویم: خپله روغتیا په پام کې نیسه، ځکه روغتیا د نېکمرغه ژوند روح دی او روغتیا په لږ خوراک، څښاک او له ضرري شیانو نه په ځان ساتنه کې نغښتې ده.

درېیم: هر انسان باید په ژوند کې یو هدف ولري، ځکه هدف انسان ته جذبه او خوشحالي وربښي.

څلورم: انسان باید له خپل ژوند سره ځان هماغسې عیار کړي او پر ژوند قناعت وکړي.

پنځم: انسان باید په خپل اوسني ژوند کې فکر وکړي، په تېر پښېمانه او له راتلونکي اندېښمن نشي.

شپږم: انسان باید په خپل کار کې فکر وکړي او نور خلک په خپل فکر ملامته نه کړي.

اووم: انسان باید (په دنیوي چارو کې) تر ځان ښکته خلکو ته وګوري.

اتم: انسان باید ځان د موسکا، خو شحالۍ او د نېکپالو له ملګرتیا سره اشنا کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نهم: انسان هله د نېکمرغۍ خوږبوی محسوسولای شي، چې د نورو په ګټه کار کوي.

لسم: د خوښۍ شېبې غنيمت او د نېکمرغۍ اډې وبولئ.

**رڼا**

له ننني ورځې ګټه پورته کړه او منګولې پرې ټينګې کړه او هغه شی وپلټه، چې درد تر راتلو مخکې ختموي.

**ځلا**

كُلَّ يَوْمٍ هُوَ فِي شَأْنٍ ﴿٢٩﴾

ژباړه:

هره ورځ الله ﷻ په يوه حالت کې دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**پنځم عقیق:**

**په الله ﷻ پورې له غم او اندېښنو څخه پنا وغواړه!**

ولو أن النساء كمن عرفنا - لفضّلت النساء على الرجالِ!

ژباړه:

که ښځې د هغه چا په څېر شي، چې موږ یې پېژنو؛ نو له سړیو به غوره شي.

زه فکر نه کوم، چې کوم هوښیار انسان تازه ګي او خوشحالي نه خوښوي او زما په اند به هیڅ داسې مؤمن نه وي، چې سپېره والي او نهیلي به ښه ایسي؛ خو ډېر ځل پر یو چا حالات داسې لاسبري شي، چې خوښي او ډاډ یې ختم کړي، له دې امله که څوک الله ﷻ مه کړه له داسې حالاتو سره مخ شي؛ نو پکار ده، چې د الله ﷻ لور ته خپل پام راواړوي، چې الله ﷻ یې له هغه مصیبته خلاص کړي، ځکه چې د غم څپو ته ورغاړې وتل لا پسې د تیارو تل ته ور پرېوتل دي او په سره لا په کارونو کې کمزوري رامنځته کېږي.

له همدې امله به رسول الله ﷺ خپلو ملګریو ته له داسې افتونو نه د خلاصې لپاره دعا ور ښووله، چې په داسې حالاتو کې له الله ﷻ څخه د خلاصون دعا غواړئ، لکه چې ابو سعید خدري رضی الله عنه فرمایي:

یوه ورځ رسول الله ﷺ جومات ته راننوت؛ نو په جومات کې یې ناڅاپه پر ابو امامة رضی الله عنه سترګې ولګېدې، چې دا یو انصاري صحابي و؛ نو ویې پوښته، چې ای ابو امامة! څنګه په جومات کې د لمانځه له وخت پرته ناست یې؟ ابو امامة عرض وکړ، چې ای د الله ﷻ رسوله! غمونه او پورونه راغاړې وتي دي، نبي ﷺ ورته وویل: داسې کلمات درته ونه ښیم، چې په ویلو به یې الله تعالی درپېښ غمونه ختم او پورونه دې خلاص کړي ؟ ما عرض وکړ، چې ای د الله ﷻ رسوله! ولې نه! راته یې وښایاست! نو نبي کریم ﷺ راته وفرمایل: کله چې دې سبا کړ (یعني د ورځې په پیل کې) دغه کلماتووایه!

اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْهَمِّ وَالْحَزَنِ وَأَعُوذُ بِكَ مِنَ الْعَجْزِ وَالْكَسَلِ وَأَعُوذُ

(c) ketabton.com: The Digital Library



بِكَ مِنَ الْجُبْنِ وَالْبُخْلِ وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ غَلَبَةِ الدَّيْنِ وَقَهْرِ الرِّجَالِ

سنن أبي داود محقق وبتعليق الألباني - (١ / ٥٦٩)

ژباړه:

ای الله ﷻ زه په تا پورې له کم عقلۍ، سستۍ، بې زړه توب، بخیلتیا، د قرض له ډېرېدو او د خلکو له غوسو نه پناه غواړم.

ابو امامة وايي ما دا کار وکړ؛ نو الله ﷻ مې غمونه ختم او قرضونه يې راڅخه ادا کړل.

## رڼا

د معدې زخم له هغو شیانو څخه نه جوړېږي، چې ته يې خوري، بلکې له هغو شیانو جوړېږي، چې تا خوري.

## څلا

وَمَا بِكُم مِّن نِّعْمَةٍ فَمِنَ اللَّهِ

ژباړه:

پر تاسې ټول نعمتو نه د الله ﷻ له لوري دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



شېرم عقیق:

## د ژوند په سختو کې مرستندویه ښځه

له فاطمة الزهراءﷺ څخه نقل دي، چې دې به ډېرې ورځې په ولږه تېرولې، یوه ورځ یې مېړه، یانې علي ﷺ ولیده، چې رنګ یې تک ژېړ اوښتی و؛ نو مېړه یې وپوښته:

علي ﷺ: فاطمې! دا په تا څه شوي دي، چې داسې ژېړه اوښتې یې؟

فاطمه ﷺ : له تېرو درېوو ورځو راهیسې په کور کې د خوراک څه نشته؛ نو ولږې داسې کړې یم.

علي ﷺ : ما ته دې ولې نه ویل؟

فاطمه ﷺ:ما ته مې پلار (یانې نبي کریم ﷺ) د واده په شپه ویلي وو، چې که علي کور ته څه راوړل؛ نو خوره یې او که رایې نه وړه؛ نو ترې غواړه یې مه!.

ډېرې ښځې د مېړونو د جیبونو په تشولو کې سمې دکتورې کړې وي او ځینې خو لا داسې وي، چې ببخي د مېړه په جیب کې یوه ټکه هم نشي زغملای، یانې چې څه ورسره ووینې؛ نو غواړي، چې له جیبه یې ورته وباسي؛ نو په باریکه وخت کې په کور کې ځان ناروغ کړي او تر هغې نه غلې کېږي، چې د مېړه جیب یې تش کړی نه وي او دا منل شوې خبره ده، چې یو ځل که سړي غاړه کېښوده؛ نو بیا یې د تل لپاره بېرغ نه پورته کېږي او د تل لپاره د بدبختۍ وزرې پرې خورېږي، کېدای شي، چې بدبختي پرې تر ډېر ځنډ وروسته را ستنه شي. او کله دغه بدبختي د خپلمنځي اختلاف بڼه هم غوره کوي او چې کله د خپلمنځي تاو تریخوالي بڼه غوره کړي؛ نو بیا یې مېړه د هغه باندیچي شاعر ـ چې هغه خپله ښځه یې پس له ډېرو سختیو او ستونزو ګاللو وروسته طلاقه کړې وه ـ شعر په خواږه غږ وایي:

طعنت أمامةُ بالطلاقِ - ونجوتُ من غُلّ الوثاقِ

بانت فلم یألم لها قلبي - ولم تدمع مآقي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ودواءُ مالا تشتهيه – النفسُ تعجيلُ الفراقِ

والعيش ليس يطيب بين – اثنين في غير اتفاقِ

ژباړه:

امامة مې په طلاقو وويشته او ځان مې له مضبوطې کړۍ څخه خلاص کړ، هغه چې له ما څخه جلا شوه؛ نو زړه مې پرې هيڅ دردمن نشو او نه مې پرې سترګو اوښکې توې کړې او د هر هغه شي روغتيا، چې زړه يې نه غواړي ژر جلا کېدل دي او د دوو کسانو ترمنځ ژوند له اتفاق پرته نه ښه کېږي.

**رڼا**

ژوند هسې هم ډېر لنډ دی؛ نو موږ يې ولې ښه پسې رالنډ کړو [الکه چې يو پښتو ژبې شاعر قمر زمان قمر تايزی وايي:

دا ژوند خو زموږ کم د محبت لپاره هم دی

حيران يم چې نفرت ته وزګارېږي خلک څنګه]

**ځلا**

کاميابي دا ده، چې هره ژبه تا وستايي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**اووم عقیق:**

## جنتی ښځه

إن ربًّا كان يكفيك الذي - كان منك الأمس يكفيك غدك

ژباړه:

ستا هغه رب، چې پرون ستا د کارونو لپاره بس و؛ نو سبا هم بس دی.

عطاء بن ابي رباح‌ د ابن عباس  له خولې وايي، هغه راته وويل، چې يوه جنتی ښځه در ونه ښيیم؟ ما عرض وکړ، چې ولې نه! هغه راته وويل، چې دغه توره ښځه وينې؟ دغه ښځه نبي ته راغله او ورته يې وويل، چې پر ما هره ورځ مېرګي راځي، را غورځېږم او چې مېرګي راباندې راشي؛ نو بيا خپل کالي شلوم او ځان بې ستره کوم، ته له الله تعالی څخه زما لپاره سوال وکړه، نبي ورته وفرمايل: ستا خوښه که صبر پرې کولای شې؛ نو الله به د دغه صبر په بدله کې جنت درکړي او که صبر پرې نشې کولای؛ نو هم خوښه دې، زه به الله ته دعا وکړم روغه به دې کړي. هغې ښځې وويل، چې پر دې ناروغۍ صبر کولای شم؛ خو فقط له بې پردې کېدو نه د خلاصون دعا راته وکړه، چې که مېرګي راباندې راځي، خير دی؛ خو چې ځان نه بې ستره کوم؛ نو نبي د هغې لپاره دغه دعا وغوښته (بيا به چې پرې مېرګي راغلل؛ نو خپل کالي به يې نه شکول).

دغه مؤمنې او پرهېزګارې ښځې په دې فاني دنيا کې پر مصيبت څکه صبر ته چمتو شوه، چې د صبر په مقابل کې الله تعالی ورته جنت ورکړي او دغه سودا يې وګټله؛ نو جنتی شوه؛ خو دا خبره يې بده وګڼله، چې عورت يې ښکاره شي او خلک ورته وګوري، څکه دا کار له مسلمانې، پرهېزګارې او پاکې ښځې سره نه ښايي؛ نو موږ به دې بربنډو او لغړو ښځو ته څه ووايو،

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د نړۍ نېکمرغه ښځه

چې د خپلې ښکلا د ښکاره کولو په لړ کې ډېرې هلې ځلې کوي او د حیا بورقعې لا پخوا له سره غورځولې دي.

**رنا**

په لوی لاس ځان د خپکان ښکار کوه مه! له صبر او زغم نه کار اخله او په ثابت قدمۍ د حقیقت مقابله کوه او هغه کار کوه، چې له تا سره ښايي!

**ځلا**

د انسان د صبر او ریښتینولۍ په کچه مرسته راځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**اتم عقيق:**

## خيراتونه د مصيبتونو مخه نيسي

وفي كلّ شيءٍ له آيةٌ - تدلُّ على أنه الواحدُ

ژباړه:

هر شی د الله تعالی پر يو والي ګواهي ورکوي.

صدقه د سينې د پراخۍ له دروازو څخه يو لويه دروازه ده، که څوک په دې فاني دنيا کې پر چا څه لګښت وکړي، ياني صدقه پرې وکړي؛ نو په دې دنيا يې ستره ګټه دا ده، چې الله ﷻ به يې سينه پراخه کړي، زړه ته يې خوشحالي او رڼا ورببښي ،له دې امله موږ ټولو ته پکار ده، چې ځان له صدقې او خيراتونو سره اشنا کړو، هغه لږ او که ډېر وي؛ خو صدقه ترې کول پکار دي، ياني د چا چې څومره وس وي، بايد د خپل وس مطابق صدقه هر چا ته کول پکار دي، که چا د يوې خرما، يوې مړۍ ډوډۍ، يو ګوټ اوبو، يا شېدو د خيراتولو وس لري؛ نو هغه دې خيرات کړي [ځکه چې الله ﷻ د چا د خيرات کميت او کيفيت ته نه ګوري، بلکې د انسانانو نيتونو ته ګوري، چې دوی يې په څه نيت صدقه کوي، زما د رضا لپاره يې خيراتوي او که د ځانښودنې لپاره يې کوي، بله دا چې که څوک د لږ څه خيراتولو وس نه لري؛ نو لږ تره لږه په ورين تندي له چا سره مخ کېدل او چا ته خوږه خبره کول هم صدقه ده] همدا راز که د ناروغ پوښتنه وکړئ؛ نو په دې سره به هم الله ﷻ له تاسې نه غمونه او مشکلات سپک کړي، صدقه يوه داسې دوا ده، چې يوازې د اسلام په درملتون کې موندل کېدای شي.

يو چا له عبدالله بن مبارک ﷺ څخه پوښتنه وکړه، چې ای ابو عبدالرحمانه! له اوو کالو راهيسې مې پر زنګانه يوه دانه راختلې ده، له ډېرو طبيبانو مې پوښتنه وکړه او ډېرې دوا ګانې مې وخوړې؛ خو هيڅ ګټه يې را نه کړه؟!

عبدالله بن مبارک ﷺ ورته وويل، چې لاړ شه! په يو داسې ځای کې څا

(c) ketabton.com: The Digital Library



(کوهی) وکنه، چې هلته خلک اوبو ته ډېره اړتیا لري؛ ان شاء الله چې په هغه ځا کې د اوبو په راختلو سره سم به ستا له زنګانه نه د وینې راوتل بند شي او دغه درپېښه ناروغي به دې ښه شي، څنګه چې هغه سړي دغه کار وکړ؛ نو الله ﷻ روغ جوړ کړ.

زما خوږې خورې؛ دا څه نا اشنا خبره نه ده، ځکه نبي ﷺ فرمایلي دي، چې په صدقه د خپلو ناروغانو درملنه وکړئ!

همدا راز نبي کریم ﷺ فرمایي، چې صدقه د الله ﷻ غوسه سړوي او د بد مرګ مخه نیسي.

**رڼا**

اندېښنې له وزګارتیا سره ملې دي.

**ځلا**

حُورٌ مَّقْصُورَٰتٌ فِى ٱلْخِيَامِ ۝

ژباړه:

(په جنت کې) داسې حورې دي، چې په خیمو کې بندې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د نیکمرغه بنځې د

لا نیکمرغۍ لپاره

لس

# نایابه

# مرغلرې

(c) ketabton.com: The Digital Library



**نهم عقیق:**

**ښایسته روحې شه، ځکه ښایسته پیدا یې**

ولا تجزع لحادثة الليالي - فما لحوادث الدنيا بقاءُ

ژباړه:

له مصیبتونو څخه ډېر فریادونه مه کوه! ځکه د د نیا حوادث نه پاتې کېږي.
په اسمان کې ستوري دومره ښکلي ښکاري، چې زړونه د ځان په لور راکاږي او ښکلا یې ورځ په ورځ زیاتېږي، همدا راز اسمان هم بېلابېلې بڼې بدلوي، لکه د لمر له پرېوتو نه تر راختو پورې یو ډول حالت وي، د سپوږمۍ په شپه ستوري او اسمان یو ډول، په تکه توره شپه یې بیا بڼه بل ډول وي، همدا راز شین اسمان یو ډول او د وریځې په ورځ بیا اسمان بل ډول وي، چې دغه هر څه یې په خپل ځای زړه راښکون لري.
همدغه ستوري دي، چې په تکه توره شپه کې له اسمانه سترګکونه وهي او په ټول اسمان کې خواره واره پاشل شوي دي او دغې ښکلې سپوږمۍ ته وګورئ، چې په تکه توره شپه کې موږ ته خوږه تته رڼا راکوي او دغې خلاصې فضا ته وګورئ، چې ورته په کتو له سره د سړي زړه نه تنګېږي، دغه په زړه پورې ښکلا په الفاظو کې نشي رانغښتل کېدای، لنډه دا چې انسان د دغې ښکلا په لیدو ژوندی وي.

**رڼا**

له کومې بلا نه چې نه خلاصېږې، هغې بلا ته دوه ځله خانده، ځکه خپګان څه ګټه نه لري.

**ځلا**

وَلَا تَبَرَّجْنَ تَبَرُّجَ الْجَاهِلِيَّةِ

ژباړه:

د جاهلیت د زمانې په څېر پردیو سړیو ته خپل سینګار مه ښکاره کوئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لسم عقیق:

**خپل تاریخ لیکونکې عظیمه ښځه.**

أتری الشوك في الورود وتعمى - أنْ تری فوقه الندی إکلیلا

ژباړه:

ته په ګلانو کې اغزي وینې؛ خو د ګلانو په سرونو د تاج په څېر پرته پرخه نه وینې!.

عثمان بن عفان ﷺ د رومیانو د مقابلې کولو لپاره حبیب بن مسلمة الفهري د یوه لښکر امیر وټاکه، رومیانو هم خپل خلک د مسلمانانو مقابلې ته راپارولي وو، د حبیب ښځه هم د دې لښکر یوه عسکره وه، د جنګ تر پیل کېدو مخکې حبیب پر خپل لښکر راګرځېده، په دې لړ کې یې پر خپله ښځه سترګې ولګېدې، ښځې خپل مېړه، یانې حبیب بن مسلمة وپوښت، چې کله جنګ تود شي او صفونه یو په بل کې ننوځي؛ نو په دغه وخت کې دې زه چېرته ولټوم؟ حبیب ورته په ځواب کې وویل، چې په دغسې وخت کې ما د روم د پاچا په خېمه کې لټوه، که هلته دې ونه موندلم؛ نو بیا به مې په جنت کې وینې، کله چې د جنګ میدان تود شو، حبیب او د هغه ملګریو په بې ساري زړورتیا او مېړانه وجنګېدل ان تر دې چې الله تعالی پر رومیانو لاسبري کړل؛ نو حبیب د روم د پاچا د کېږدۍ پر لور منډه واخیسته، چې هلته د خپلې ښځې انتظار وکړي؛ خو کله چې د کېږدۍ دروازې ته ورسېده؛ نو هک پک حېران دریان ودرېد، ځکه چې ښځه یې تر ده مخکې هغې خېمې ته ننوتې وه او هلته شهیده شوې پرته وه!!!.

که ښځې داسې وای؛ نو تر سړیو به هم غوره وای.

**رڼا**

په ژوند کې هیڅ داسې سخت کار نشته، چې هواری ونه لري؛ خو په دې شرط، چې په انسان کې د کار کولو وړتیا وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**لومړۍ مرغلره:**

**خپل وختونه په هوا کې مه لګوه!**

نزداد هماً كلما ازددنا غنىً - والحزن كل الحزن في الإكثار
ژباړه:

کله چې مو مالداري زیاته شي؛ نو غمونه ډېر شي، ځکه چې د مال له ډېرښت سره غمونه تړلي دي.

نبي ﷺ عائشې ؓ ته فرمايلي وو ((که تا ګناه کړي وي؛ نو له الله ﷻ نه ښښنه وغواړه او توبه وباسه، ځکه کله چې بنده پر خپله ګناه اقرار وکړي (او توبه ترې وباسي) نو الله تعالی ورته ګناه ببښي)).

تاسې فکر وکړئ فرض کړئ، چې تاسې ته د خپلې خوښې ژوند در په برخه شو او څه چې مو غوښتل هغه مو تر لاسه کړل؛ خو ناڅاپه دغه هرڅه ستاسې له لاسه بېرته ووځي، په داسې حال کې چې هيڅ ګټه مو ترې نه وي پورته کړې؛ نو په دغه وخت کې به تاسې څومره خوابدې او دردمنې شئ، افسوس به کوئ او لاسونه به مږئ او له ډېرې خواشينۍ نه به پر خپلو لاسونو چکونه لګوئ، همدغه مثال د ژوند دی، چې دا دومره ارزښتناک شی له تاسې نه خوشې په خوشې تېرېږي او تاسې ترې هيڅ ګټه نه پورته کوئ؛ نو سبا د قيامت په ورځ به همدغسې خپه او پښېمانه ياستئ، چې ولې مو په دنيا کې له ژوند څخه ګټه نه پورته کوله؟.

دغه عمر يوه داسې ارزښتمنه مرغلره ده، چې په مادياتو نه اندازه کېږي، ستا عمر له ډېرو قيمتي شيانو عبارت دی؛ خو دغه قيمتي شيان ستا له لاسه وځي او بېرته نه راګرځي، او دغه قيمتي شيان په دنيا کې ستا راس

(c) ketabton.com: The Digital Library



المال دی، چې د جنت هر نعمت پرې اخیستل کېدای شي؛ نو بیا دغه ژوند له توبې پرته ولې ضائع کوې؟

**رڼا**

د نېکمرغۍ یوازینۍ لار دا ده، چې له هغو چارو ځان وساتل شي، چې پرې لاسبري نه یاست.

**ځلا**

فَسَيَكۡفِيكَهُمُ ٱللَّهُۚ

ژباړه:

ستا لپاره به الله ﷻ پوره شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دويمه مرغلره:**

## نېکمرغي په پيسو نه اخستل کېږي

والنفس راغبةٌ إذا رغبتها - وإذا تُردُّ إلى قليل تقنعُ

ژباړه:

نفس پر هر څه لاسبرى کېداى شي؛ خو که څوک يې هغه لور ته وهڅوي؛ خو که خپله يې خواهشاتو ته هڅوې؛ نو بيا ډېر لږ خواهشات دي، چې ښايي نفس ترې منع شي.

ډېرو خلکو خپله ځواني او روغتيا د مال ګټلو په لړ کې له لاسه ور کړه، بيا يې دغه مالونه د نېکمرغۍ د ترلاسه کولو په لړ کې وکارول؛ خو د نېکمرغۍ پر ځاى يې بدبختي په برخه شوه، ځکه دغو خلکو خپل مال د ځوانۍ د راستنولو لپاره ولګاوه؛ خو زړښت راونيول،شتمني يې د روغتيا لپاره ولګوله؛ نو نه رغېدونکي ناروغۍ لا پسې کمزوري کړل.

يو پوه کس وايي چې د ژوند ټوله ارزو مې د مال ګټل دي، دا ګومان يې کاوه، چې د سلو کلو لپاره دې د دې مال له امله نېکبخته شي او پر مال باوري و، چې ټولې ارزوګانې به يې پوره کړي، خوبونه، ارزوګانې او دنيا به يې مخې ته ذليله سجدې کوي، تر شلو کلونو وروسته ورته له خپلې ارزو نه څو چنده ډېر مال ورکړل شو؛ خو خوب، روغتيا او ځواني ترې لاړه، داسې ويل کېږي، چې ده به ويل: کاش! چې له الله ﷻ څخه مې مال نه وى غوښتلاى، کاش! چې له الله ﷻ څخه مې سل کاله غريبې غوښتې واى، پيټي مې خوړلى، ان تر دې چې د کرايه ورکولو وس مې هم نه درلوداى!

دغه کس د روغتيا قدر تر هغې نه پېژانده، چې ترې لاړه او مخکې پر دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځېره نه پوهېده، چې نېکمرغي په پيسو نه اخيستل کېږي، ځکه اوس خپله ژوله شتمني ولګوي؛ نو تېره شوې يوه ورځ پرې نشي راستنولای.

**رڼا**

له انسان سره نه ښايي، چې خپل نيم ژوند په شخړو کې تېر کړي.

**ځلا**

وَاسْتَعِينُوا بِالصَّبْرِ وَالصَّلٰوةِ

ژباړه:

په صبر او لمانځه مرسته وغواړئ!

(c) ketabton.com: The Digital Library


درېيمه مرغلره:

## توندي او غوسه د بدبختۍ د اور لرګي دي

منىً إن تكن حقاً تكن أحسن المنى - وإلا فقد عشنا بها زمناً رغداً

ژباړه:

اى زما ارمانونو! كه تر سره شوئ؛ نو ډېر خوند به وكړي؛ خو كه تر سره نشوئ؛ نو تر تاسې پرته هم ژوند ښه تېرېږي.

صبر او نرمي د لوړې هوښيارتيا نښه ده او په دې سره انسان پر خپله غوسه او كم عقلۍ لاسبرى كېږي "اناة" توندي نه كولو، كلك هوډ لرلو او په عقل او پوهې سره د چارو تر سره كولو ته وايي، دغه دوه خويونه دي، چې له اندېښنو سره ډغرې وهي او دغه دوه خويونه ياني صبر او اناة، كه په چا كې نه وي؛ نو له ډېرو ښېګړو بې برخې كېږي او د اندېښنو په مېچن له دل كېدو سره مخ كېږي، ځكه صبرناك په خپل صبر ډېر شرونه ستنوي، او تونده خويه سړى وړوكى شر هم غټوي، د اندېښنو لاملونه زياتوي او د اناة والا انسان ډېر كم پښېمانه كېږي او ډېر لږ داسې كار كوي، چې له پايلې يې ناخبره وي، همداراز نرم خويه كس خپلو اعصابو ته ګټه رسوي، ځكه تل يې اعصاب نورمال او زړه ډاډمن وي.

زموږ د اسلام خالص دين په نرمۍ، صبر او اناة ډېر ټينګار كوي، لكه چې نبي ﷺ فرمايلي دي:

په كوم شي كې چې نرمي وي؛ نو نرمي هغه شي ته ښكلا وربښي او په كوم شي كې چې نرمي نه وي؛ نو هغه عيبجن وي.

### رڼا

موږ د خپل ژوند ارزښتمنې شېبې په بې ارزښته شيانو خرابوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**خلورمه مرغلره:**

## د مال د راټولولو لوبه پای نه لري

خذوا كلَّ دنياكمُ واتركوا - فؤادي حراً طليقاً غريبا

ژباړه:

تاسې خپله ټوله دنیا واخلئ؛ خو زما زړه خپلواک، خلاص او غریب پرېږدئ!

بیفر بروک وايي: ما ډېره شتمني وګټله؛ خو پر دې پوه شوم، چې د مال د راټولولو سيالي يوه داسې خطرناکه لوبه ده، چې هيڅ پای نه لري، ټول ژوند له منځه وړي او نېکمرغي ختموي؛ نو ځکه مې خپل لوری بدل کړ او بلې خوا ته مې مخه کړه،يانې د مال ګټلو هڅه مې پرېښوده او د ټولنې په خدمت کې د نېکمرغۍ په لټه کې شوم.

زه هر سړي ته دا نصيحت کوم، چې د مال راټولو لوبه پرېږدي او له دغه کاره له واره لاس واخلي او چې څه يې کړي وي ، له هغې ګټه واخلي او د ټولنې د خدمت لپاره خپلې متې راونغاړي، ځکه چې د مال راټولونکی له ډېر مال څخه خپله لږه ګټه پورته کوي او نور هرڅه يې وارثانو ته پاتې وي.

**رڼا**

ځان پر دې ښه پوه او ډاډمن کړه، چې هر کار اسان دی او هيڅ کار درته ناشونی نه دی!

**ځلا**

يَٰنَارُ كُونِي بَرْدًا وَسَلَٰمًا عَلَىٰٓ إِبْرَٰهِيمَ ﴿٦٩﴾

ژباړه:

ای اوره! پر ابراهيم ﷺ يخ او سلامتيا وګرځه!

(c) ketabton.com: The Digital Library



**پنځمه مرغلره:**

## وزګارتیا بدګمنۍ رازېږوي

ما کلُّ ما یتمنی المرء یدرکه - تجري الریاح بما لا تشتهي السفنُ

ژباړه:

د انسان ټول ارمانونه نه پوره کېږي، ځکه چې هواګانې د بېړۍ وان په خوښه نه چلېږي.

د وزګارتیا په غېږ کې په زرګونو رذالتونه رازېږېږي، که محنت او خواري د ژوندیو صفت وګڼل شي؛ نو وزګار خلک په مړو حساب دي، د دنیا دا ژوند د یوه وروستني لوی ژوند لپاره د کروندې په څېر دی، وزګار خلک باید بیا بې پیسو او بې فصله راپاڅول شي او له هلاکت او تاوان پرته هیڅ شی ورسره نه وي.

نبيﷺ د زرګونو خلکو غفلت او بې پروایۍ ته اشاره کړې، چې دوی ته د روغتیا او وخت نعمتونه ورکړل شوي نبيﷺ فرمایلي دي «دوه داسې نعمتونه دي، چې ډېر خلک پکې تاوانیان دي، یوه روغتیا او بله وزګارتیا»

هو! ډېر داسې روغ بدن والا خلک شته، چې په دې ژوند کې له کوم امید او مشغولتیا پرته پرېشانه وي او داسې پیغام هم ورسره نه وي، چې دا یې په ژوند کې د کامیابولو لپاره هڅه وکړي، ایا خلک د دې لپاره پیدا شوي؟

نه!

الله تعالی فرمایلي دي:

اَفَحَسِبْتُمْ اَنَّمَا خَلَقْنٰكُمْ عَبَثًا وَّ اَنَّكُمْ اِلَيْنَا لَا تُرْجَعُوْنَ۝ فَتَعٰلَى اللّٰهُ الْمَلِكُ الْحَقُّ

ژباړه:

ایا تاسې ګومان کوئ، چې موږ بېکاره پیدا کړي یاستئ او موږ ته به نه راستنېږئ، الله تعالی چې په حق بادشاه دی اوچت دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژوند د یوه حق لپاره پیدا شوی دی؛ نو پر ځمکه، اسمان، انسان او پر هغه څه چې د ځمکې او اسمان ترمنځ دي، پرې لازم ده، چې دغه حق وپېژني او د همدې برابر ژوند سر ته ورسوي.
که یو انسان د شهوتونو په بېړۍ کې سپور شي او د هغې په پوره کولو کې له هر څه نه بې پروا شي؛ نو دغسې انسان د ځان لپاره په اوسني او راتلونکي وخت کې ډېر بد ځای تیار کړ.

**رڼا**

د تل لپاره په خیال کې د کامیابۍ انځور کېنوه او په ذهن کې یې کلک کړه!.

**ځلا**

﴿وَيَرْزُقْهُ مِنْ حَيْثُ لَا يَحْتَسِبُ﴾

ژباړه:

الله ﷻ ورته له داسې ځایه رزق ورکوي، چې د ده ګومان هم نه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**شپږمه مرغلره:**

**له غوسې، شور او ستړيا نه خوندي کور**

والفتى الحازمُ اللبيبُ إذا ما - خانه الصبرُ لم يخنه العزاءُ

ژباړه:

له هوښيار او عقلمن ځوان سره، که صبر خيانت وکړي؛ نو کلکوالی ورسره خيانت نه کوي.

خپل پلار ته يې د ژړا په حال کې وويل: ((ای پلاره! زما او د مېړه ترمنځ بېګاه څه شخړه رامنځته شوه؛ نو زما د يوې خبرې له امله غوسه شو، چې کله زه د هغه پر غوسه پوه شوم؛ نو پر خپلو کړو پښېمانه شوم او هغه ته مې عذر وړاندې کړ؛ خو هغه زما عذر ونه مانه او مخ يې راڅخه واړاوه؛ نو زه يې تر هغې تر خوا تاوېدم راتاوېدم، چې ويې خندل او له ما خوشحاله شو؛ خو زه بيا هم له خپل رب نه وېرېدم، هسې نه، چې ما په هغه وخت راونه نيسې، چې د مېړه د خپګان پر مهال مې د هغه وينه پکې سېځلې ده؛ نو پلار يې ورته وويل، چې ای لورې! که ته د مېړه تر خوشحالولو مخکې مړه وای؛ نو زه به هم له تا خوشحاله نه وای، ته نه پوهېږې، چې له کومې ښځې څخه مېړه خپه وي؛ نو په قرآن، تورات، انجيل او زبور کې پرې لعنت ويل شوی او د مرګ چيچې پرې سختېږي، قبر پرې تنګېږي او د هغې ښځې لپاره خوشحالي ده، چې خاوند ترې خوشحاله وي.

نېکمرغه ښځه تل په دې هڅه کې وي، چې د خپل مېړه خوښه وي او داسې کار ترې و نشي، چې د دې او د مېړه ترمنځ ژوند پرې داغجن کړي.

يوه سړي خپلې ښځې ته د نصيحت پر مهال داسې وويل:

خذي العفو مني تستديمي مودتي - ولا تنطقي في سورتي حين أغضبُ

ولا تنقريني نقركِ الدفَّ مرةً - فإنك لا تدرين كيف المُغيَّبُ

ولا تُكثري الشكوى فتذهب بالهوى - ويأباكِ قلبي والقلوب تقلّبُ

(c) ketabton.com: The Digital Library



فإني رأيت الحبَّ في القلب والأذى - إذا اجتمعا لم يلبث الحبُّ يذهبُ

ژباړه:

له ما نه ښښنه وغواړه، چې دوستي مو تل پاتې شي او چې زه غوسه شم؛ نو ته خبرې مه کوه! او ما د چمبې په څېر مه ډنگوه، ځکه ته نه پوهېږې، چې پټ څه شی دي.

ډېرې گیلې مه کوه! هسې نه چې مینه مې درسره ختمه شي او زما زړه له تا انکار وکړي، ځکه زړه اوښتونکی راوښتونکی شی دی او ما ولیدل، چې کله محبت او تکلیف دواړه په یوه زړه کې راټول شي؛ نو محبت ترې کډه کوي.

**رڼا**

د کمزورتیا انځور پرېږده او له ذهنه یې وباسه!

**ځلا**

لا امان لمن لا ايمان لها.

ژباړه:

د هغه چا لپاره امن نشته، چې ایمان پکې نه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**اوومه مرغلره:**

## پاکلمني او حیا د ښایسته وو ښکلا ډېروي

ولما قسا قلبي وضاقت مذاهبي - جعلتُ الرجا مني لعفوك سُلماً

ژباړه:

کله چې مې زړه کلک او لارې مې تنګې شوې؛ نو خپل امید مې ستا ښښنې ته زینه کړ.

تاسې د ام سلمې ﵂ دغه حدیث اورېدلی دی، چې کله یې له نبي ﷺ څخه دغه ګلمات واورېدل ((چا چې خپله جامه د تکبر له امله ښکته کړه؛ نو الله ﷻ به ورته د قیامت پر ورځ ونه ګوري؛ نو ام سلمې عرض وکړ، چې دا ښځې به له خپلو لمنو سره څه کوي؟ نبي ﷺ ورته وویل: یوه لوېشت دې یې ښکته کړي، ام سلمې بیا عرض وکړ، چې په دې سره به یې پښې ښکارې؟ نبي ﷺ ورته وفرمایل، چې یو ګز دې یې ښکته کړي او له دې څخه ډېر دې یې نه ښکته کوي)).

ای د مؤمنانو مورې الله ﷻ دې ډېر خیر درکړي!! ای ام سلمې ﵂ الله دې ډېر خیر درکړي! ام سلمة متکبره او د ناز خاونده نه وه؛ خو د مسلمانانو ښځې حیاناکې، پاک لمنې او پتمنې وې، نه غواړي چې پښې یې ښکاره شي او جامې یې لمن دارې وې په ځان پسې یې پر ځمکه راکاږي؛ خو زموږ د اوسنی پېر ښځې (اِلَّا مَنۡ رَّحِمَ رَبُّكَ) خپلې لمنې له لمدېدو او خاورو نه د ساتلو په موخه تر خپله وسه پورته راکاږي او پر دې سرېېره، که وس یې وشي؛ نو د کافرو او زناکارو ښځو د تابعدارۍ له امله یې وباسي هم او د بربنډېدو او بې حیا کېدو لپاره (ولاحول و لاقوة الا بالله) په زرګونو لارې چارې ګوري او په سرېو کې هم د سرېتوب فقط نوم پاتې دی، د دوی خوا ته ورځي او هیڅ باک یې نه ګڼي، حیا لاړه:

یعیش المرء ما استحیا بخيرٍ - ويبقى العودُ ما بقي اللحاءُ

(c) ketabton.com: The Digital Library



فلا والله ما في العيش خيرٌ - ولا الدنيا إذا ذهب الحياءُ

ژباړه:

کله چې په سړي کې حيا وي، ژوند به يې له خيره ډک وي او لرگی تر هغې پاتې کېږي، چې پوستکی پرې وي، پر ژوند غرور نه دی پکار، قسم پر الله ﷻ، چې په ژوند او دنيا کې له حيا پرته هيڅ خير نشته.

**رڼا**

راحة الجسم في قلة الطعام .. وراحة النفس في قلة الآثام ..

وراحة القلب في قلة الاهتمام .. وراحة اللسان في قلة الكلام.

ژباړه:

د بدن روغتيا په لږو خوړو کې ده او د روح روغتيا د گناهونو په کم والي کې ده او د زړه روغتيا د غمونو په کموالي کې ده او د ژبې روغتيا د خبرو په کموالي کې ده.

**څلا**

صبرناک، ښه کارونه لاسته راوړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


**اتمه مرغلره:**

## کله الله ﷻ پټ شیان هم راښکاره کوي

يا ربِّ أول شيءٍ قاله خلدي - أني ذكرتك في سري وإعلاني

ژباړه:

ای ربه تر ټولو لومړی شی، چې زما زړه یې وایي هغه دا دی، چې زه دې ښکاره او پټ یادوم.

تر شلن کلن بېلتانه وروسته الله تعالی مقرره کړه، چې مور له خپلې (۲۵) پنځه ویشت کلنې پېغلې لور سره (په یوه همداسې نا اشنا کیسه کې) مخ کړي.

مور یې د خپل مخکني مېړه تر جدا والي وروسته له بل مېړه سره نکاح وکړه، په داسې حال کې، چې لور یې درې کلنه وه...د مور او لور تر منځ یو اوږد بېلتون رامنځته شو...کلونه پس تر ډېرې پلټنې وروسته د اوړي په یوه ښکلې ورځ د سودة په غرونو کې یې د دغه ښځې هماغه ورکه لور د چکر لپاره سېل ځای ته راوتې وه، ناڅاپه له یوې سردارې سره مخ شوه، په مشغولتیا سره بوختې شوې، قدرت ته ګوره، چې مور او لور سره مخامخ ولاړې دي؛ خو سره نه پېژني، په دې جریان کې ناڅاپه یې مور د لور په پړسېدلې ګوته سترګې ولګېدې، چې دا یې د لور بېلوونکې نښه وه، مور یې دغه پېغله وپوښتله، چې لورې مور دې شته که نه؟ نو هغې پېغلې ورته د خپل ژوند پوره کیسه وکړه، د نجلۍ د کیسې په اورېدو ښځه پوه شوه، چې دا هماغه له شلو کالو راهیسې ورکه لور ده، چې نن الله ﷻ راسره په ناڅاپي ډول په دې سېل ځای کې مخ کړه، مور یې همداسې په غېږ کې راونیوله او په ښکلولو یې سر شوه.

**رڼا**

نېکمرغي هله تر لاسه کېدای شي، چې انسان په خپل تېر او راتلونکي فکر وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**نهمه مرغلره:**

**یوه داسې کلمه ده، چې ځای او وخت نه لري**

يا منْ إليه المشتكى والمفزعُ - أنت المعدُّ لكلِّ ما يُتوقعُ

ژباړه:

ای هغه ذاته! چې د فریاد او ګیلې ځای یې او ته د هر هغه شي وعده کوې، چې امید یې کېږي.

موسی ﷺ فرمایلي وو: ((ای الله! داسې یوه دعا راته وښییه! چې تا پرې راغواړم او جر ګه درسره پرې کوم)) الله تعالی ورته وفرمایل: (( ای موسی! ﴿لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ﴾ وایه!

موسی ﷺ وویل: دا خو ټول خلک وایي، الله تعالی ورته وفرمایل، که دا اووه اسمانونه او ځمکې د تلې په یوه چابړې کې کېښودل شي او دا کلمه په بل کې؛ نو لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ کلمه به پرې درنه شي)).

د لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ پر قېدونکي رڼاګانې او شغلې د ګناهونو وریځ له منځه وړي، د لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ کلمې ویونکي له ډېرې رڼا څخه برخمن دي، چې یوازې الله تعالی پرې پوهېږي.

دغه رڼا د ځینو خلکو په زړونو کې د لمر په څېر روښانه وي، د چا په زړه کې د پر قېدونکي ستوري په څېر وي، د ځینو په زړونو کې د یوې سترې شغلې په ځلانده څېر وي او د ځینو په زړونو کې د تېزې ډیوې په څېر وي او په زړونو کې بېخي تته وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د نړۍ نیکمرغه ښځه

د چا په زړه کې چې د دغې کلمې رڼا خومره ډېره ؛ نو په هماغه کچه د انسان په ذهن کې شبهې او شهوتونه سېځي.

**رڼا**

د مؤمن نیکمرغي د الله ﷻ په مینه کې ده او د الله ﷻ لپاره مینه داسې نیکمرغي ده، چې تر هر شي ډېره ژوره ده، چې په خوند یې رښتیني مؤمنان پوهیږي او هغوی د دغې خوند په مقابل کې بل هیڅ شی نه قبلوي.

**څلا**

ښځه تر ټولو خزانو ډېره لوړ بیه او تر ټولو شتمنیو ستره شتمني ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د مسلماني ښځې د
# نیکمرغۍ
# د لاډېرولو لپاره لس
# ګامې

(c) ketabton.com: The Digital Library



لسمه مرغلره:

## جنت ته لېوال زړونه

اسعدي بالحياة قبل المماتِ - واقطفي الزهر قبل ريح الشتاتِ

ژباړه:

تر مرګ مخکې په ژوند نېکمرغه شه او د خزان له بادونو څخه مخکې ګلان راوشکوه.

تاسې د صالح بن حيي د ښځې هغه کيسه اورېدلې ده؟ چې په ځوانۍ کونډه شوه او دوه غبرګې ماشومان ورته پاتې شو، کله چې دغه يتيمان بچي يې پر ښه او بد پوه شول؛ نو دغې کونډې مور يې تر هر څه له مخه ورته د الله ﷻ عبادت او د شپې تهجد وروښوول او ورته يې وويل، چې بچيو ښه به دا وي، چې زموږ په کور کې د شپې هيڅ يوه شېبه هم د الله ﷻ له ذکر پرته تېره ،يانې موږ بايد ټوله شپه د الله ﷻ په ياد روڼه کړو، بچيو يې ورسره ومنله؛ نو مور يې شپه پر درېو برخو ووېشله او بچيو ته يې وويل، پلانکيه! چې د شپې په لومړۍ برخه کې به ته عبادت کوئ او په دويمه برخه کې به دې دغه بل ورور عبادت کوي او وروستۍ برخه به زه د الله ﷻ په عبادت روڼوم ، ځکه چې د سهار لمانځه ته مو راپاځوم.

زامنو يې ورسره په ورين تندي دغه خبره ومنله او عبادت يې ملا وتړله؛ خو کله چې يې مور مړه شوه؛ نو زامنو يې بيا هم د شپې هغه عبادت پرې نه ښود. ځکه چې په زړونو کې يې د عبادت مينې ځای نيولی و او تر هرڅه ورته هماغه شپېې خوندورې ښکارېدې، چې دوی پکې د شپې عبادت کاوه.

همدا لامل و، چې د مور تر مړينې وروسته يې په خپلو کې سره سلا وکړه، چې مور؛ خو مړه شوه، چې د شپې درېيمه برخه به يې راسره په عبادت

(c) ketabton.com: The Digital Library



روڼوله؛ نو اوس باید شپه په دوو برخو وویشو، چې نیمه شپه به زه عبادت کوم او بل ورور ته یې وویل، چې پاتې شپه یې ته کوه... که کله به له دغو دواړو نه کوم یو ډېر ناروغ شو؛ نو هغه بل به ټوله شپه په عبادت روڼوله..

**رڼا**

په ښه طریقه ژوند د نېکمرغۍ صحیح بلنه ده.

**ځلا**

وَإِنْ تَعُدُّوا نِعْمَةَ اللَّهِ لَا تُحْصُوهَا

ژباړه:

که د الله ﷻ نعمتونه شمېرئ؛ نو نه یې شئ شمېرلای، یانې په شمېر کې یې رابندولای نه شئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**لومړۍ، ګوتمه:**

**د تقدير په ښو او بدو ايمان لرل**

كنز القناعة لا يخشى عليه ولا - يحتاج فيه إلى الحراس والدولِ

ژباړه:

قناعت يوه داسې خزانه ده، چې نه يې د غلا کېدو ويره وي او نه ساتونکي ته څه اړتيا لري.

الله تعالی فرمايي:

مَآ اَصَابَ مِنْ مُّصِيْبَةٍ فِي الْاَرْضِ وَلَا فِيْٓ اَنْفُسِكُمْ اِلَّا فِيْ كِتٰبٍ مِّنْ قَبْلِ اَنْ نَّبْرَاَهَا ؕ اِنَّ ذٰلِكَ عَلَى اللّٰهِ يَسِيْرٌ ۝ لِّكَيْلَا تَاْسَوْا عَلٰى مَا فَاتَكُمْ وَلَا تَفْرَحُوْا بِمَآ اٰتٰىكُمْ ؕ وَاللّٰهُ لَا يُحِبُّ كُلَّ مُخْتَالٍ فَخُوْرِ ۝

ژباړه:

هغه چې په ځمکه او ستاسې په نفسونو کې کوم مصيبت رسېږي؛ نو له واقع کېدو دمخه په يو کتاب کې ليکل شوي دي او دا کار پر الله تعالی اسان دی، دې لپاره، چې تاسې پر هغه شي خپه نه شئ، چې له لاسه مو ورکړ او پر هغه شي تکبر ونه کړئ، چې الله تعالی درکړی دی او الله تعالی متکبران او فخر کوونکي نه خوښوي.

په بل ځای کې فرمايي:

وَعَسٰٓى اَنْ تَكْرَهُوْا شَيْـًٔا وَّهُوَ خَيْرٌ لَّكُمْ ۚ وَعَسٰٓى اَنْ تُحِبُّوْا شَيْـًٔا وَّهُوَ شَرٌّ لَّكُمْ ؕ وَاللّٰهُ يَعْلَمُ وَاَنْتُمْ لَا تَعْلَمُوْنَ ۝

ژباړه:

کېدای شي تاسې يو شی بد بولئ او هغه تاسې لره غوره وي او کېدای شي، چې تاسې يو شی خوښوئ او هغه تاسې لره بد وي، الله ﷻ پوهېږي او تاسې نه پوهېږئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مصیبتونو پر مهال پر تقدیر ایمان زړونه ډاډمنوي، په ځانګړې توګه هله چې انسان پر دې خبره پوره باور وکړي، چې الله تعالی پر بنده ګانو ډېر مهربان دی، د دوی لپاره اساني غواړي او الله حکیم او خبرېدونکی دی، په اخرت کې ورته اجر ذخیره کوي، صبر کوونکیو ته بې حسابه اجر ورکوي، کله چې انسان په دې کې فکر وکړي او عمل پرې وکړي؛ نو د مصیبت غم او درد یې په خوشحالۍ او نېکمرغۍ بدلېږي؛ خو هر کس د دې وس نه لري.

که غواړئ چې له غمونو او مصیبتونو نه خلاصی وموميئ او د روح پېټی مو سپک شي؛ نو په لاندینیو لارو چارو کې فکر وکړئ

که له کوم مصیبت سره مخ شې؛ نو داسې فکر وکړه، چې له بدو بدتر شته.

د هغه چا په حال فکر وکړه، چې ستا له مصیبت څخه یې مصیبت لوی او سخت وي.

په شته نعمت شکر وکړه او هغو خلکو ته فکر وکړه، چې له دغه نعمت څخه هم بې برخې دي.

هغه زړورتیا ته غاړه مه ږده، چې مصیبت ورسره مل وي.

فَإِنَّ مَعَ الْعُسْرِ يُسْرًا ۝ إِنَّ مَعَ الْعُسْرِ يُسْرًا ۝

ژباړه:

نو حقیقت دا دی، چې له سختۍ سره اساني مله وي، بېشکه له سختۍ سره اساني مله وي.

**رڼا**

نورو ته د نېکمرغۍ تر ټولو چټک استازی د زړه له تله موسکا ده.

**څلا**

لَيْسَ لَهَا مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ كَاشِفَةٌ ۝

ژباړه:

له الله ﷻ پرته څوک د هغه ایسته کوونکی نشته.

(c) ketabton.com: The Digital Library


**دويمه والۍ:**

## منځۍ چارې، غوره چارې

ولكل حالٍ مُعقِبٌ ولربما - أجلى لك المكروه عما يحمدُ

ژباړه:

ډېر ځل يو پايله وي؛ خو ډېر ځل تا ته يو ناخوښ شی، خوښ ښکاره کړي

مصطفی محمود ويلي دي:

زه پر نېکمرغۍ پوهېږم، ځکه زه د منځنۍ طبقې سړی يم، روغتيا او ژوند مې منځني دي، له هر شي نه لږ برخه ده را سره ده؛ خو د دې مانا دا ده، چې له ما سره ډېر دفع کوونکي شته او همدغه دفع کوونکی ژوند دی، زموږ په زړونو کې دفع کوونکي د حقيقي ژوند تودوښه ده او د نېکمرغۍ د برابرولو لپاره لاربښود دی.

زه د دې کرښو د لوستونکيو لپاره له الله تعالی څخه غوښتنه کوم، چې الله تعالی ورته منځنی ژوند وروبښي... او له هر شي څخه ورته لږ لږې برخې ورکړي.. او قسم په الله ﷻ! چې دا يوه ډېره ښه دعا ده!

زما مور پر فلسفه نه پوهېده؛ خو روغ فطرت يې درلوده او کلک ستر به يې کاوه.

**رڼا**

د دروغو موسکا د منافقت له انځورونو يو ځلېدلی انځور دی.

**ځلا**

و جعلت قرة عيني في الصلاة

ژباړه:

لمونځ زما د سترګو يخ والی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



درېیمه امېل:

## بدپالي غمونه رازېږوي

رُبَّ أمرٍ سَرَّ آخرُه – بعد ما ساءتْ أوائلُهُ

ژباړه:

کله نا کله د یوه کار پیل سخت او غمجنوونکی وي؛ خو پای یې، بیا ډېره په زړه پورې او خوشحالوونکې وي

یو ملګری د بل ملګري پر مزاج او اخلاقو اغېز کوي، که یو ملګری د نرمو اخلاقو خاوند وي، خوره ټنډه او خوشحال طبعه وي، له ژوند څخه نېکې هیلې لري؛ نو دغه خویونه یې پر ملګري هم اثر کوي، یانې هغه هم ترې دغه ښه خویونه راخپلوي؛ خو که دغه ملګری تریو مخی، بدبختېه، بدغونی، زړه تنګی او بدپال وي؛ نو د ناوړه مزاج میکروب (جراثیم) یې ملګری هم اغېزمنوي او دغه بد او ناوړه خویونه کرار په کرار یې په ملګري کې هم ور سره راټوکېږي.

که څه هم ملګرتیا یوازې په انسانانو پورې تړلې نه ده، بلکې کتاب، تلویزیون، راډیو او داسې نور هم د ملګرتیا وړ دي او پورتنۍ دواړه طبقې په دې شیانو کې هم شته، چې ښه یې ښه او بد یې پر انسان بد اغېز کوي، یانې که ښه کتاب او ښه خپرونه چا اورېده؛ نو ښه اغېز به پرې کوي او که چا بده خپرونه او ناوړه کتاب مطالعه کاوه؛ نو طبعاً به برې بد اثر کوي.

### رڼا

نېکمرغي ستاسې په مخکې ده، په علم، نېک عمل او ښو اخلاقو یې وپلټئ! او په منځلارۍ کې نېکمرغي نغښتې.

### څلا

فَأَنزَلَ السَّكِينَةَ عَلَيۡهِمۡ

ژباړه:

پر تاسې یې سکینه (ارام) راولېږه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**څلورمه پېژوان:**

**له کينې، غوسې او خپګان څخه ځان وساته!**

ومن يتهيَّبْ صعود الجبالِ - يعشْ أبدَ الدهرِ بين الحفرْ

ژباړه:

څوک چې د غرونو سرته له ختلو وېرېږي؛ نو هغه تل په ژورو کندو کې پاتې وي.

يو کس وايي:

تر دېرش کلنۍ پورې زه ډېر توند خويه او غوسه ناک وم، تل به له خلکو سره په لانجه وم، له نښتو او لانجو نه به مې خوند اخيسته، ځکه ما خپله نېکمرغي نه پېژندله؛ نو له نېکمرغۍ به مې ګټه څه اخيستی وای؛ خو دا چې اوس زه شپېته کلن يم ((چې د شپېتو شي، د ويشتو شي)) نو پر دې پوه شوم، چې هغه وخت زه څومره نېکمرغه وم، ځکه چې زلمی وم، لاس، پښو، غوږونو او سترګو مې ښه کار کاوه؛ خو بيا مې هم له هغه زلميتوبه هيڅ ګټه پورته نه کړه، ټوله ځواني خوشې په خوشې رانه تېره شوه او فقط يادونه او افسوس يې راته پاتې دي؛ خو هغه د پښتو متل چې ((چې وروستی فکر لومړی وای)) که زه هغه وخت پوهېدلای؛ نو ډېر په زړه پورې ژوند به مې کړی وای او خپل دغه ګلورين ژوند کې به مې په غوسو او خپګانونو نه تريخولای او د خپل نېکمرغه ژوندانه نورسه غوټۍ به مې نه مړاوی کېدای: خو اوس چې مې د ژوند دغه مړاوې غوټۍ وينم؛ نو زه ورسره نور هم مړاوی شم.

ګرانه لوستونکيه!

ته بايد خپله نېکمرغي محسوسه کړې او د نېکمرغۍ په محسوسولولو له ژونده خوند واخلې.

**رڼا**

ښځه له کور نه جنت جوړولای شي، لکه چې دوزخ کولای يې شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**پنځمه نتکې:**

**جنګونه، له بې ځایه خبرو راولاړېږي!**

ألم تر أني كلما زرتُ دارها - وجدتُ بها طيباً وإن لم تطيّبِ

ژباړه:

ته نه پوهېږې زه چې کله هم د هغې د کور ملاقات کوم؛ نو خوشبويي ترې مومم، که څه هم خوشبويه نه وي.

د غم وړ خبره دا ده، چې ډېر بېکاره شيان د زرګونو خلکو پر زړونو منګولې ښخې کړې دي، د خلکو کورونه يې تنګ کړي دي او زړې دوستانې يې وروړنګې کړې دي او په دې دنيا کې يې خوابدي او حيران کړل.

(ديل کارنيګي) پر دې لاملونو رڼا اچوي وايي: ((د ښځېتوب او مېړه توب په ژوند کې ډېرې داسې وړې خبرې شته، چې د مېړونو او ښځو عقلونه له منځه وړي او د زړه د نيمايي دردونو لامل کېږي)).

جوزيف ساباث، چې د شيکاګو له قاضيانو څخه دی هم د همدغې خبرې په ملاتړ کې په خپله هغه وينا کې په ډاګه دا خبره وروسته تر هغې کړې، چې د طلاقو په څلوېښت زره پېښو کې يې په دې خبره پرېکړه کړې ده او ښځو ته يې ويلي دي، چې: ((تل د ښځې او مېړه د ژوند د خرابېدو او بدبختۍ تر شا ډېر کوچني او بېکاره لاملونه وي)).

فرانک هوجان، چې په نيو يارک کې نائب عالم دی وايي: (( جنايي محکمو ته نيمايي داسې قضيې راځي، چې په د ډېرو وړو لاملونو له امله منځته راغلې وي، لکه د کورنۍ د غړيو ترمنځ، د يوه کار د سپکولو له امله، د يوې زخمي کوونکې خبرې له امله او يا د يوې نا اشنا اشارې له امله شخړه.

زموږ ډېر لږ خلک سخت طبيعته دي؛ خو زموږ ذات، لويي او عزت ته د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځير شويو ضربو د پرلپسې والي له امله نيمايي هغه ستونزې راځي، چې نړۍ ورسره مخ کيږي.

## رڼا

تر ټولو هغه لوی نعمت، چې پاملرنه يې پکار ده، دا دی، چې د انسان نفس له خيره ډک او د انسان حال پرې بختور شي.

## خلا

إِذْ تَسْتَغِيثُونَ رَبَّكُمْ فَاسْتَجَابَ لَكُمْ

ژباړه:

کله چې تاسې الله ﷻ ته فريادونه کول؛ نو درله قبول يې کړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**شپږمه چار ګل:**

## د ژبې ساتنه

إن ألمَتْ ملمّةٌ بي فإني - في الملمّات صخرةٌ صمّاءُ

ژباړه:

که یو مصیبت راځي؛ نو ځه ورته لکه د کاڼي کلک یم.

تاریخپوهان داسې لیکي، چې د یزید بن معاویه زوی خالد یوه ورځ د عبدالله بن زبیر په اړه لګیا شو. ویل یې چې دا بخیل دی، په دغه ځای کې د عبدالله خور رملة بنت ا لزبیر، چې د خالد ښځه وه ناسته وه؛ نو دې سر ښکته کړ او بېخې یوه خبره یې هم ونکړه، خالد ورته وویل: ولې خبرې نه کوې؟ زما پر دې خبرو خوښه شوې او که ځواب راکول نه خوښوې؟ هغې ورته وویل: دغه یوه خبره هم نشته، بلکې خبره دا ده، چې ښځه د سړیو تر منځ په خبرو کې د ننوتو لپاره پیدا نه ده، موږ ښځې؛ خو د کشمالو په څېر یو، چې خلک مو بوی کړي او ځان ته مو نږدې کړي، زموږ ستاسې په خبرو کې څه کار نشته؛ خالد، چې د دې ښځې هوښیارتیا ولیده؛ نو ډېر خوښ شو او د سترګو ترمنځ یې ښکل کړه.

نبي ﷺ د ښځې او مېړه ترمنځ د رازونو له خورولو څخه سخته منع کړې ده.

امام احمد بن حنبل له اسماء بنت یزید رضي الله عنها څخه نقل کوي وایي، چې زه د نبي ﷺ په خوا کې ناسته وم او نورې ښځې ا و سړي هم ناست وو؛ نو نبي ﷺ وفرمایل: «کېدای شي ځینې سړي د خپلو ښځو او ځینې ښځې د خپلو مېړونو د کورني حالاتو کیسې کوي؟ نو صحابه وو خپل سرونه ښکته کړل او ځواب یې ورنکړ؛ نو نبي ﷺ وویل: پر ا لله ﷻ مې دې قسم وي، چې ښځې هم دا کار کوي او سړي هم دا کار کوي؛ نو بیا یې وویل: دا کار مه کوئ، ځکه د

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې کار داسې مثال دی، لکه چې يو شيطان له بلې شيطانې سره په لاره کې ملاو شي او ټول خلک ورته ګوري)).

ځينو مفسرينو د دغه آيت (فَالصَّٰلِحَٰتُ قَٰنِتَٰتٌ حَٰفِظَٰتٌ لِّلْغَيْبِ بِمَا حَفِظَ اللَّهُ) په تفسير کې فرمايلي دي: چې د دې آيت مانا دا ده، چې نېکانې ښځې هغه دي، چې د دې او مېړه ترمنځ د جنسي اړيکو پر مهال څه تېرېږي هغه پټ ساتي.

**رڼا**

د خپلو سترتياوو په بدل کې د الله تعالی نعمتونه وشمېره!.

**ځلا**

ژوند لنډ دی؛ نو په غمونو يې لا پسې مه لنډوه!.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**اوومه ټيکه:**

**له اندېښنو سره په لمانځه ډغره ووهه!**

تعاظمني ذنبي فلما قرنته - بعفوك ربي كان عفوك أعظما

ژباړه:

ما ته خپله ګناه ډېره لويه ښکاره شوه؛ خو کله چې مې ستا له ښښنې سره وکتله؛ نو ستا ښښنه ډېره لويه وه.

پخوانۍ مسلمانانې ښځې پر دې پوهېدلې وې، چې لمونځ د الله ﷻ او بنده ترمنځ د ملاقات وسيله ده او پر دې هم پوه وې، چې په لمانځه کې خشوع کوونکي پوره کامياب دي «قَدْ اَفْلَحَ الْمُؤْمِنُوْنَ ۝ الَّذِيْنَ هُمْ فِيْ صَلَاتِهِمْ خٰشِعُوْنَ ۝» بېشکه هغه مؤمنان کامياب شول، چې په خپلو لمونځونو کې خشوع کوي؛ نو هغوی به د شپې په ډېرې عاجزۍ او خشوع ودرېدې، ځکه هغوی ته يې قدر او ارزښت معلوم و، چې دا د اخرت لپاره غوره توښه ده او خلکو ته د د عوت رسولو لپاره تر ټولو ښه لامل لمونځ دی، ځکه لمونځ، لمونځ کوونکي ته داسې يو قوت وربښي، چې په هغې سره د سختيو مقابله کولای شي او دغه مسلمانې ښځې پر دې هم پوهېدې، چې د شپې په عبادت سره انسان الله ﷻ ته ډېر نږدې کېږي، ځکه الله تعالی د بلندويانو سردار رسول الله ﷺ ته فرمايلي دي:

وَمِنَ الَّيْلِ فَتَهَجَّدْ بِهٖ نَافِلَةً لَّكَ ۖ عَسٰٓى اَنْ يَّبْعَثَكَ رَبُّكَ مَقَامًا مَّحْمُوْدًا ۝

ژباړه:

د شپې تهجد کوه! دا به ستا لپاره زياتی عبادت وي، نږدې ده، چې الله ﷻ دې ستايلې شوي ځای ته ورسوي.

او الله تعالی د تهجد کوونکيو په ستاينه کې فرمايي:

كَانُوْا قَلِيْلًا مِّنَ الَّيْلِ مَا يَهْجَعُوْنَ ۝

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه:
دوی به په شپو کې ډېر لږ خوب کاوه.

انسﷺ وايي چې نبيﷺ يو ځل جومات ته ننوت؛ نو د دوه ستنو ترمنځ يې يوه تړل شوې رسۍ ولیده، ويې فرمايل: ((دا رسۍ دلته څه کوي؟)) صحابه وو ورته وويل دا خو د زينبﷺ رسۍ ده، چې کله په عبادت کولو ستړې شي؛ نو په دې پورې ځان ځوړندوي؛ نو نبيﷺ وفرمايل: ((دا پرانیزئ، ترڅو چې څوک دمه وي لمونځ دې کوي او چې کله ستړی شي؛ نو ويده دې شي))

مؤمنانو ښځو به پر خپلو ځانونو د الله تعالی د رضا حاصلولو لپاره سخته راوسته؛ خو نبيﷺ ورته امر کړی، چې پر ځان تر خپلې وسې تکلیف راولئ او غوره عبادت هماغه دی، چې تل وي که څه هم لږ وي؛ خو د اوسني پېر ښځو خپل ټول وختونه شپه او ورځ په دنیوي چارو بوخت کړي دي، ان تر دې چې په شپه کې يې شيطان دوه رکعته لمانځه ته هم نه پرېږدي.
تر ټولو غوره کارونه منځني دي او ((زياتی کوونکي هلاک دي)) دا خبره نبيﷺ درې ځل کړې ده.

**رڼا**

پر اللهﷻ باور وکړه، که ته ریښتینې وې؛ نو سبا ورځې ته خوشحاله شه.

**ځلا**

صبر د پراخۍ کلي ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**اتمه پانزېب:**

## د بریالۍ ښځې خواخوږي

یا رب حمد لیس غیرك یُحمدُ - یا من له کل الخلائق تصمدُ
ژباړه:
ای ربه! تا لره ستاینې دي له تا پرته څوک نه ستایل کېږي، ای هغه ذاته! چې ټول مخلوق درته اړتیا لري.
د اوسني وخت یوې مور خپلې لور ته په لاندینو ټکو نصیحت کړی:
ای لورې! ستا یوه نوي ژوند ته مخه ده او هغه داسې ژوند دی، چې ستا مورو پلار او وروڼه پکې هیڅ ځای نه لري، ته به په دغه نوي ژوند کې فقط له خپل مېړه سره ملګرې یې او هغه نه غواړي، چې په دغه ژوند کې له هغه پرته له تا سره بل څوک شریک شي، هغه که ستا له غوښې او وینې څخه هم ولې نه وي.
ته باید په خپل دغه نوي ژوند کې د خپل مېړه لپاره ښځه او مور دواړه شه او خپل مېړه ته دومره مینه ورکړه، چې بس هم ته یې هر څه شې، او په دې لړ کې دا خبره له یاده مه باسه، چې هر سړی یو لوی ماشوم دی، پر یوه وړه خوږه خبره هم خوشحالېږي او بل دا کوښښ کوه، چې کله دې هم مېړه ته دا خبره ورمحسوسه نه کړې چې ما ستا په خاطر موروپلار پرېښې دي، ځکه هغه هم ستا له امله خپل موروپلار او خپله کورنۍ پرېښې ده؛ خو ستا او د هغه ترمنځ توپیر یوازې د سړي او ښځې توپیر دی، ښځه تل خپلې کورنۍ او هغه کور ته ډېر ارزښت ورکوي، چې پکې پیدا شوې، لویه شوې وي؛ خو د ښځې لپاره له دې ژوند نه رغون نشته، هرومرو به ودېږي؛ نو باید ځان له دغه ژوند سره عادت کړي او له هغه سړي خویونه زده کړي، چې هم یې مېړه او هم یې د بچیو پلار دی...
لورې دغه ستا نوې دنیا ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ای لورې! دا ستا اوسنی او راتلونکی حال دی، او دا ستا هغه کورنۍ ده، چې ته او مېړه دواړه به يې په ګډه سره جوړوئ، زه دا هم درته نه وايم، چې ته بېخي خپل موروپلار، ورونه او خويندې هېرې کړه، ځکه چې دوی هم تا نه هېروي، مور به د خپل زړه ټوټه څنګه هېره کړي؟! خو زه له تا دا غواړم، چې له خپل مېړه سره مينه وکړه له هغه سره ښه ژوند تېر کړه او له هغه سره په ژوند تېرولو کې بختوره شه!.

رښا

له اسيه بي بي نه صبر، له خديجې بي بي نه وفا، له عائشې بي بي نه ريښتينولي او له فاطمې بي بي نه ثبات او کلکوالی زده کړه!.

ځلا

لَمْ يَطْمِثْهُنَّ إِنْسٌ قَبْلَهُمْ وَلَا جَآنٌّ ۝

ژباړه:

له دې جنتيانو مخکې پېريانو او انسانانو پرې لاسونه نه دي لګولي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**نهمه غاړه کې:**

**څوک که له الله ﷻ سره اشنا نشو؛ نو هغه له هېچا سره نه اشنا کېږي**

هي الأيامُ والغِيَرُ – وأمرُ اللهِ ينتظرُ

ژباړه:

دغه ورځې او لړ. شان د ګتې شيان دي او د الله تعالى د امر انتظار کېدای شي.

الله تعالى د مؤمن ملګرى دى او له عبادت کوونکي سره مينه کوي، چا که له الله تعالى سره اشنايي پيدا کړه؛ نو ايله به له ژوند سره اشنا شي او په شتو شيانو به نېکمرغه شي، له ورځو به خوند واخلي، زړه به يې ډاډمن وي، ځيګر به يې روښانه وي، سينه به يې پراخه وي د الله تعالى د محبت کرښې به يې پر زړه راښکل شوې وي او د الله تعالى صفات به يې په زړه کې ځای پر ځای شوي وي، د الله تعالى ښايسته نومونه به يې تر سترګو کېږي؛ نو د هغه نومونه به يادوي او د هغه په صفتونو کې به فکر کوي، په زړه کې به الرحمن، الرحيم، الحميد، الحليم، اللطيف، المحسن، الودود، الکريم، العظيم.... راولي نو له "باري" څخه به يې اشنايي پيدا کېږي او له "عظيم" څخه به يې محبت پيدا کېږي او له "عليم" څخه به يې نږدېکت پيدا کېږي.

کله چې بنده پر دې پوه شي، چې الله تعالى ما ته نږدې دى؛ نو د بنده ورسره اشنايي پيدا کېږي او د هغه لور ته په مخ کولو خوښېږي او د هغه په لحاظ کولو سره يې خوښي ډېرېږي:

وَإِذَا سَأَلَكَ عِبَادِىْ عَنِّىْ فَإِنِّىْ قَرِيْبٌ ۖ أُجِيْبُ دَعْوَةَ الدَّاعِ إِذَا دَعَانِ

ژباړه:

کله چې ستا نه زما بندګان زما په اړه پوښتنه کوي؛ نو ورته وايه، چې زه نږدې يم او دعاکوونکي، چې کله له ما غوښتنه کوي؛ نو ورته يې ور کوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د مسلمانې ښځې د نېکبختيا د ډېرولو لپاره لس

# ځانګړې مرغلرې

(c) ketabton.com: The Digital Library



له الله ﷻ سره اشنايي له يوه لامل او سترې والي پرته لاسته نه راوړل کېږي، له الله تعالى سره اشنايي د هغه د حکمونو د منلو پايله ده، او له هغه سره د محبت نتيجه ده، څوک چې د الله تعالى اطاعت وکړي، د هغه امر ومني او له نهې يې ځان وساتي. ريښتيني محبت ورسره وکړي؛ نو له الله ﷻ سره د اشنايۍ خوند به بيامومي او الله ﷻ ته د نږدېکت خوږوالى به وڅکي او له الله ﷻ سره د جرګې کولو نېکبختيا به معلومه کړي.

**رڼا**

ښکلا ښه اخلاق او ښه ادب دی.

**ځلا**

د ښځو په اړه له ما نه ښې خبرې يادې کړئ!

(c) ketabton.com: The Digital Library



**لسمه بنګړی:**

**دوه کمر بندونو والا دوه ژونده تېروي**

والذي نفسُه بغيرِ جمالٍ - لا يرى في الوجودِ شيئاً جميلا

ژباړه:

د چا چې زړه ښایسته نه وي؛ نو په دې شتو شیانو کې ورته هیڅ شی ښایسته نه ښکاري.

اسماء بنت ابي بکر رضی الله عنهما د ژوند پر سختیو د صبر په کولو، د مېړه د خبرې په منلو او د هغه د خوښې د چارو په ترسره کولو کې یوه ژوندۍ بېلګه شوه.

په صحیح حدیث کې د هغې دغه وینا راغلې: ((تزوجني ا لزبير و ماله شيئ غير فرسه..........)) ما سره زبیر نکاح وکړه، په داسې حال کې، چې له یوه آس پرته یې هیڅ نه درلودل؛ نو ما به د دې آس تربیت کاوه. واښه به مې ورته اچول، د هغه د سپرلۍ لپاره به مې د خرماوو زړي ټکول، اوبه به مې ورته راوړې، وړه به مې هم اغږل او د زبیر له ځمکې نه به مې د ده د آس لپاره زړي (د مېوو تخمونه) هم راوړل، یوه ورځ نبي ﷺ او د هغه ملګریو ولیدلم، چې پلې راروانه وم؛ نو نبي ﷺ راوغوښتم، چې له ځان سره مې پر سپرلۍ سپره کړي؛ خو ما ته د زبیر غیرت رایاد شو او حیا مې وکړه؛ نو له هغه سره سپره نه شوم، نبي ﷺ لاړ، چې کله کور ته راغلم؛ نو زبیر ته مې د دې پېښې خبر ورکړ، هغه راته وویل، چې ته دا د خرما زړي راوړې دا پر ما له نبي علیه ا لسلام سره تر سپرېدو ډېر سخت دي، اسماء وایي، دا کار ما تر هغې کاوه، چې ابو بکر رضي الله عنه را ته خادم راولېږه؛ نو د آس خدمت به هغه کاوه او زه داسې شوم، لکه چې له مریيتوب نه یې خلاصه کړم.

تر دې صبر وروسته پایله دا وه، چې پر دې او د دې پر مېړه نعمتونه راوورېدل؛ خو بیا هم دغه اسماء رضي الله عنها په شتمنۍ تکبر ونه کړ، بلکې ډېره

(c) ketabton.com: The Digital Library



سخې او عزتمنه وه، د سبا لپاره به يې شی نه ذخيره کاوه، کله چې به ناروغه شوه؛ نو تر روغتيا به يې انتظار ويسته او بيا به يې خپل مريې ازاداوه او د خپلې کورنۍ غرېبو او لورګانو ته به يې ويل: خرڅ کوئ، صدقې کوئ او د زيات شي انتظار مه کوئ، ياني دې ته انتظار مه کوئ، چې که څه شی زموږ له اړتيا زيات شي؛ نو صدقه به يې کړو.

رڼا

د مؤمنانو ژوند ښايسته او اخرت يې خوښ دی؛ نو يوازې هم دوی بختور دي.

ځلا

وَلَا تَكُ فِي ضَيْقٍ مِّمَّا يَمْكُرُونَ

ژباړه:

د دوی له مکرونو مه تنګېږه!.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**لومړۍ مرغلره:**

## څوک ډېر خوښ دوست دی؟

وما النفس إلا حيث يجعلها الفتى - فإن أطمعت تاقت وإلا تسلّتِ

ژباړه:

نفس په کړنو کې ستا تابع دی که تمه ورکوې شوق یې پیدا کېږي او که نه؛ نو ډاډمنېږي.

تر ټولو خلکو ډېره مینه ورسره وکړه...!

تا له خپل ځانه پوښتنه کړې، چې ته له رسول الله ﷺ سره څومره مینه لرې؟ او ایا ته پوهېږې، چې دغه مینه د هغه د امرونو منل او له منعو یې ځان ساتل دي؟ په خپلو اړخونو کې بیا وګوره او خپل د مینې اړخونه لومړی د الله تعالی لوري ته واړوه، او بیا یې د هغه چا لوري ته واړوه، چې الله تعالی موږ د هغه له امله له اور څخه بچ کړي یو او کله چې په جنت کې د خپلې مرتبې لوړوالی غواړې؛ نو د نبي ﷺ دغه وینا رایاده کړه «المرء مع من احب» په اخرت کې به هر کس له هغه چا سره وي، چې په دنیا کې یې ورسره مینه وه.

له نبي ﷺ سره د مینې لرلو تر ټولو لومړۍ نښه دا ده، چې څه وايي ویې کړې او چې له څه دې منع کوي ترې بنده شې، که یو څوک وايي، چې زما له نبي ﷺ سره مینه ده او چې نبي ﷺ ورته څه وايي هغه نه کوي او د هغه په سنت پسې نه ځي؛ نو دا څنګه دهغه محبت کوونکی کېدای شي؟ د نبي ﷺ سیرت راواخله ویې لوله او پام وکړه، چې د هغه ښایسته اخلاق، خوږې خبرې، پوره سخا، له الله تعالی وېره او له دنیا بې رغبتي په څومره مرتبه کې وه، خپل ځینې اخلاق له هغه سره د یوشان والي لپاره بدل کړه.

**رڼا**

د نوح او لوط علیهما السلام ښځو خیانت وکړ؛ نو سپکې شوې او اسیة او مریم ایمان راوړه؛ نو عزتمنې شوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دويمه مرغلره:

## نېکمرغي په مالدارۍ او غريبۍ کې نشته

تخوفني ظروف الدهر سلمى – وكم من خائفٍ ما لا يكونُ

ژباړه:

د زمانې له حالاتو سلمې ووېرولم؛ خو ډېر ځل يو سړی له هغه څه وېرېږي، چې ناشوني وي.

د "برنارد شا" په نامه يو لوېديزوال ويلي دي:

کله چې زه تر غريبۍ وروسته شتمن شوم، سره له دې چې ما په غريبۍ کې هم ځان غريب نه و ګڼلی، ځکه په هغه په غريبۍ کې هم زه د يوه غني کتابتون خاوند وم او کرۍ ورځ به مې په خپل کتابتون کې له کتابونو سره په مشغولا تېروله؛ خو که اوس شتمن يم؛ نو پرې څه؟ ځکه زه به په پيسو څه وکړم، سګرټ او شراب زه نه څښم(جامې هماغسې يو جوړ اغوندم، ځکه د پيسو په ډېروالي څوک دوه او يا درې جوړه نه اغوندي، ډوډۍ هماغومره خورم، لکه چې يو عادي انسان يې خوړلای شي) او اوس هم ټوله ورځ په کتابتون کې له کتابونو سره تېروم؛ نو شتمنۍ ما ته نوي څه رانه کړل؛ خو که راکړي يې دي، هغه سودا، وېره او غم دی، چې پخوا راسره نه وو او هغه چې پخوا، ياني په غريبۍ کې راسره و، هغه اوس نه لرم، که يې اخيستل وغواړم؛ نو هم اخيستلای يې نشم، چې هغه ارام خوب دی؛ نو په داسې شتمنۍ دې اور پورې شي.

**رڼا**

خپل کور دجنت په څېر په ارام کړه او د لوبغالي په څېر زوږ پکې مه کوه، ځکه ارامي نعمت دی.

**ځلا**

رَبِّ ابْنِ لِي عِندَكَ بَيْتًا فِي الْجَنَّةِ

ژباړه: ای ربه! ما لره ستا په خوا کې په جنت کې کور جوړ کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



درېيمه مرغلره:

## ايا د الله تعالی شکر تر ټولو ښه نه دی؟

ولا همّ إلا سوف يفتح قفلهُ - ولا حال إلا للفتى بعدها حالُ

ژباړه:

د هر غم قلف خلاصېږي او په ځوانانو ډول ډول حالات راځي

د الله تعالی شکر تر ټولو ښه او اسان دی او د نېکمرغۍ او ذهني سکون لامل دی، ځکه کله چې ته د الله تعالی شکر کوې؛ نو الله تعالی، چې کوم نعمتونه پر تا کړي را يادوې به يې؛ نو چې له څومره نعمتونو ته ګټه پورته کوې د هغې په کچه به د الله تعالی شکر کوې.

له مشرانو نه يوه بزرګ ويلي دي:

«که غواړې، چې پر ځان د الله تعالی نعمتونه وپېژنې؛ نو سترګې پټې کړه او په دې نعمتونو کې ښه فکر وکړه، له الله ﷻ درته غوږونه، سترګه، عقل، دين، بچي، روزي او ښکلي سامانونو درکړي دي، سره له دې چې ډېرې ښځې هغه نعمتونه ډېر سپک ګڼي چې پر دې شوي وي؛ خو که په خوا و شا کې نورو نېسمنو، بېوزلو، ناروغانو، دردمنو او بې کوره ښځو ته وګورې؛ نو پر خپلو نعمتونو به د الله تعالی شکر وکړې، که څه هم د په کوم ختين کور، کېږدۍ او يا په ښاره کې د يوې ونې لاندې ولې نه وې.

پر شتو نعمتونو د الله ﷻ شکر وکړه او پر ځان سربېره هغو ښځو ته ځير شه، چې پر اندامونو، عقلونو، غوږونو او زامنو نيمګړې دي او په دې نړۍ کې داسې ډېرې ښځې شته.

**رڼا**

د بورو زړونه په ښو خبرو يخ کړه او د غريبانو اوښکې په نېکو صدقو وچې کړه.

**ځلا**

پر يوه حال پاتې کېدل ناشوني دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**خلاصه مرغلره:**

**بختوره له ځان سره نورې هم بختورې کوي**

علاً في الحياة وفي المماتِ - لحقٌّ أنت إحدى المعجزاتِ

ژباړه:

په ژوند او مرګ دواړو کې لوړه يې او ته خامخا يوه معجزه يې!

اورېزون سويت وايي:

د ناپليون بخت ښه و، ځکه هغه د"جوزفين"په نامه له يوې دکتاتورې سره مخامخ له دې واده کړی و، چې دا لا کوم لوړپوړه چارواکی نه و او دغه ښځه د ډېر نا اشنا او خوږ شخصيت خاونده وه او ښېګړې يې له لسو نارويونه و سره هم نشوې پرتله کېدای، نوموړې داسې عجيبه ښځه وه، چې نېکمرغي به يې له خوا خورېده او تر خادمانو به يې چا ته په ډاګيزه توګه د يوه کار کولو امر نه کاوه او دغه خبره يې په خپله يوې ملګرې داسې کړې وه او ورته يې ويلي و، چې زه يوازې په يوه ځای کې د ‹‹اريد›› کلمه کاروم او هغه دا، چې زه وايم: غواړم، چې زما تر خوا ټول خلک نېکمرغه شي››

يوه انګريز شاعر دغه ښځه په خپله يوه وينا کې ياده کړې، وايي ‹‹يو ځل په يوه نېکبخته تازه سهار کې تېرېده؛ نو د دغه سبا د شرافت له امله ټوله ورځ شرېنه شوه›› زما دوسته! رښتيا خبره دا ده، چې په موږ کې بلکې په ټولو شيانو کې نېکبختيا د نرمۍ له امله راځي، نرمي يوه مانوي ښکلا ده، چې ځانګړې نښې نه لري او د سړي لپاره د ښځې د ښکلا په بدل کې دی؛ خو ښځه په دې سره خپله ښکلا لاپسې زياتوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**رڼا**

ايا هغه ښځه نېکمرغه کېدای شي، چې خپل ښايست سپيو انسانانو ته په مخ کې ږدي او خپله ښکلا شرمښانو ته ورسپاري؟!.

**ځلا**

تعرّفي على الله في الرخاء يعرفْك في الشدة.

ژباړه:

الله ﷻ ته په پراخۍ کې ځان ورو‌پېژنه، په سختۍ کې به دې خپله وپېژني.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**پنځمه مرغلره:**

**وېرېږه مه! هر څه د تقدیر له مخې کېږي**

فلا يُديم سروراً ما سُررت به - ولا يردُّ عليك الغائب الحزنُ

ژباړه:

نه ستا دغه خوشحالي تلپاتې ده او نه هغه تېر شوی غم بیا راځي.

دیل کارنیګي دا خبره یادوي، چې پر تقدیر له ایمان څخه موخه دا ده، چې سړی د مصیبتونو پر وړاندې لکه د مېښو د کنډک یا د ونو د تنو په څېر کلک شي!! خو دغه سړی په دې خبره کې معذور دی، ځکه داسې کار په هغه دواګانو سره نه کېږي، چې زموږ مخې ته دي، راځئ چې دغه شخص ته غوږ کېږدو، چې څه وایي: ما یو ځل خپل یو ډېر ضروري کار پرېښود؛ خو زه کم عقل وم؛ نو غوسه شوم په جوش کې راغلم او ډېرې ورځې مې ځان د بې خوبۍ دوزخ ته وغورځاوه، تر یو کال تعذیب وروسته بیا هم هماغه کار ته ورستون شوم، چې زه له پیله پرې پوهېدم، چې دا کار د بدلون وړ نه دی او زما لپاره د "والت هویتمان" شاعر دغه وینا څه ډېره ښه ده، چې ورسره یې ووایم:

((ما اجمل ان اواجه الظلام و الانواء و الجوع،))

((والمصائب والمآسي واللوم والتقريع،))

((كما يواجهها الحيوان و تواجهها من الاشجار الجذوع!))

ژباړه:

څومره به ښه وی، چې له تیارو، مصیبتونو، ولږو، ستونزو، غمونو، ملامتیاوو او تنګسو سره، لکه د څارویو او یا د ونو د تنو په څېر مخامخ شم (یانې د ونو تنې او څاروي له دغه مصیبتونو څخه فریاد نه کوي، صبر کوي؛ نو زه هم باید همداسې وای)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما دولس کاله څاروي څرولي؛ خو د هیڅ یوې غوا له خولې مې دا خبره نه ده اورېدلې، چې څرځای وسوځېد او واښه وچ شول، یا زما دوست غوایي له بلې کومې غوا سره خبرې وکړې او نه کومې ونې دا خبره وکړه، چې له تندې وچه شوم او باران نه کېږي، حیوان د تیارو، سختو او ولږو سره په ارام او عاجزۍ سره مخامخ کېږي، له همدې امله په عصبي او د معدې په ناروغۍ ډېر کم اخته کېږي!!.

**رڼا**

کامیابوونکی او خوشحالوونکی ذات راپه زړه کړه!.

**څلا**

وَكَفَىٰ بِاللَّهِ وَكِيلًا

ژباړه:

د الله ﷻ ذمه واري بس ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**شپږمه مرغلره:**

**د ام عماره له خولې!**

عالمٌ أن كل خيرٍ وشرٍّ – لهما حدُّ مدةٍ وانقضاءُ
ژباړه:

پر دې پوهېږي، چې د هر خیر و شر د پیل او پای لپاره وخت معلوم وي.
نسیبة بنت کعب "ام عمارة" د احد د غزا کیسه داسې کوي:

زه د ورځې په لومړۍ برخه کې راووتم، د خلکو کړنې مې څارلې او د اوبو یو مشک راسره وه؛ نو په دې کې د نبي ﷺ خوا ته ورسېدم او هغه له خپلو ملګریو سره ناست و، مسلمانان غالبه شوي وو، کله چې مسلمانان کمزوري شول؛ نو زه رسول الله ﷺ ته راغلم او په خپله مې جنګ پیل کړ، په توره مې دفاع کوله او تر هغه وخته پورې مې غشي ویشتل، چې ټپي شوم، کله چې خلک ستانه شول؛ نو ابن قمئة راروان و او ویل یې، چې ما ته محمد وښایاست، ځکه که هغه نن ژوندی خلاص شو؛ نو بیا ترې زه نشم خلاصېدای؛ نو زه او مصعب بن عمیر دواړه وروړاندې شو، هغه زما پر څټ وار وکړ، ما هم یو څو ګوزاره پرې وکړل؛ خو هغه بې غیرته دوه زغرې په تن کړې وې؛ نو څه زیان یې ورته ونه رساوه.

د دغې ام عمارة په اړه نبي ﷺ داسې فرمایلي دي:

ما چې ښي او چپ لور ته کتلې؛ نو دا به مې په جنګ بوخته لیدله.

**رڼا**

له شور ووېرېږه، ځکه دا ستومانتیا ده او له کنځلو ځان ساته، ځکه چې دا عذاب دی.

**ځلا**

د اخلاقو په لسو کې نهه برخې ښکلا په دې کې ده، چې له پردیو ګناهونو ځان نا خبره وساتې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**اوومه مرغلره:**

## له خلکو سره نېکي غمونه ختموي

فهبك ملكتَ أهل الأرض طُرًّا - ودان لك العباد فكان ماذا ؟!

ژباړه:

څه ! ته وله ځمکه ستا شوه او ټول بندګان دې تابع شول ؛ نو بيا څه ؟!

د ښځې د کرامت په اړه د نبيﷺ ډېر حديثونه شته ، چې په ځينو کې ورته په سخا او انفاق تيزي ورکړل شوې او په ځينو کې ورته د مدح او ثنا بيان شوی او په ځينو کې پر خپل ځان ورته د نورو دوستانو د غوره کولو امر کړی.

له عائشې رضي الله عنها څخه روايت دی ، چې دوی يو ځل يوه ګډه حلاله کړه ؛ نو نبيﷺ ورته وفرمايل: ((څومره پاتې ده؟)) عائشې رضي الله عنها وفرمايل ، چې يوازې اوږه يې پاتې ده ؛ نو نبيﷺ ورته وفرمايل: ((له ولي پرته ټوله پاتې ده)).

نبيﷺ خپل د کور غړيو ته دا خبره په ډاګه کړه ، چې دوی کوم شی صدقه کړي ؛ نو د هغې ثواب د قيامت ورځې ته پاتې شو او کوم ، چې په دنيا کې پاتې شي او دوی يې خپله وخوري ؛ نو په اخرت کې به د هغې له اجر څخه کومه ګټه وانه خلي ، په دې سره د الله ﷻ د رضا لپاره د صدقو پر کولو تېزي په نا اشنا طريقې سره کېږي.

د عائشې رضي الله عنها خور اسماء رضي الله عنها ته نبيﷺ د صدقو کولو ، ځکه نصيحت کاوه چې غوره والی يې يو پر دوه شي او په دې لړ کې يې ورته وفرمايل: ((لا توكي فيوكى عليك)) د ګوډي خوله مه تړه ، چې خرچه ترې نه کوې ، ځکه بيا به يې الله تعالى پر تا هم بند کړي.

په بل روايت کې راغلي دي:

((أنفقي أو انفحي ، أو انضحي ولا تُحصي الله عليك ، ولا توعي فيوعي الله

(c) ketabton.com: The Digital Library



علیك)) .

ژباړه:

لګښت کوه، صدقې او عطیې ورکوه (چې څه صدقه کوې، هغه) له ځان سره مه شمېره، ځکه بیا به یې الله تعالی تا ته هم په شمېر درکوي او له ځان سره یې ساته هم مه، ځکه بیا به یې الله تعالی له تا نه هم وساتي.

**رڼا**

شپې تل سبا کېږي، درد به ختم شي، وچکالي به تېره شي او سختي به لاړه شي.

**ځلا**

نعمت ناوې ده او مهر یې شکر کول دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**اتمه مرغلره:**

**خپل تاوانونه پر ګټو بدل کړئ!**

أرواحنا يا رب فوق أكفنا – نرجو ثوابك مغنماً وجوارا

ژباړه:

ای ربه! موږ روحونه په ورغوي کې ایښي دي، له تا نه ثواب، غنیمت او ستا ګاونډ غواړو.

کله چې دې پښې وښویږي او په یوه ژوره کنده کې ور پرېوځې؛ نو مه نهیلې کېږه، ځکه که په کنده کې پرېوتې؛ نو صبر پرې وکړه، ژر ده چې بېرته ترې راووځې او اجر به هم ترلاسه کړې، ځکه چې الله ﷻ فرمايي:

وَاللّٰهُ مَعَ الصّٰبِرِيْنَ

((الله له صبر کوونکیو سره ملګری دی)).

که له ډېر نږدې خپل نه دې زړه ته یو وژونکی غشی هم راشي؛ نو خپه کېږه مه! ځکه داسې څوک به راشي، چې له تا به غشی وباسي، د زخم علاج به دې وکړي او ښه ژوند او خوشحالي به درته راستنه کړي.

په ډېر کیو ډېره مه ودرېږه او په ځانګړي ډول هغه ډېر کی، چې ښاپېر کي پکې اوسېدلې وي او تشو سورو یې لار پېژندلې وي، بلکې د هغه چنچنې غبږ وپلټه، چې د نوي سبا له رڼا سره تر کنارو راخېژي.

هغه کاغذ ته مه ګوره، چې رنګ یې بدل شوی، توري یې خړ پړ شوي دي او کرښې یې د نفرت او درد ترمنځ حیرانې دي او ته به ډېر ژر پر دې پوهه شې، چې دغه کرښې که تر ټولو لیکنو ښکلې نه دي او پر دې پاڼو تر ټولو وروسته کرښې نه دي شوې. ته باید چې د هغه چا، چې ستا په سترګو کې کرښې اچوي او د هغه چا چې په هوا کې کرښې اچوي تر منځ توپیر وکړې، دغه کرښې یوازې ښایسته خبرې نه وې، بلکې دا د یوه داسې زړه نبض وې، چې هر توري یې پکې ژوند کړی و او د انسان رګ و، چې په صبر یې بار

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړی و او د درد له امله يې په اور داغ لګولی و. ته د مالک الحزين مارغه په شېر مه کېږه. دا يو داسې مارغه دی، چې په ډېر خوږ غږ سندرې وايي او مستي کوي، په دنيا کې داسې يو شی نشته، چې ستا د يو څاڅکي وينې حقدار وي.

**رنا**

څوک چې هوا کړي؛ نو ماتونکې هوا به لو کوي!

**ځلا**

كَأَنَّهُنَّ بَيْضٌ مَّكْنُونٌ ۝

ژباړه:

دغه حورې د پټو ساتل شويو هګيو په شېر دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**نهمه مرغلره:**

**وفا ډېره ګرانه ده، وفا چېرته ده؟**

وإنما المرء حديث بعده - فكن حديث حسناً لمن وعى

ژباړه:

تېر خلک د وروستنيو خلکو لپاره د خبرو موضوع وي؛ نو ته د وروستنيو لپاره يوه ښه خبره شه، ياني وروستني خلک د لومړنو کيسې کوي؛ نو داسې جوړه شه، چې خلک دې ښې کيسې کوي.

د الله تعالی تقدير ته غاړه اېښودونکی او د هغه خوښ بنده "ايوب ﷺ" د ځان، مال او بدن له پلوه له ازمېښت سره مخ شو ان تر دې، چې په بدن کې يې له زړه پرته د ستنې د سر هومره ځای هم روغ پاتې نه و او په دنيا کې ورته داسې شی پاتې نه وو، چې د ناروغتيا په حال کې ترې ګټه واخلي؛ خو يوازې ښځې يې پر الله تعالی د ايمان له امله له ده سره خپله مينه وساتله؛ نو د ده لپاره به يې مزدوران نيول، ده ته به يې خواړه ورکول او تر (۱۸) کلونو پورې يې ورته خدمت کاوه، سبا او بېګاه به ترې نه جلا کېده، کله چې يې حال سخت شو، ناروغي يې اوږده شوه او د هغه تقدير وخت پوره شه؛ نو الله ته په زاريو شو او په دې غږ يې خپل رب راوباله:

أَنِّي مَسَّنِيَ الضُّرُّ وَأَنتَ أَرْحَمُ الرَّاحِمِينَ ﴿٨٣﴾

ژباړه:

ما ته مصيبت رسېدلی دی او ته تر ټولو رحم کوونکيو ډېر رحم کوونکی يې!

نو الله تعالی ورله دعا قبوله کړه؛ نو امر يې ورته وکړ، چې له خپله ځايه پاڅېږي او پر خپله پښه ځمکه ووهي، چې کله ايوب ﷺ دغه کار وکړ؛ نو الله تعالی ورته چينه راوويسته او په هغې کې يې د غسل کولو امر ورته وکړ،

(c) ketabton.com: The Digital Library


چې کله يې غسل وکړ ؛ نو له بدن نه يې ټول تکليفونه ختم شو ، بيا يې ورته امر وکړ ، چې بل ځای په پښه ووهي؛ نو هلته هم ورته الله تعالی چينه رابرسېره کړه او امر يې ورته وکړ ، چې له دې څخه اوبه وڅښه! ، چې کله يې اوبه وڅښلې ؛ نو له باطني بدن څخه يې هم ټول تکليفونه ختم شول او دا ټولې د صبر مېوې وې.

**رڼا**

انسان کله په خبرو پښېمانه شي؛ خو په چپ کېدو هېڅکله نه پښېمانه کېږي.

**ځلا**

ښځه د خوشحالۍ فابريکه او د تازه ګۍ چينه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د مسلمانې ښځې د نېکبختیا د لاډېرولو لپاره لس

# مرجانه

(c) ketabton.com: The Digital Library



**لسمه مرغلره:**

## چتکي ........ چتکي

اغنمي بسمة الصباح وقولي - مرحباً إننا لرؤياك عطشى

ژباړه:

د سبا موسکا غنیمت وبوله او په هر کلي ورته ووایه، چې موږ خو ستا لیدو ته سم تږي وو.

خپل کارونه، لکه د بچو پالنه، د یوه ګټور کار سر ته رسول، ښه لوستنه، په خشوع تلاوت، په عاجزۍ لمونځ، په ویښ زړه ذکر، صدقه، د کور برابرول، د کتابتون ترتیبول په چټکۍ سر ته رسوه، د دې لپاره، چې په دې چټکۍ سره له تا نه د غم او خپګان وختونه ختم شي.

ځینو کافرو ښځو ته وګوره، چې سره له کفره هم په نورو ښځو کې ممتازې شوې دي، د اسرائیلو د پخوانۍ وزیرې " ګولډا مائیر" یادېدونکې کیسې شته، چې د لښکر په نظم، ضبط او له عربو سره په جنګونو کې د هغې چټکي څرګندوي، ان تر دې چې دغسې کار یو کافر سړي هم نه دی کړی.

### رڼا

نېکمرغي د جادو کوم ډول نه دی که نه؛ نو دومره به قیمتي نه وای.

### ځلا

إِنَّ اللَّهَ مَعَ الَّذِينَ اتَّقَوا وَّالَّذِينَ هُم مُّحْسِنُونَ ﴿١٢٨﴾

ژباړه:

الله ﷻ له متقیانو او نېکانو سره مل دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**لومړی مرجان:**

**له نفس سره په زړورتيا ودرېږه**

الجوع يدفع بالرغيف اليابسِ - فعلام أُكثِرُ حسرتي ووساوسي

ژباړه:

ولږه خو په يوه وچه مړۍ هم ختمېږي؛ نو ولې خپلې اندېښنې او وسوسې ډېرې کړم.

ته پوهېږې، چې په نه ختمېدونکې سفر تلونکې يې؟ تا د سفر لپاره څه تيار کړي دي؟ په قبر کې د تا اشنا والي ختمولو لپاره دې له دې ختمېدونکې دنيا نه د نېک عمل کومه توښه له ځان سره تياره کړې ده؟ څو کلنه يې؟ څومره به نوره ژوندۍ يې؟ ته نه پوهېږې، چې هر پيل پای لري او د دې دنيا پای جنت يا دوزخ دی؟ تا فکر کړی، چې کله ستا نه د ساه ويستلو لپاره له اسمان څخه ملائک راکوز شي او ته همداسې غافله يې؟ تا د خپل ژوند د وروستۍ ورځې په اړه فکر کړی، چې په کومه ورځ له کور، بچو، دوستانو او ملګريو څخه جدا کېږې؟ مرګ ګوره له خپلو، سختيو، چپو او غمونو سره راځي. مرګ... مرګ...!!

کله چې ستا له بدن څخه روح لاړ شي؛ نو د نورو مړو په څېر به د لمبا ځای ته وړل کېږې، غسل او کفن به درکول کېږي، د لمانځه لپاره به دې جنازګاه ته وړي او تر دې وروسته به دې خلک په اوږو پورته کوي.... چېرته ؟ قبر ته به دې وړي، چې هغه د اخرت لومړنی کور دی او ستا لپاره به دغه قبر يا د جنت باغچه وي او يا به د جهنم يوه کنده وي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library


**رڼا**

خپل سر ښکته کول، د ځان لپاره درس وګرځوه.

**ځلا**

وَهُوَ الَّذِیْ یُنَزِّلُ الْغَیْثَ مِنْۢ بَعْدِ مَا قَنَطُوْا

ژباړه:

الله تعالی هغه ذات دی، چې د خلکو تر نهیلۍ وروسته باران وروي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دویم مرجان:**

**ووېرېږه!**

لا یملأ الأمر صدري قبل موقعه - ولا أضيق به ذرعاً إذا وقعا

ژباړه:

یو کار تر کېدو مخکې زما سینه نه ډکوي او تر کېدو وروسته پرې تنګېږي نه.

د کافرو او بې حیا ښځو له یو شان والي څخه ځان وساته، ځکه په حدیث کې راغلي دي:

((لعن الله المتشبهين من الرجال بالنساء، والمتشبهات من النساء بالرجال))

ژباړه:

الله تعالی پر هغو سړیو لعنت کړی، چې ځانونه لکه د ښځو جوړوي او پر هغه ښځو یې هم لعنت کړی، چې ځان د سړیو په څېر جوړوي.

په کوم شي، چې الله تعالی خپه کېږي له هغې ځان وساته، لکه له هغه شیانو نه په حدیثونو کې هم منع راغلې ده، لکه د سړیو په شان ځان کول، له پردي سړي سره یوازې کېدل، له نامحرمه خلکو سره سفر کول، حیا ختمول، غټې څادرې لرې کول او الله تعالی هېرول، دغه ټول کارونه زړه خرابوي، سینه تنګوي او په دنیا او اخرت کې تور تمونه راپیدا کوي او دغه کارونه په مسلمانانو ښځو کې ډېر خواره شوي دي (إِلَّا مَنْ رَّحِمَ اللَّهُ)

**رڼا**

دې لپاره، چې ښایسته شې، باید ښایسته فکر ولرې.

**څلا**

رَبَّنَا اغْفِرْ لَنَا ذُنُوبَنَا وَإِسْرَافَنَا فِيٓ أَمْرِنَا

ژباړه: ای ربه! موږ ته په کارونو کې زیاتی او ګناهونه وبښه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



درېیم مرجان:

## د نېکي کوونکي شکر واجب دی

اکذبِ النفس إذا حدثتها - إن صدق النفسِ یُزري بالأملْ

ژباړه:

له نفس سره د خبرو پر مهال ورته دروغ وایه، ځکه نفس ته رښتیا ویل امیدونه عیبجن کوي.

هارون رشید پاچا له نخاس نه د "خیزران" په نامه یوه وینزه واخیسته، ازاده یې کړه، امرونه یې ورله تنفیذ کړه او د هغې له موروپلار سره د دغه وخت د یو څه مشرۍ په اړه تړون وکړ؛ نو دغه خیزران، چې په کله غوسه شوه؛ نو خپل مېړه ته به یې مخامخ ویل: ((ما رأیت منك خیراً قط)) ما خو کله هم له تا خیر ونه لید.!

د همدې په څېر د "برمکیه" په نامه یوه بله وینزه هم وه دا به هم اخیستل کېده او خرڅېده، چې په دې لړ کې معتمد بن عباد (د مغرب له پاچایانو و) واخیسته او ازاده یې کړه او څه قدرې اختیار یې هم ورکړ؛ خو دې چې به کله نورې نجونې ولیدې، چې په ختهو کې به یې لوبې کولې، تېر وخت ته به یې شوق پیدا شو او غوښتل به یې، چې د همدوی په څېر په ختهو کې ولوبېږي؛ نو د دې لپاره یې د ختهو په څېر خوشبویي راوغوښته او په هغې کې یې لوبې کولې؛ خو بیا چې به هم کله غوسه شوه ویل به یې: ((إني لم أر منك خیراً قط)) ما خو له تا کله هم خیر ونه لید؛ نو معتمد به ورته په موسکا شو او ورته به یې وویل، چې د ختهو په ورځ مې هم درسره ښه نه دي کړي؛ نو هغه به یې خجالته کړه.

د ښځو طبیعت دا دی، چې د خطایۍ او کمي په وخت کې ترې ټول ښه هېر وي، له همدې امله په یوه حدیث کې راغلي دي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



((يا معشر النساء تصدقن فاني رايتكن اكثر اهل النار، قلن: و بم يارسول الله؟ قال: تسرعن اللعن و تكثرن الطعن، و تكفرن العشير)).

ژباړه:

ای د ښځو ډلې! صدقې وکړئ ځکه ما تاسې په اور کې ډېرې ولېدئ، ښځو پوښتنه وکړه، ای د الله ﷺ رسوله! زموږ ګناه څه ده؟ نبي ﷺ ورته وويل: لعنتونه زر وايئ، طعنونه ډېر وايئ او د خاوندانو شکر نه کوئ.

نبي ﷺ په بل ځای کې فرمايلي دي:

أُريت النار فإذا أكثر أهلها النساء ، لأنهن يكفرن العشير ويكفرن الإحسان ، لو أحسنت إلى إحداهن الدهر ثم رأت منك شيئاً قالت : ما رأيت منك خيراً قط.

ژباړه:

ما ته په اور کې ښځې ډېرې وښودل شوې، ځکه دوی د مېړه شکر نه وباسي، د ښېګړې ناشکري کوي، که له يوې سره ټول عمر ښه وکړې؛ خو يوه ورځ درڅخه لږ تکليف ومومي؛ نو وايي: ما خو کله هم له تا ښه ونه ليدل.

**رڼا**

د کاميابې ښځې لپاره دعاګانې کېږي، مېړه يې ښه ستايي، ګاونډيان ورسره مينه کوي او دوستان يې درناوی کوي.

**ځلا**

وَرَحْمَتِي وَسِعَتْ كُلَّ شَيْءٍ

ژباړه:

زما رحمت ټولو شيانو ته پراخه دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**خلورم مرجان:**

## باید روح ته له بدن نه ډېره پاملرنه وشي

أتاك الربيع الطلق يختال ضاحكاً - من الحسن حتى كاد أن يتبسّما

ژباړه:

تا ته ربیع راغی، چې د ښکلا له امله یې په ناز خندل، نږدې وه، چې موسکی وای.

عمر بن عبدالعزیز د خپلې پاچاهۍ په وخت کې په اتو روپو د یوه څادر په اخیستو امر وکړ؛ نو خادمانو ورته واخیسته او ورته یې راوړ، کله چې عمر پرې لاس کېښود ویې ویل، چې دا څومره نرم او ښکلی دی! چا چې راوړی و هغه وخندل؛ نو عمربن عبدالعزیز وپوښته، چې ولې دې وخندل؟ هغه سړي ورته وویل، چې د مؤمنانو امیره! تا تر خلافت له مخه ما ته ویلي وو، چې زما لپاره یو د مشکنو څادر په زر روپۍ واخله، چې ما درله واخست او تا پرې لاس کېښود؛ نو ودې ویل، چې دا څومره زیږ دی! او نن د اتو روپو څادر نرم بولې.

عمر بن عبدالعزیز ﷺ ورته وویل، چې زه ګومان نه کوم، چې یو کس په زر روپۍ څادر واخلي او بیا دې هغه له الله ﷻ وېرېږي، بیا یې وویل: زما نفس لوړو مرتبو ته ډېر شوقمن دی، چې یوه مرتبه ترلاسه کړم؛ نو تر هغې لوړې ته مې زړه کېږي، امارت مې ترلاسه کړ؛ نو خلافت ته مې شوق وشو، چې خلافت مې ترلاسه کړ؛ نو اوس مې زړه له دې نه هم لوړې مرتبې ته کېږي، چې جنت دی.

**رڼا**

د خلکو فیصلې خو زموږ په ښتونو نه کېږي او پر موږ لازم هم نه دي، چې پردۍ پایلې ته فکر وکړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**پنځم مرجان:**

## مستقبل تر راتلو پرېږده

سينقشع الظلامُ فلا تخافي - ويأتي الفجر في حُلَلٍ بهيَّة

د شعر ژباړه:

تاسې مه وېرېږئ! د اندېښنو تيارې به لاړې شي او سبانۍ ورځ به د رڼاګانو او خوشحاليو ځولۍ راپرانيزي.

چټکي مه کوئ! ايا تاسې له پيدايښت نه مخکې کوچنۍ غواړئ؟ مېوه تر پخېدو مخکې خوړل خوښوئ؟ سبا راتلونکی دی؛ خو څه حقيقت لري؟ ځکه نه يې وجود شته او نه يې څه خوند.

موږ بايد په حال کې ځانونه بوخت کړو، نه دا چې له راتلونکيو ستونزو وډار شو، ځکه الله ﷻ پوهېږي، چې هغه مهال رالاندې کولای شو، که نه؟

ځکه معلومه نه ده، چې سبانۍ ورځ ليدلای شو که نه؟! نېکمرغي او بدمرغي يې ترلاسه کولای شو او که نه؟!

مهمه دا ده چې سبانۍ ورځ په يوه غيبي نړۍ کې پرته ده؛ پله ته تر رسېدو له مخه پر پله تلل ناپوهي ده، ښايي پله ته تر رسېدو له مخه پل ونړېږي او يا موږ ورته ونه رسېږو او دا هم کېدای شي چې ورته ورسېږو او روغ جوړ پرې پورې نه وځو!!

د راتلونکې په اړه ذهن ته پراخه ځای ورکول او د يو غيبي کتاب پرانستل شرعاً او عقلاً ناوړه کار دی، ځکه دا له سوري سره پهلواني ده.

په دې نړۍ کې ډېری خلک د خپل راتلونکي په اړه د لوږې او تندې، فقر او نېستۍ، غم او درد اټکلونه کوي، چې دا ټولې شيطاني دسيسې دي.

اَلشَّيۡطٰنُ يَعِدُكُمُ الۡفَقۡرَ وَ يَاۡمُرُكُمۡ بِالۡفَحۡشَآءِ ۚ وَ اللّٰهُ يَعِدُكُمۡ مَّغۡفِرَةً مِّنۡهُ وَ فَضۡلًا ؕ وَاللّٰهُ وَاسِعٌ عَلِيۡمٌ ﴿۲۶۸﴾

ژباړه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



شیطان تاسې له بېوزلۍ نه وېروي او شرمناک چلن غوره کولو ته مو هڅوي؛ خو الله ﷻ خپل بخشش او پېرزوینې ته تاسې هیله من کوي، الله ﷻ د ډېر پراخ لاس خاوند او پوه دی.

ډېر خلک پر دې ژاړي، چې سبا به وږی او تږی او یا په غمونو کې ښکېل شي، د چا د عمر واک چې د بل ذات په واک کې وي، هغه ته نه ښایي چې خپل ځان د یوه نامعلوم سبا په اړه ګرو کړي.

سبا تر هغې پرېږده، چې راشي، د سبا د حوادثو په اړه مه پوښته، ځکه چې ته همدا نن ورځ بوخت یې! نننۍ ورځ نغده ده او سبانۍ ورځ نسیه؛ نو تعجب پر هغه چا چې نغده پر نسیه اړوي او هغه هم د داسې ورځې په اړه، چې لمر یې لا نه دی راختلی.

## رڼا

باور ولرئ! چې خوښۍ هغې نورسې غوټۍ ته ورته ده، چې لا ګل شوې نه وي؛ خو ګل کېدل یې یقیني وي.

## ځلا

وَمَنْ أَعْرَضَ عَنْ ذِكْرِي فَإِنَّ لَهُ مَعِيشَةً ضَنْكًا

ژباړه:

او څوک چې زما له «ذکر» د نصیحت له درس، نه مخ واړوي، په دنیا کې به یې ژوند تنګ وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



**شپږم مرجان:**

## ډېر ارمانونه، ډېر مصيبتونه

انظري للروض بسَّاماً غدا- ينشد الطيرُ به ما يطربُ

ژباړه:

شنو باغونو ته ګورئ، چې په موسکا راروان دي او د مرغانو غږونه ترې راځي.

ام علاء ﷺ فرمايي، چې يو ځل ناروغه وم؛ نو رسول الله ﷺ مې پوښتنې ته راغی او ويې فرمايل، چې:

ای ام علاء! ستا لپاره زېری دی (هغه دا چې) ناروغي د مسلمان ګناهونه داسې رژوي، لکه چې اور له سپينو زرو څخه خيری او ګرد پاکوي.

د دې مانا دا نه ده، چې ناروغي ګناهونه رژوي؛ نو انسان به روغ ځان ناروغه کوي، يا به په ځان کې د ناروغۍ ميکروبونه (جراثيم) پيدا کوي او دارو درمل به ګوندې نه کاروي، بلکې انسان ته د روغتيا لټون او د ناروغۍ درمل لټول پکار دي؛ خو که ناروغ شي؛ نو د درملو ترڅنګ پر خپله ناروغۍ صبر او له الله ﷻ نه يې د غوره بدلې تمه پکار ده، چې د دې ناروغۍ له امله به مې په اعمالنامه کې نېکۍ ليکل کېږي.

همداراز ښځې بايد د خپلو خپلوانو، مېړه او د بچيو پر بېلتانه صبر وکړي، يانې که په دوی کې يې څوک مړ شي؛ نو ښځې ته صبر پکار دی، ځکه چې په حديث شريف کې راځي، چې که د چا خپل خپلوان مړ شي او دا پرې د صبر ترڅنګ له الله ﷻ نه د ثواب تمه ولري؛ نو الله ﷻ دغسې بنده ته له جنت پرته د بل ځای په ورکولو نه راضي کېږي، يانې ارومرو به جنت ورکوي.

که د کومې ښځې مېړه مړ شي؛ نو دا څه نوې خبره نه ده، ځکه چې خلک همدغسې مري، الله ﷻ انسان د مرګ لپاره پيدا کړی دی (نو له دې امله ښځې بايد په دغسې وخت کې بېواکه نشي، هسې نه چې مېړه؛ خو يې مړ دی او

(c) ketabton.com: The Digital Library



اللهﷻ هم ترې خپه شي، ځکه د مېړه مرګ دومره لويه خبره نه ده؛ خو که اللهﷻ له چا نه خپه شي، دا لويه خبره ده» که يو څوک د خپل مېړه او زوی پر مړينه صبر وکړي او دا ووايي، چې اللهﷻ زما خالق دی؛ نو اللهﷻ فرمايي، چې دغه زما بنده دی او د نورو خلکو په پرتله زه د خپل بنده ډېر حقدار يم.

د يوه شاعر په وينا:

وما المال والأهلون إلا ودائعُ - ولا بد يوماً أن تُردَّ الودائعُ

ژباړه:

دا مال، ښځې او بچي له موږ سره د امانت په توګه دي، چې يوه ورځ به يې بېرته ورسپارو.

**رڼا**

له ستغو سپورو او کنځاوو کولو نه داسې وتښتئ، لکه چې څوک د طاعون له مرګونې ناروغۍ نه لرې تښتئ.

**ځلا**

که څوک پر خلکو شفقت کوي؛ نو اللهﷻ پر ده شفقت کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**اووم مرجان:**

**که پر ځمکوالو ولورېږئ؛ نو د اسمانونو خاوند به پر تاسې ولورېږي!**

أما علمتِ بأن العسر يتبعه- يسرٌ كما الصبر مقرونٌ به الفرجُ ؟

ژباړه:

ولې تاسې څه نه پوهېږئ، چې په تنګسه پسې اساني وي، لکه چې په صبر پسې پراخي وي؟.

په احاديثو کې پر بچيو د مور شفقت روښانه دی او مور د شفقت او لورينې بېلګه او د پېرزوينې يوه داسې سرچينه ده، چې خپل بچي پرې خړوبوي، ځان وږی ساتي؛ خو خپل بچي مړوي.

د مور د مينې او پېرزوينې په اړه د رسول اللهﷺ دې حديث ته ځير شئ؛ نو تاسې ته به د مور مينه معلومه شي.

عمرﷺ فرمايي، چې ما يو غلام نبي کريمﷺ ته راوست، په داسې حال کې چې له نبي کريمﷺ سره څه وينزې ناستې وې، يوه وينزه پاڅېده (لږ په ځنګ شوه) خپل بچي ته يې تی ورکاوه؛ نو رسول اللهﷺ وفرمايل، چې څه فکر کوئ، دغه ښځه خپل بچی اور ته غورځولای شي؟ صحابه وو عرض وکړ، چې قسم په اللهﷻ که دغسې وکړای شي؛ نو رسول اللهﷺ وفرمايل، چې دغه ښځه چې پر خپل بچي څومره مهربانه ده، اللهﷻ تر دغې ډېر پر خپلو بنده ګانو مهربان دی.

سره له دې چې هغه د خپلې قبيلې د مشر ښځه وه؛ خو بيا هم د وينزې په پنجو کې ښکېل شوې وه؛ نو ډېره انديښمنه وه، دغه حالت څوک هم نشي زغملای، چې بچی دې يې له درده زګېروی کوي، يا دې ژاړي او مور دې پرې څه پروا ونکړي، بلکې د مور زړه د بچي له زګېروي سره سم اره کېږي؛

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو ځکه دغه ښځې هم د خپل بچي په اړه ونه زغملای شوه، د غلامانو په کتار کې یې خپل بچی ولتاوه ان تر دې، چې ویې موند او بیا یې خپلې سینې ته واچاوه.

**رڼا**

بد ژبي د نورو په پرتله خپله ویونکي ته ډېر زیان رسوي.

**ځلا**

شکر د نعمتونو ساتندوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**اتم مرجان:**

**په خوښۍ کې د الله ﷻ معرفت ترلاسه کړه، چې په خپګان کې دې پکار شي**

أيها اليائس متْ قبل المماتِ- أو إذا شئت حياةً فالرَّجا

ژباړه:

ای نهیلی انسانه! له مرګ نه مخکې مړ شې، که ژوند غواړې؛ نو د هیلو واګې راونیسه!

کله چې د ماهي په ګېډه کې د یونس ﷺ زړه راتنګ شو او ولې به نه راتنګېده، ځکه چې یو خو شپه وه، بله د دریاب تیاره او لادپاسه پسې د ماهي په ګېډه کې و؛ نو یونس ﷺ ژر د هغه الله ﷻ لور ته متوجه شو، چې د بېوسو دعاګانې اوري او د هغه یاد د هر ډارېدلي کس لپاره د خوښۍ زېری دی، ډېر ښښونکی او لوراند ذات دی، کله چې یونس ﷺ د دریاب په تل کې له خپلې مبارکې خولې دغه کلمې راوایستې:

فَنَادٰى فِي الظُّلُمٰتِ اَنْ لَّآ اِلٰهَ اِلَّآ اَنْتَ سُبْحٰنَكَ اِنِّيْ كُنْتُ مِنَ الظّٰلِمِيْنَ ﴿٨٧﴾

ژباړه:

په پای کې هغه په تروږمیو کې اواز وکړ چې: نشته بل الله ﷻ مګر ته یې، پاک دی ستا ذات، بېشکه ما لنډون وکړ.

د الله ﷻ له درباره د یونس ﷺ د دغې دعا د قبلېدو ځواب نازل شو:

فَاسْتَجَبْنَا لَهٗ وَنَجَّيْنٰهُ مِنَ الْغَمِّ وَكَذٰلِكَ نُـْۨجِي الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿٨٨﴾

ژباړه:

هله نو موږ د هغه دعا قبوله کړه او له غم نه مو هغه وژغوره او په دغه شان موږ مؤمنان ژغورو.

الله ﷻ ماهي ته امر وکړ، چې زما بنده د دریاب څنډې ته راوباسه، کله چې

(c) ketabton.com: The Digital Library


یونس ﷺ د ناروغۍ او کمزورتیا په حال کې د دریاب په څنډه د ماهي له ګېډې راووت؛ نو له واره یې الله ﷻ ترڅنګ یوه داسې ونه راوخېژوله، چې د روغتیا له مادې ډکه وه، یانې ټوله روغتیا روغتیا وه، څنګه چې یونس ﷺ د دغې وینې مېوه وخوړه؛ نو روغ شو.

همدغه حال د هر هغه چا دی، چې په خوښۍ کې یې د الله ﷻ معرفت ترلاسه کړی وي، په سختو او خپګان کې به یې پکار شي.

**رڼا**

تاسې تر هغې ځان نشئ سمولای، چې خپل ژوند مو ښه کړی نه وي.

**ځلا**

هغه کس بېچاره او مسکین دی، چې ښځه یې نه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**نهم مرجان:**

## نړۍ ډېره ښکلې ده

نړۍ ډېره ښکلې او ژوند ډېر په زړه پورې دی؛ خو یوازې هغه څوک ښکلا او خوند څکلای شي، چې ښه فال نیسي.

صلى عليك الله يا علم الهدى- واستبشرت بقدومك الأيامُ

ژباړه:

ای د الله ﷺ استازیه! پر تا دې رحمتونه وي، ته د هدایت علمبردار یې او ستا په راتگ زمانې زېری ترلاسه کړ.

که د یخنۍ سختوالی ستاسې دروازې درټولي وي او شا و خوا مو د واورو غرونه جوړ شوي وي؛ نو د پسرلي د رنگینیو انتظار وکړئ، ځکه چې په ژمي پسې پسرلی راځي، لږ خو کړکۍ خلاصه کړئ، چې تازه هوا درباندې ولگېږي او د مرغانو اوازونه به هم واورئ، د لمر هغه زرینې وړانگې به ووینئ، چې د ونو پر پاڼو گلکاري کوي، د دې لپاره چې تاسې ته نوی ژوند، نېکې هیلې او ښه خوبونه دروښیي.

د ښکلیو باغونو په لټون پسې صحرا ته مه وځئ، ځکه چې په صحرا کې باغونه نه، بلکې وحشت او ترهه وي؛ نو که تاسې د باغ په لټه کې یاست؛ نو خپلو شا و خوا ونو ته ځير شئ! له سیوري او مېوو یې گټه پورته کړئ.

د تېرې زمانې په حساب، کتاب او فکرونو کې مه ډوبېږه، ځکه پخوا چې دې کوم زیان لیده، هغه دې ولید، اوس یې یادول او په اړه یې فکر کول کومه گټه نه لري، لکه چې د ونې رژېدلې پاڼې، چې بېرته نه شنې کېږي او دغو غورځېدلو پاڼو ځای په پسرلي کې نورې نوې پاڼې نیسي، یانې د هغوی پر ځای نورې راټوکېږي؛ نو تاسې باید هغو پاڼو ته وگورئ، چې پر تاسې یې سیوری کړی دی، نه هغو پاڼو ته چې په ځمکه پرتې دي.

ستاسې تېر شوی وخت د همدغو پرتو پاڼو په څېر دی، چې د ژوند له کتابه

(c) ketabton.com: The Digital Library



پرېوتي او نن مو د دغو پاڼو په څېر دی، چې پر تاسې يې سيوری کړی، ياني پرون مو تېر شوی او راروانه ورځ او يا راتلونکې په يوه غيبي نړۍ کې پټ دی، فقط نننۍ ورځ زموږ په واک کې ده او د همدې ورځې په اړه فکر زموږ لپاره ګټور دی، په تېر ژړا او د راتلونکي په اړه انديښنې بې ځايه دي.

**رڼا**

تاسې د دې خبرې اټکل نشئ کولای چې کنځاوې پر زړونو څومره ژور نقش پرې باسي.

**ځلا**

ښځه د سړي برخه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د نيکمرغۍ په لر

## کې لس

# لوړيه

# الماس

(c) ketabton.com: The Digital Library



**لسم مرجان:**

**د سړي لپاره ښځه هم نېکمرغي ده**

كوني أرقَّ من النسيم إذا جرى- وأعزَّ في الدنيا من الجوزاء

ژباړه:

ته د پرخې په څېر پسته، سپکه، نازکه او ښکلې شه او په نړۍ کې تر جوزاء هم قدرمنه شه!

ابوطلحه ﷺ له ایمان راوړلو نه مخکې ام سلیم بن ملحان ﷺ ته د واده وړاندیز وکړ او د ډېر مهر ورکولو ژمنه یې ورسره وکړه؛ خو د نجلۍ کورنۍ بیا هم له خپلوۍ انکار وکړ؛ نو ابوطلحه ﷺ هک پک شو، چې د دومره ډېر مهر ورکولو سره هم د نجلۍ کورنۍ انکار وکړ او دا یې وویل، چې موږ یوه کافر ته خپله خور، لور نشو ورکولای او د دې ترڅنګ یې دا هم وویل:

ای ابوطلحه! ولې ته خبر نه یې، چې ستاسې خدایان پلانکی، پلانکی کس په خپلو لاسونو جوړوي؟ که ستاسې دغه خدایان اور ته واچول شي؛ نو سوځي.

د دغو خبرو په اورېدو د ابوطلحه ﷺ زړه راتنګ شو او بېرته په راغلې لار روان شو؛ خو بیا یې هم خبره زړه ته نه کوزېده، چې له دومره مهر سره سره هم د نجلۍ کورنۍ له خپلوۍ انکار وکړ، دا کله کېدای شي؟.

دا چې ابوطلحه ﷺ پر ام سلیم ﷺ باندې له زړه نه مئین و، بله ورځ بیا ورغی او د مخکې په پرتله یې هم د ډېر مهر وړاندیز وکړ، په دې ګومان چې ښایي دا ځل ورسره خپلوي وکړي؛ خو بیا هم ام سلیم ﷺ له نکاح نه انکار وکړ اوپه ډېر ادب یې ورته وویل:

ای ابوطلحه! ستا غوندې سړی څوک نشي ردولای، (یانې ته د دې وړ یې، چې هر څوک درسره د نکاح هیله ولري)؛ خو ته نامسلمان او زه مسلمانه یم، زه د نکاح لپاره له تا نه نور هیڅ نه غواړم، فقط ته د اسلام دین ومنه او ایمان راوړه.

ابوطلحه: د ایمان راوړلو لپاره چا ته ورشم؟.

(c) ketabton.com: The Digital Library


ام سلیم ﵂: محمد رسول الله ﷺ ته ورشه!.

ابوطلحه د نبي کریم ﷺ لور ته په منډو منډو ورغی؛ نو رسول الله ﷺ یې له صحابه وو سره ناست ولید، چې د رسول الله ﷺ سترګې پر ابوطلحه ولګېدې؛ نو خپلو ملګریو ته یې وویل، چې ابوطلحه راروان دی او د اسلام نور یې د دواړو سترګو ترمنځ، یانې د تندي په منځ کې ځلېږي.

ابوطلحه ﵁ رسول الله ﷺ ته د ام سلیم ﵂ خبره وکړه او بیا یې ایمان راووړ؛ نو رسول الله ﷺ یې له ام سلیم ﵂ سره نکاح وتړله.

خوږو لوستونکیو! ام سلیم ﵂ د ټولې نړۍ د ښځو لپاره یوه غوره بېلګه ده، ځکه چې تاسې ولیدل، چې د څومره شتمن سړي له نکاح نه یې یوازې په دې خبره انکار وکړ، چې زه مسلمانه او ته یو نامسلمان شخص یې او که له ما سره نکاح کول غواړې؛ نو ته باید لومړی ایمان راوړې؛ نو وګورئ، چې ام سلیم ﵂ قرباني ورکړه؛ نو الله ﷻ د دې په برکت ابوطلحه ﵁ مسلمان کړ او دا یې په نکاح کې هم ورکړه، یانې څو ګټې یې وکړې، هم یې له هماغه ابوطلحه ﵁ سره نکاح وشوه، چې پرې مئین و او د قربانۍ اجر؛ خو به یې الله ﷻ ته معلوم وي، چې په اعمالنامه کې به یې څومره اجر لیکل شوی، یانې دنیا او اخرت یې دواړه ښاېسته شوي (نو تاسې هم بې واده خویندې باید له ځان سره دا پرېکړه وکړئ، چې موږ به هم له هغه چا سره نکاح کوو، چې مسلمان او پرهېزګار وي، نه شتمن او بې دینه وي).

رڼا

که غواړې، چې خلک درسره په موسکا مخ شي؛ نو ته هم ورسره په موسکا مخ کېږه!.

ځلا

وَاصْبِرْ عَلَىٰ مَآ أَصَابَكَ

ژباړه:

او هر مصیبت چې درباندې راشي صبر پرې وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**لومړی الماس:**

## د بریالیتوب کیلي

دارٌ متی ما أضحکت في یومها- أبکت غداً قبحاً لها من دارِ

ژباړه:

دا دنیا څومره مکاره ده، ځکه که یوه ورځ مو خندوي؛ نو په سبا له مو پسې ژړوي هم.

د عزت کیلي: د الله ﷻ او د هغه د رسول اطاعت دی.

د روزۍ کیلي: د استغفار او توبې ترڅنګ هڅه او کوښښ دی.

د جنت کیلي: توحید (فقط د یو الله ﷻ عبادت کول، له هغه ﷻ پرته له بل چا نه مرسته نه غوښتل او نه چا ته سر ټیټول، نه د بل چا په نامه نذرونه او منښتې کول).

د ایمان کیلي: د الله ﷻ په نښانو او د هغه په مخلوق کې فکر کول دي.

د خیر کیلي: ریښتینولي ده.

د زړه کیلي: په فکر او تدبر سره د قرآن کریم لوستل، د تهجدو په وخت کې الله ﷻ ته عذر، زاري او پرهېزګاري ده.

د علم کیلي: ښې پوښتنې او ښه غوږ کېښودل.

د مرستې کیلي: صبر.

د بریالیتوب کیلي: پرهېزګاري.

د نعمت کیلي: شکر.

د اخرت د فکر کیلي: په دنیا کې زهد.

د قبولتیا کیلي: دعا.

**رڼا**

د انسان موسکا د لمر له وړانګو نه یوه وړانګه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library


**دویم الماس:**

**تر تنګسې وروسته د پراخۍ خوند**

تسلَّ عن الهموم فليس شيءٌ - يقيم ، وما همومك بالمقيمه

ژباړه:

ځان پر خپلو اندېښنو بوختوه، ځکه چې هیڅ یوه اندېښنه تل نه وي؛ نو ستا اندېښنې هم له منځه تلونکي دي.

یوه ناوې خپلې مور ته په یوه لیک کې داسې لیکي:

مور جانې! مورې د واده له چکر نه راستانه شو او له خوارې مېړه سره مې په کوډله کې یم؛ خو کاش! چې ته مې خوا ته وای او ما درته د دې نوي ژوند د تجربو په اړه څه ویلي وای، زما مېړه ډېر ښه سړی دی او مورې دواړه په خپلو کې ښه خواږه یو، له یو بل سره ډېره مینه کوو او زه تل د هغه کار کولو په هڅه کې یم، چې مېړه مې پرې خوشحالېږي.

مور جانې! زه پر هماغو نصیحتونو او سپارښتنو عمل کوم، چې د رخصتۍ پر مهال دې راته کړي دي او ستا هغه خبرې مې په ذهن کې اوړي راوړي، چې تا کله په سینې پورې ونیول او د نوي کور او نوي ژوند په اړه دې راته وکړې او همدا لامل دی، چې زه مې خپل ژوند ته ستا په سترګو ګورم، ته زما لپاره ډېره غوره لارښوده وې.

مور جانې! زما د ژوند تر ټولو ستر هدف همدا دی، چې ستا پر پله پل کېږدم او هسې وخت تېر کړم، نکه تا چې زما له پلار، وروڼو او خوېندو سره تېر کړی او تا چې له مورې سره څومره مینه کړې، زه هم غواړم، چې له خپلې دې نوې کورنۍ سره هماغسې مینه وکړم.

ای مور جانې! د دروازې د پرانستل کېدو غږ مې تر غوږ شو، ښایي مېړه مې راغلی وي، هغه به زما لیک لوستل غواړي، چې ما مې مور ته په لیک کې څه لیکلي دي، کېدای شي چې هغه هم له ما سره په دې لیک کې خپل شعور

(c) ketabton.com: The Digital Library



او انګېرنې شريکول وغواړي.

مور جانې! مېړه مې له ما نه قلم او کاغذ غواړي، چې تا ته خپل احساسات دروانګېري.

ستا او د پلار جان د لاسونو ښکلولو په هيله.

ستا خوږه لور ......

**رڼا**

پر موسکا هيڅ لګښت نه راځي؛ خو اغېز يې ډېر ژور وي.

**ځلا**

رَبَّنَا تَقَبَّلْ مِنَّا ۖ إِنَّكَ أَنْتَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ ﴿١٢٧﴾

ژباړه:

ای زموږ ربه! له موږ نه دا خدمت قبول کړه، ته د هر څه اورېدونکی او په ټولو شيانو پوهېدونکی يې.

(c) ketabton.com: The Digital Library


**دریم الماس:**

## اندېښنې

اندېښنې پر زړه تنګۍ سربېره داسې عصبي ناروغۍ رازېږوي، چې ذهن او بدن دواړه ښکار کوي.

د يوه شاعر په وينا:

قال : الحياةُ كئيبة و تجهّما - قلت ابتسم يكفي التجهُّمُ في السما !

ژباړه:

هغه وويل، چې ژوند څومره تنګلاسي او اندېښنو نه ډک دی؛ نو ما ورته وويل، چې غم يې مکوه، زموږ لپاره د اسمان برېښنا هم بس ده.

ټولې عصبي ناروغۍ د اندېښنو زېږنده دي، ځکه د اندېښنو له امله ذهني تشويش رامنځته کېږي او د ذهني تشويش په رامنځته کېدو ټولې سوکالۍ او هوساينې له منځه ځي؛ نو خپله ډول ډول ناروغيو ته لار هوارېږي؛ خو کله چې موږ ځان د لويو مصيبتونو مقابلې ته چمتو کوو؛ نو زموږ لومړی کار به دا وي، چې په ستونزمن وخت کې له سختيو او مصيبتونو نه د راوتو لپاره ذهن په کار واچوو، ځکه چې دغه دواړه کاره نشي کېدای، چې هم دې له زړه تنګۍ او عصبي ناروغيو سره لاس او ګرېوان یو او هم د څه کار لپاره زړه را لوی کړو، ځکه چې دغه دواړه شيان يو د بل ضد دي، چې يو بل نه پرېږدي.

که تاسې له کومې ستونزې سره مخ شئ او وېرېږئ، چې دغه ستونزه به ستاسې د ذهني تشويش لامل شي؛ نو تاسې پر خپل نېر ژوند يو ځغلنده نظر راتېر کړئ او د تېر ژوند تر ټولو ستونزمن او سخت حالات راپه زړه کړئ، چې له امله يې درته اوسنۍ ستونزه وړه ښکاره شي؛ نو هله به له اندېښنو او عصبي ناروغيو خلاصی ومومئ، ځکه چې ستاسې هاغه تېره سخته او ستونزه تر اوسنۍ ډېره سخته وه؛ نو هغه چې څنګه هواره او تېره شي؛ نو دا به هم هماغسې هواره، تېره او هېره شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا خبره له یاده مه وباسئ، چې اندېښنې فقط پر تاسې لاسبري کېږي، نه ستاسې پر وختونو او چارو، بلکې تاسې چې کله وزګار شئ؛ نو اندېښنې مو ذهن ته لار کوي او له اندېښنو څخه د خلاصون غوره لار دا ده، چې وزګار مه کېنئ، بلکې ځان په څه کار کې بوخت ساتئ.

**رڼا**

کله نا کله ډېرې وړې خبرې هم انسان د لېونتوب تر پولې رسوي.

**ځلا**

ژوند فقط یو څو دقیقې او څو ثانیې دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library


**خلورم الماس:**

**د لغړتوب پایلې**

صبراً على شدة الأيام إنَّ لها – عُقْبى ، وما الصبر إلا عند ذي حسبِ

ژباړه:

د ورځو پر سختیو او اندېښنو صبر کول پکار دي. ځکه چې ټولې سختۍ پای لري او صبر د هوښیارو خلکو کار دی.

زموږ تنکي ځوانان وروڼه په دې فکر کې دي، چې د ښځو ستر مات شي او ښځې له پردې پرته میدان ته راووځي؛ خو قسم په الله ﷻ که دغه ستر مات شو؛ نو بیا به خپل سر ټکوئ او ژاړئ، که څه هم په ځینو خلکو کې شپه او ورځ دغسې پېښې رامنځته کېږي؛ خو هغوی یې باک نه ګڼي، ځکه چې هغوی څه شرم او حیا نه لري، تاسې خو غیرتي خلک یاست، د شرم او حیا درس درکړ شوی، له بې حیایۍ منع شوي یاست؛ نو تاسې کله لغړتوب زغملای شئ، الله ﷻ مه کړه! که پرده له منځه لاړه؛ نو بیا به پرې پښېمانه یاستئ؛ خو پښېمانتیا به مو ګټه نلري، بیا به د پردې د دودولو هڅه کوئ او هلې ځلې به مو هیڅ ځای نه نیسي، ځکه چې اوس ښځې د دود له مخې هم پرده کوي، دوی له نورې نړۍ نه لا تراوسه نه دي خبرې، ځکه پرده کول ورته ګران نه دي؛ خو که یو ځل دې ښځو پرده لرې کړه او څو ورځې پرې دغه ازاده هوا ولګېده؛ نو بیا به پرده ورته سم زندان ښکاري.

دا خو زموږ مشرانو د دې ښځو په مغزو کې په ډېره خوارۍ دا خبره کېنولې، چې د ښځې قدر او عزت د هغې په پرده کې دی؛ نو ځکه ښځې په خوښۍ پرده کوي؛ خو که دغه تعلیم د ښځو له زړونو ووځي او دا ورته وویل شي، چې د ښځې عزت په دې کې دی، چې بې پردې په بازارونو کې ګرځي؛ نو بیا

(c) ketabton.com: The Digital Library



به تر قيامته پرې پرده ونه کړای شئ.

قدرمنو!

د ښځو جوهر په دې کې دی، چې له بهرنۍ نړۍ نه ناخبره په کور پاتې شي.

**رڼا**

د سړي نېکمرغي د ښځې له دوارو شونډو د يوې خبرې راوتل دي. (؟)

**ځلا**

وَإِذَا مَرِضْتُ فَهُوَ يَشْفِينِ ۝٨٠

ژباړه:

او کله چې ناروغېږم هماغه مې روغوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**پنځم الماس:**

## قوت په علم کې وي، نه په بدن کې

لكلِّ من الأيام عندي عادةٌ – فإن ساءني صبرٌ، وإن سرني شكرُ

ژباړه:

زما عادت دا دی، چې هره ورځ پر یوه ناوړه خبر صبر کوم او کله شکر کوم.

یوه عیسوی (نامسلمانه) ښځه، چې په خپل ژوند کې یې له بېوزلۍ، نېستۍ او ناروغۍ پرته هیڅ نه پېژندل، ځکه چې تر لومړي واده څو ورځې وروسته یې مېړه مړ شو، چې بل واده یې وکړ؛ نو څه موده پس یې مېړه بله ښځه وکړه او دا یې پرېښوده، ترې لاړ، څو ورځې پس یې د دغه دویمني مېړه جسد په یوه کوډله کې موندل شو.

دغې نامسلمانې ښځې یو زوی هم درلود؛ خو د فقر او نېستۍ له امله یې چېرته پرېښی و، بله ورځ دغه ښځه په ښار کې روانه وه، ناڅاپه د پښې په ښوېدلو راپرېوته او بې سده شوه.

د راپرېوتو له امله یې ملا ماته شوې وه او ډاکټرانو ځوابه کړې وه، چې ته د رغېدو نه یې او بله دا چې ډېر ژر به ګوزن (فالج) درباندې برید کوي، دغه خواره چې د ډاکټرانو له درملنې نهیلې شوه؛ نو خپل سپېڅلی کتاب انجیل یې راوخیست او د پاڼو په اړولو یې لاس پورې کړ، ناڅاپه یې په هغه کیسه سترګې مېخ شوې، چې یو ګوزن وهلی عیسی ﷺ ته راوستل شو؛ نو عیسی ﷺ ورته وفرمایل، چې د الله ﷻ په امر پاڅه او بستره دې اخله کور ته ځه؛ نو هغه ناروغ رګ روغ کور ته په خپلو پښو روان شو [1].

ښځې چې په خپل سپېڅلي کتاب کې دغه پېښه ولوسته؛ نو ایماني ځواب یې په څپو شو، یو ناڅاپه راولاړه شوه او پر خپلو پښو روانه شوه.

---

[1] پتمنو خویندو دا خبره له یاده مه باسئ، چې هغه دین اوس منسوخ شوی، که اوس څوک د هغه پیرو شي؛ نو هغه به کافر او نامسلمان بلل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوږو لوستونکیو!

تاسې ولوستل، چې د دغې ښځې ټول بدن ګوزن داسې وهلی و، چې له سره د خوځېدو نه وه؛ خو چې په خپل سپېڅلي کتاب کې یې د ګوزن وهلي کس پېښه ولوسته، چې عیسیﷺ ورته هغه دوه جملې وویلې؛ نو ګوزن وهلی کس رک روغ شو او بېرته په خپلو پښو کور ته روان شو؛ نو د دغې ښځې ایماني قوت هم د دې جوګه شو، چې ګوزن وهلې بوډۍ یې پر خپلو پښو ودروله، ناروغي یې ښه شوه او د نورو لپاره نمونه هم شوه؛ خو ای مسلمانې خورې! تا څه وکړل؟.

**رڼا**

نېکه ښځه د یوې مضبوطې کلا په څېر ده، چې هېڅوک یې نشي ړنګولای.

**ځلا**

قناعت یوه داسې زېرمه ده، چې کله هم نه تشېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


**شپږم الماس:**

**زړوره ښځه د اندېښنو له اور نه هم ګلزار جوړولای شي**

وعاقبةُ الصبر الجميل جميلةٌ- وأفضل أخلاق الرجال التفضُّلُ

د شعر ژباړه:

د ښه صبر پایله هم ښه وي او د سړیو تر ټولو ښه اخلاق ښېګړه ده.

د ابوطلحه ﷺ ښځې ام سلیم ﷺ، چې خپل زوی خاورو ته وسپاره؛ نو د صبر ډېره غوره نمونه یې وړاندې کړه؛ نو ځکه الله ﷻ ورته غوره بدله هم ورکړه.

انس ﷺ وايي، چې د طلحه ﷺ زوی ډېر ناروغ و، په داسې حال کې، چې طلحه ﷺ په کور کې نه و (چېرته تللی و) نو زوی یې مړ شو، د شپې چې ابوطلحه ﷺ کور ته راغی، ښځه یې د زوی د ناروغۍ په اړه وپوښتله، چې هلک اوس څنګه دی؟ ام سلیم ﷺ یانې ښځې یې ورته وویل، چې اوس ارام دی، بیا یې مېړه ته خواړه کېښودل، تر خوراک، څښاک وروسته یې ورسره کوروالی وکړ، چې له کوروالي نه وزګار شول؛ نو هله یې مېړه ته د زوی کیسه وکړه، چې هغه په حق ورسېد او خاورو ته مې وسپاره.

سهار ابوطلحه ﷺ رسول الله ﷺ ته دغه کیسه وکړه؛ نو رسول الله ورته دعا وکړه، چې ای الله ﷻ په دې ښځه او مېړه دواړو کې برکت واچوه؛ نو تر هغې وروسته له ام سلیم ﷺ کره بل زوی پیدا شو؛ نو انس ﷺ وايي، چې ما ته ابوطلحه ﷺ خپل زوی او یو څه خرماوې راکړې، چې رسول الله ﷺ ته یې یوسه.

انس ﷺ چې ماشوم رسول الله ﷺ ته ور ووړ؛ نو رسول الله ﷺ وپوښت، چې له دې ماشوم سره نور څه شته؟ انس ﷺ هغه دوه دانې خرما هم راواخیستې او رسول الله ﷺ ته یې ورکړې، رسول د خرما یوه دانه په خوله کې وژووله او بیا

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې د ماشوم په خوله کې ورکړه او عبدالله نوم يې پرې کېښود.

وګورئ د ام سليمؓ صبر ته، چې د زوی پر مړينه يې نه چيغې او نه واويلا کوله، بلکې له صبر نه يې کار واخيست.

**رڼا**

له حيا او پاکلمنۍ پر ته بل هيڅ شی د ښځې قدر نشي ډېرولای.

**ځلا**

د شپې تياري ته د سباوون زېری ورکړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**اووم الماس:**

## له صبر نه کار واخلئ

فصبراً على حلو الزمان ومرِّه- فإن اعتياد الصبر أدعى إلى الرشدِ

د شعر ژباړه:

د زماني پر خوږو او ترخو دواړو خبرو باندې صبر کوئ، چې په صبر کولو انسان قدرمن کیږي.

ام ربیع بنت براء، چې د حارثه بن سراقه مور وه، کله چې حارثه ﷺ د بدر په غزا کې شهید شو، تر هجرت وروسته ام ربیع رسول الله ﷺ ته په دې تمه راغله، چې د رسول الله ﷺ له خولې ښايي د خپل شهید زوی په اړه داسې خبره واورم، چې زړه مې پرې یخ شي؛ نو په دې لړ کې یې رسول الله ﷺ وپوښت، چې ای د الله ﷺ رسوله! ما د حارثه ﷺ له حاله خبره کړه، که هغه په جنت کې وي، چې زه (یې پر بیلتانه) صبر وکړم او که بله څه خبره وي (یانې الله ﷺ مه کړه که په دوزخ کې وي، چې) ښه وژاړم.

نبي کریم ﷺ ورته وفرمایل، چې ای د حارثه مورې! جنتونه ډېر دی؛ خو ستا زوی په جنت الفردوس کې هم د لوړ مقام خاوند دی.

مور کله هم د زوی بیلتون نشي زغملای او بیا لا داسې بیلتون، چې نازولی یې د تورو خاورو خوراک شي؛ نو ځکه دغې ښځې له رسول الله ﷺ نه د خپل نازولي زوی د حال پوښتنه وکړه، چې زوی مې که په جنت کې وي، چې پر بیلتانه یې صبر وکړم او په جنت کې یې د لیدو تمه ولرم؛ خو دا چې د هغې ښځې زړه د ایمان په پلوشو روښانه و؛ نو د رسول الله ﷺ له خولې یې چې د خپل زوی د جنتي کېدو زېری واورېد؛ نو صبر یې وظیفه کړ.

**رڼا**

که ښکلې ښځه جوهر وي؛ نو شریفه ښځه خزانه ده.

**ځلا**

ښځه یو داسې لمر دی، چې له سره نه پرېوځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**اتم الماس:**

**په سخته کې له الله ﷻ پرته بل څوک پکار نه راځي**

فليتك تحلو والحياة مريرةٌ- وليتك ترضى والأنام غِضابُ

د شعر ژباړه:

کاش! ای الله ﷻ! چې ته خوږ او ژوند تریخ وای، ته راته خوشحاله او ستا مخلوق را څخه خپه وای (؟)

که غم دربانديې خپل تور څادر وغوړوي، اندېښنې دې لمن راونيسي، له هر لوري دربانديې د مصيبتونو دروازې راپرانيستل شي او د خلاصون لار درڅخه ورکه شي؛ نو دا دعا ووايه:

«لاَ إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ العَظِيمُ الحَلِيمُ، لاَ إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ رَبُّ العَرْشِ العَظِيمِ، لاَ إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ رَبُّ السَّمَوَاتِ وَرَبُّ الأَرْضِ، وَرَبُّ العَرْشِ الكَرِيمِ»

صحيح البخاري (٨ / ٧٥)

نو د دغې دعا په لوستو به مو ټولې اندېښنې او مصيبتونه لرې شي.

الله ﷻ فرمايي:

فَاسْتَجَبْنَا لَهُۥ وَنَجَّيْنَٰهُ مِنَ الْغَمِّ ۚ وَكَذَٰلِكَ نُۨجِى الْمُؤْمِنِينَ ﴿٨٨﴾

ژباړه:

هله نو موږ د هغه دعا قبوله کړه او له غم نه مو هغه وژغوره او په دغه شان موږ مؤمنان ژغورو.

همدا راز که د ناروغ ناروغي سخته شي، بدن يې له درد څخه لړزېږي، رنګ يې ژېړ واوړي، ټول طبيبان يې ځواب کړي او نهيلی پر بستره پرېوځي؛ نو د الله رب العزت دروازه دې وټکوي او هغه الله ﷻ دې راوبلي، الله ﷻ به يې ناروغي ښه کړي، په وينه کې به يې روغتيا په ځغاسته شي، ځکه چې الله ﷻ دعا قبلونکی ذات دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library


الله ﷻ فرمايي:

وَ اَيُّوْبَ اِذْ نَادٰى رَبَّهٗٓ اَنِّيْ مَسَّنِيَ الضُّرُّ وَ اَنْتَ اَرْحَمُ الرّٰحِمِيْنَ ﴿٨٣﴾ فَاسْتَجَبْنَا لَهٗ فَكَشَفْنَا مَا بِهٖ مِنْ ضُرٍّ وَّ اٰتَيْنٰهُ اَهْلَهٗ وَ مِثْلَهُمْ مَّعَهُمْ رَحْمَةً مِّنْ عِنْدِنَا وَ ذِكْرٰى لِلْعٰبِدِيْنَ ﴿٨٤﴾

ژباړه:

او همدغه (د ځیرکۍ حکم او علم نعمت) موږ ایوب ﷺ ته ورکړی و، کله چې هغه له خپل رب نه غوښتنه وکړه چې ((زه ناروغ یم او ته ارحم الراحمین یې)) موږ د هغه دعا قبوله کړه او له هغه څخه مو د هغه تکلیف ایسته کړ او یوازې د هغه د کورنۍ غړي مو هغه ته ورنه کړل، بلکې پر هغو سربېره مو هماغومره نور هم ورکړل، د خپل ځانګړي رحمت په ډول او د دې لپاره چې دا د عبادت کوونکیو لپاره یو درس وي.

**رڼا**

د سړي تر ټولو ستره خزانه ښځه ده

**څلا**

ښځې ښیښې ته ورته وي؛ نو له نرمۍ ورسره کار واخلئ (الحدیث)

(c) ketabton.com: The Digital Library



**نهم الماس:**

## د بېوسه دعا

أَمَّنْ يُجِيبُ الْمُضْطَرَّ إِذَا دَعَاهُ وَيَكْشِفُ السُّوٓءَ

ژباړه:

څوک دی چې د بېکس او بېوس دعا اوري کله چې هغه يې وبلي او څوک د هغه کړاو ايسته کوي؟

لا يضِقْ ذرعُك عند الأزماتِ- إنْ هي اشتدتْ فأمِّل فَرَجَا

د شعر ژباړه:

په سخته کې لاس مه تنګوئ، که سخته ډېره شي؛ نو د الهي مرستې په تمه شئ.

د الله ﷻ رحم او پېرزو ته ګوره، چې سوالګر بې نوا نه ستنوي او نه يې دعا ضائع کوي، څوک چې ترې څه او څومره غواړي، هماغومره يې ورکوي او دا لا څه چې الله ﷻ دومره لوراند (رحمن) ذات دی، چې کفارو ته يې هم ورکوي، سره له دې، چې هغوی يې له سره مني هم نه؛ خو بيا هم الله ﷻ هغوی ته په دنيا کې ټول دنيوي شيان ورکوي، چې ښايي په دې ډول هغوی د اسلام منلو ته غاړه کېږدي او ځانونه الله ﷻ ته رانږدې کړي؛ خو بيا هم ډېرو خلکو د الله ﷻ دغه احسان او ښېګڼې شاته غورځولې دي او د هغه د ښېګړو تکذيب يې کړی دی، لکه چې الله ﷻ فرمايي:

فَإِذَا رَكِبُوا فِي الْفُلْكِ دَعَوُا اللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ فَلَمَّا نَجَّاهُمْ إِلَى الْبَرِّ إِذَا هُمْ يُشْرِكُونَ ﴿٦٥﴾

ژباړه:

کله چې دغه خلک په بېړۍ کې سپرېږي؛ نو له الله ﷻ نه په خالصې عقيدې سره دعا غواړي، بيا کله چې الله ﷻ دوی وژغوري، وچې ته يې راولي؛ نو

(c) ketabton.com: The Digital Library


ناڅاپه دوی بیا په شرک کولو لاس پورې کړي.

الله ﷻ پر خپلو بنده ګانو ډېر مهربانه دی، ان تر دې، چې د هر بېوسه او بېکسه دعا اوري او ستونزې يې هواروي؛ خو بيا هم ډېر لږ خلک ترې پند اخلي، لکه چې الله ﷻ فرمايي:

أَمَّنْ يُجِيبُ الْمُضْطَرَّ إِذَا دَعَاهُ وَيَكْشِفُ السُّوءَ وَيَجْعَلُكُمْ خُلَفَاءَ الْأَرْضِ ۗ أَإِلَٰهٌ مَعَ اللَّهِ ۚ قَلِيلًا مَا تَذَكَّرُونَ ﴿٦٢﴾

ژباړه:

څوک دی، چې د بېکس او بېوس دعا اوري، کله چې هغه يې وبلي او څوک د هغه کړاو ايسته کوي؟ او (څوک دی چې) تاسې د ځمکې خلفاء ګرځوي؟ ايا له الله ﷻ سره کوم بل خدای هم (د دې کارکوونکی) دی؟ تاسې بېخي لږ غور کوئ.

## رڼا

ښځې بايد په کور کېني، ځکه چې ښځه ډېر نازک لوښی دی او ډېر ژر ماتېږي.

## ځلا

پام کوئ! نورو ته ستونزې مه راولاړوئ، ځکه چې نورو ته ستونزې راولاړول د بېلارۍ دليل دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د نیکمرغي بنځې

## لپاره د

# ګلانو ګېډۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



**لسم الماس:**

## بخیلتوب

وَمَنْ یَّبْخَلْ فَاِنَّمَا یَبْخَلُ عَنْ نَّفْسِهٖ

ژباړه:

په تاسې کې ځينې کسان داسې دي، چې بخيلي کوي، هغه په حقيقت کې خپله له خپل ځان سره بخيلي کوي.

د يوه عربي شعر ژباړه ده چې:

د تيارې له راخپرېدو مه ډارېږئ، بلکې په تياره کې، لکه د ستورو وځلېږئ!

د عمر بن عبدالعزيز د يوې خور په اړه ويل کېږي، چې هغې به ښځې خپل کاله ته راټولولې، پر ښکليو جامو سربېره به يې يو څه نغدې پيسې هم ورکولې او بيا به يې ورته ويل، چې دغه جامې تاسې اغوندئ او دغه پيسې پر اړو کسانو وېشئ. يانې په دې ډول به يې په ښځو کې د سخا ماده پيدا کوله او ښځې به يې له سخا سره اشنا کولې او بيا به يې ويل، چې که بخيلي جامه واى؛ نو قسم په الله که ما کله هم اغوستې واى او که لار واى؛ نو زه به پرې کله هم نه تلاى.

د سخا په اړه به يې ويل، چې د هر اولس لپاره يوه بېلونکې نښه وي؛ خو زما نښه سخا ده، همدا راز وايي، چې قسم په الله ﷻ په ملاقات کې ډاډېنه (؟) ما ته په ډېره ولږه کې تر خوندورو خوړو او په سخته تنده کې تر يخو اوبو هم غوره ده.

نوموړې ښځه وايي، چې:

«ما له نېکانو پرته کله هم له چا سره حسد نه دى کړى او له هغوى سره مې فقط داسې حسد کړى، چې ما ورسره په نېکۍ کې ګډون غوښتى، چې کاش! زه هم ورسره په دغه نېکۍ کې شريکه واى»

اوس د دې دور په ښځو کې دغه صفتونه کوم دي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library


**رڼا**

د ځان غوښتنې له ناروغۍ نه خلاصون ریښتینې نیکمرغي ده.

**ځلا**

اِنَّمَا یُوَفَّی الصّٰبِرُوْنَ اَجْرَهُمْ بِغَیْرِ حِسَابٍ۝

ژباړه:

چا چې په دې دنیا کې نېک چلند غوره کړی دی د هغو لپاره ښېګڼه ده او د الله ﷻ ځمکه پراخه ده، صبر کوونکیو ته به خپل اجر بې حسابه ورکړ شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ګلاب:**

**ته نه خیځواله او نه لوېدیځواله یې، بلکې ته یوه مسلمانه ښځه یې!**

عسی فرجٌ یکون عسی- نعلّل نفسنا بعسی

ژباړه:

مرسته نږدې ده، بېخي نږدې ده او موږ په نږدې رسۍ پورې نښتي یو.

ده یوې جرمنۍ مسلمانې وینا ده چې:

«ای مسلمانې خورې! د لوېدیزوالو ښځو په لیدو د هغوی په مود او فیشن تېر نه وځې، ځکه هغوی موږ د مود او فیشن په نامه تېر باسي او زموږ پر هېواد له دغې لارې یرغل کول غواړي.»

یوازې اسلام او اسلامي نظام دی، چې د ښځو ساتنه کوي، بل د ښځو په ختمه کې دا خبره اغښل شوې، چې هغه په کور کې اوسېدل خوښوي؛ خو کېدای شي، چې ستاسې په ذهن کې دغه پوښتنه راولاړه شي، چې دا کله کېدای شي، چې ښځه دې فقط په کور کې پاتې شي او له بهرنۍ نړۍ سره دې خپلې اړیکې وشلوي؟ نو د دې ځواب دا دی، چې الله ﷻ سړیو ته د ښځو په پرتله ډېر ځواک، قوت، پوهه او زغم وربښلی دی او په ښځو کې یې د نرمۍ او شفقت ماده ایښې ده او دا چې د ښځې مزاج ډېر ژر اوړي راوړي؛ نو ځکه ښځو ته په کور ناسته ښه ده.

کومه ښځه، چې له خپل مېړه او بچیو سره مینه کوي؛ نو هغه له اړتیا پرته له کوره وتل له سره نه خوښوي او پاتې شوې لوېدیزوالې ښځې؛ نو هغوی؛ خو نهه نوي برخې خپل عزت پلورلی دی، ځکه چې هغوی له الله ﷻ څخه نه وېرېږي، بل دا چې لوېدیزوالې ښځې که له کوره وځي؛ نو مېړونه یې په کور کې د ښځو کار کوي، یانې جامې سړي مینځي، ماشومان سړي کراروي، دا

(c) ketabton.com: The Digital Library


جلا خبره ده، چې سړی له خپلې ښځې سره په کورنیو چارو کې مرسته کولای شي او خپله اسلام هم دې لور ته خلک هڅولي دي؛ خو دومره هم نه ده پکار، چې سړی دې د ښځې او ښځه دې د سړي ځای ونیسي.

**رڼا**

که تاسې ښکلې شوئ؛ نو ټوله نړۍ به درته ښکلې ښکاره شي.

**ځلا**

وَنُيَسِّرُكَ لِلْيُسْرَىٰ ۝٨

ژباړه:

او موږ به تا ته د اسانې لارې اسانتیا درکړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**نرګس:**

**غمونه شاته وغورځوئ او په نېکو چارو کې بوختې شئ!**

توكّلنا على الرحمن إنا–وجدنا الفوز للمتوكّلينا

ژباړه:

موږ پر رحمن ذات توکل وکړ؛ نو موږ په همدغه توکل کې کامیابي ومونده

که تاسې تر خپلې وسې د کومې ستونزې د هوارولو کوښښ کړی وي؛ نو ورپسې ځانونه د قرآن کریم په تلاوت او یا د کوم بل ګټور کتاب په مطالعه بوختې کړئ، ځکه چې دوه متضاد شیان په یوه لوښي کې نه ځایېږي. لکه چې الله ﷻ فرمايي:

مَا جَعَلَ اللهُ لِرَجُلٍ مِّنْ قَلْبَيْنِ فِيْ جَوْفِهٖ

ژباړه:

الله ﷻ د چا په ګوګل کې دوه زړونه نه دي ايښي.

فرض کړئ، چې ستاسې بچی ناروغ دی؛ نو پکار ده، چې د درملنې پیل یې په دعا او خیرات وکړئ. یانې لومړی یو څه خیرات کړئ او بیا د خپل بچي د ښه کېدو دعا وکړئ او تر هغې وروسته یې ډاکتري درملنه پیل کړئ.

د غم د سپکولو یوه لار دا هم ده، چې انسان تېرې سختې راپه زړه کړي او دا فکر وکړي، چې مغه سختې الله ﷻ لرې کړې؛ نو دا خو د هغو په پرتله ډېرې وړې دي، دا به هم لرې شي. ان شاء الله.

علامه ابن جوزي رحمه الله فرمايي:

((... که څوک له کومې سختې سره مخ شي؛ نو هغه باید داسې فکر وکړي، چې که تر دې هم ډېره سخته راغلې وای؛ نو ما څه کولای شو، هیڅ مې نشو کولای؛ نو په دې حال شکر پکار دی، ځکه چې له بدو بدترې شته؛ نو په

(c) ketabton.com: The Digital Library



داسې حال کې انسان باید د ښه ساعت انتظار وکړي او که سخته نه وای؛ نو د انسان دعا ته کله فکر کېږي او که فکر يې شي؛ نو څه به وغواړي››

**رڼا**

یو حکیم وایي، چې زه کله هم پر چوپتیا نه یم پښېمانه شوی؛ خو پر خبرو کولو ډېر ځل پښېمانه شوی یم.

**ځلا**

رَبَّنَا لَا تُزِغْ قُلُوبَنَا بَعْدَ إِذْ هَدَيْتَنَا

ژباړه:

ای زموږ پالونکیه! تر هدایت وروسته زموږ زړونه مه کږوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**رامبېل:**

**د نېکمرغۍ په اړه څو اړینې لارښوونې**

وإذا أتتك مذمتي من ناقصٍ- فهي الشهادة لي بأني كاملُ

ژباړه:

که کوم ناپوه کس په ما پسې خبرې کوي؛ نو دا په اصل کې زما د بشپړتیا ګواهي ورکوي!

حرص او تمه ډېر زیانمنونکی شی دی؛ خو درمل یې په دغه نسخه کې شته

۱: په لګښت کې منځلاري کول:

ځکه چې بد خرڅه خلک کله هم قناعت نه کوي؛ نو ځکه حرص او تمه پرې لاسبرې کېږي او په لګښت کې منځلاري د قناعت بنسټي ماده ده او ښه تدبیر نیم اقتصاد دی.

۲: له راتلونکي مه ډارېږئ:

اوږده امیدونه پرېږدئ او لنډ امیدونه راخپل کړئ، پر الله ﷻ توکل وکړئ، ځکه کومه روزي یې چې ستاسې لپاره لیکلې ده، هغه په هر حال در رسوي.

۳: پرهېزګاري راخپله کړئ:

ځکه چې د پرهېزګارۍ په اړه الله ﷻ فرمایي:

وَمَنۡ يَتَّقِ ٱللَّهَ يَجۡعَل لَّهُۥ مَخۡرَجٗا ۝

ژباړه:

څوک چې له الله ﷻ نه په وېرېدو کار وکړي؛ نو الله ﷻ به د هغه لپاره له ستونزو څخه د وتلو کومه لاره پیدا کړي.

۴: قناعت پېژندل:

څوک چې د قناعت پر خوند پوه شي؛ نو هغه بیا د حرص او تمې پر بې خوندۍ هم پوهېږئ؛ نو ځکه بیا نورو ته له اړ کېدو نه هم ځان ساتي.

۵: د پیغمبرانو او اصحابو ژوند ته فکر وکړئ، چې په هغوی کې څومره

(c) ketabton.com: The Digital Library


قناعت او عاجزي وه، هغوی به د اخرت لپاره څنګه نیکۍ زېرمه کولې؛ نو تاسې هم باید د هغوی پر پله پل کېږدئ.

٦: په دنیوي چارو کې تر ځان ښکته خلکو ته ګورئ.

**رڼا**

هوښیاره ښځه هغه ده، چې د مشورې ګټې له پامه نه غورځوي، نه له خپل حال څخه نهیلې کېږي او نه پر مشورې سربېره خپلې هلې ځلې نه پرېږدي.

**ځلا**

إِنَّ اللَّهَ يُدَافِعُ عَنِ الَّذِينَ آمَنُوا

ژباړه:

بېشکه الله ﷻ له مؤمنانو څخه دفاع کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**چامبېل:**

**چې ټولې لارې وتړل شي؛ نو د الله ﷻ رسۍ راکلکه کړه!**

لولا المشقة ساد الناس كلهمُ- الجود يُفقر والإقدام قتَّالُ

ژباړه:

که بریالیتوب ګران نه وای؛ نو بیا به ټول خلک بریالي کېدلای او هېڅوک به هم نه ناکامېدلای؛ خو هسې نه ده، ځکه چې په یوه کار کې مخکې کېدل د مرګ په څېر ګران دي (لکه په پښتو کې متل دی، چې که د خوږ کانې وراسته وای؛ نو له ګیدړانو څخه به یو هم نه وای پاتې شوی)

د نېکو چارو په بدل کې الله ﷻ انسان ته ښه ژوند ور په برخه کوي او دا اړینه نه ده، چې له ښه ژوند څخه موخه شتمني ده، کېدای شي، چې کله نا کله الله ﷻ د نېکو چارو په بدل کې انسان ته پر ښه ژوند سربېره شتمني هم ور په برخه کړي؛ خو په هر صورت ښه ژوند په شتمنۍ پورې نه دی تړلی، چې یو څوک شتمن دی؛ نو هغه دې د ښه ژوند خاوند وي، بلکې ډېره ځله یو نېستمن سړی د ښه ژوند خاوند وي او په خپل ژوند کې ښه خوشحاله وي، ځکه چې له الله ﷻ سره یې جوړه وي او همدغه جوړه یې د خوشحاله ژوند لامل وي او ډېر ځله به تاسې لیدلي وي، چې یو څوک ډېر شتمن وي؛ خو له ډېرې شتمنۍ سره هم پر خپل ژوند تنګ وي، ځکه چې له الله ﷻ سره یې ورانه وي؛ خو که یو څوک شتمن هم وي او له الله ﷻ سره یې جوړه هم وي؛ نو دا خو بیا ډېره اوچته خبره ده.

که غواړې، چې ښه ژوند ولرې؛ نو پر الله ﷻ تکیا وکړې، د نورو په زړونو کې د ځان لپاره مینه وکرې، د کور چاپېریال راجوړ کړې، د نېکو چارو په ترسره کولو خوشحاله شې او د نېکو چارو اغېز په خپل ژوند کې رابښکاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړئ، که دغه کار مو وکړ؛ نو بیا د لږ مال په درلودلو هم تاسې د ښه ژوند خاوندان کېدلای شئ.

## ژباړه

ټول ستر خلک د مور په دعاګانو داسې ستر شوي دي او دا خبره هر څوک مني، چې د سترتوب لپاره د مور دعاګانې ډېرې اړینې دي.

## څلا

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ

ژباړه:

له الله ﷻ پرته بل هېڅوک د عبادت او بنده ګۍ وړ نه دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**غاټول:**

## فقط مؤمنان نېکمرغه کېداى شي

سهِّلْ على نفسك الأمورا–وكنْ على مُرِّها صبورا

ژباړه:

خپل مصيبتونه سپک وګڼه او د ستونزو پر تريخوالي صبر کوه!

ما د نړۍ د ډېرو نامسلمانو شتمنو خلکو تاريخونه لوستي دي، له هغې نه ما ته ښکاره شوې ده، چې د ژوند انتهايي بدمرغي، راتلونکى يې لعنتي او بريا يې له ذلت نه ډکه وي، ځکه چې اوس هغوى چېرته دي؟ د هغوى راټوله کړې شتمني او دنګې ماڼۍ څه شوې؟ تاسې که د نامسلمانو شتمنو تاريخونه وګورئ؛ نو درته په ډاګه شي، چې په هغوى کې چا خپله ځان وژلى، څوک د بل له لاسه وژل شوي او څوک زندان ته اچول شوي دي او ډېر پکې قضاء ته راښکل شوي دي، چې د خپلو تېروتنو او دوکو پايله ووينې؛ نو دغه ډول خلک په بدمرغه خلکو کې شمېرل کېږي، ځکه هغوى؛ خو دا فکر کړى و، چې ګوندې هغوى پر خپله شتمنۍ نېکمرغي، روغتيا، ځواني، مينه او داسې نور هر څه پېرلاى شي؛ خو د وخت په تېرېدو ورته په ډاګه شوه، چې دغه شيان په پيسو نشي پېرل کېداى، هو! پر پيسو باندې په بازار کې اسانتياوې پېرلاى شي؛ خو ارام او خوند نه، دارو درمل اخيستلاى شي؛ خو روغتيا نه، عياشي پرې کولاى شي؛ خو مينه نه!

نېکمرغي يوازې مسلمانان ترلاسه کولاى شي، ځکه چې له دوى سره ايماني نور وي، دوى تل له ځان سره د ښو او بدو حساب کوي او د الله ﷻ پر حکمونو عمل کوي، په دې لړ کې تاسې د الله ﷻ دې وينا ته ځير شئ، چې د مؤمنانو په اړه فرمايي:

مَنْ عَمِلَ صَالِحًا مِّنْ ذَكَرٍ اَوْ اُنْثٰى وَ هُوَ مُؤْمِنٌ فَلَنُحْيِيَنَّهٗ حَيٰوةً طَيِّبَةً ۚ وَ

(c) ketabton.com: The Digital Library



لَنَجۡزِيَنَّهُمۡ اَجۡرَهُمۡ بِاَحۡسَنِ مَا كَانُوۡا يَعۡمَلُوۡنَ۝٩٧

ژباړه:

هرڅوک چې ښه عمل وکړي، هغه نارینه وي او که ښځه وي؛ خو په دې شرط چې مؤمن وي، پر هغه به موږ په دنیا کې سپیڅلی ژوند تېر کړو او (په اخرت کې به) دغسې خلکو ته د هغو اجر له ډېرو ښو عملونو سره سم ورکړو.

**رڼا**

څوک چې نېکمرغي نه غواړي، هغه کله هم نشي نېکمرغه کېدلای.

**ځلا**

هر څه په تقدیر کې مخکې له مخکې لیکل شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**سنبل:**

## له بد خرڅۍ پرته ژوند

خليليَّ لا والله ما من ملمَّةٍ- تدوم على حيٍّ وإنْ هي جلتِ

ژباړه:

خوږه دوسته! قسم په الله که له غمه نه غټه ستونزه هم همېشه پاتې کېدونکې وي، اخر به هوارېږي.

مسلمانه ښځه دومره پخلی کوي، چې د کور خلک پرې ماړه شي،-نه دا چې هسې ډک شکور پاتې شي او ښځه پرې بدخرڅه ښکاره شي، په دې لړ کې تاسې د عايشې رضي الله عنها دغه وينا ته ځير شئ، چې فرمايي:

«له رسول الله ﷺ نه به پر دسترخوان هيڅ يوه غټه يا وړه مړۍ نه پاتې کېده»

همدا راز په يوه بل روايت کې دي، عايشه رضي الله عنها فرمايي چې:

«کله هم داسې نه دي شوي، چې ما د رسول الله ﷺ له مخې نه دسترخوان پورته کړی وي او په دسترخوان دې ترې څه پاتې وي.»

همدا راز د سرو او سپينو په لوښو کې له خوراک کولو نه هم اسلام منع فرمايلې ده او دغه کار يې په بد خرڅيو کې شمېرلی دی، لکه په حديث شريف کې راځي:

«د سرو او سپينو زرو په لوښي کې خوراک کوونکي په خپلو ګېډو کې د دوزخ اور اچوي.»

حقيقت خو دا دی، چې اسلام په ډېر حکمت سره له بدخرڅۍ نه منع فرمايلې ده، ځکه اسلام غواړي، چې مسلمانان عاجزي راخپله کړي او د تل لپاره له بدخرڅۍ نه ځان وساتي.

نبي کريم ﷺ چې کله معاذ رضي الله عنه يمن ته لېږه؛ نو ورته يې و فرمايل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



اې معاذه! د پرېمانۍ له ژوند څخه ځان ساته، ځکه چې د الله ﷻ عبادت کوونکي بنده ګان د پرېمانۍ ژوند نه تېروي.

**رڼا**

چې نهيلي له ځانه وغورځوې؛ نو هله به خوښي ترلاسه کړې.

**ځلا**

بې ځايه نيوکې مه کوه!

(c) ketabton.com: The Digital Library



**یاسمین:**

**د خیرات په کولو زړه ډاډ منېږي**

وإذا تقطعت الحبالُ وأُوصدت- أبوابنا ، فالله يكشف كرْبنا

ژباړه:

کله چې زموږ رسۍ وشلېږي او ټولې دروازې وتړل شي؛ نو الله ﷻ زموږ اندېښنې ختمې کړي.

عائشه ابۍ ﷺ فرمايي، چې يو ځل يوه مسکينه ښځه له خپلو دوو لوڼو سره ما ته راغله، خپلو دواړو لوڼو ته يې د خورما يوه يوه دانه ورکړه او خپله يې هم د يوې خورما دانې په خوړلو پيل وکړ؛ نو په دې کې يې يوې لور وويل، چې دغه هم ما ته راکړه؛ نو هغې ښځې هغه يوه دانه دوه ځايه کړه، يوه برخه يې خپله وخوړه او بله يې لور ته ورکړه، زه د دغې ښځې پر دې کار ډېره حيرانه شوم؛ نو ما يې رسول الله ﷺ ته کيسه وکړه او رسول الله ﷺ را ته وويل، چې په دغه کار به الله ﷻ يا د هغې ښځې لپاره جنت واجب کړی وي او يا به يې له دوزخ نه خلاصه کړې وي.

اسلام موږ ته ځکه د نېکو چارو سپارښتنه کوي، چې زموږ ژلمي نېکان شي او ټولنه مو له مينې او محبت نه ډکه شي.

**رڼا**

نېکمرغې شۍ!

**ځلا**

ښځه د ګل خوږ بوی او د بلبلې ترانې ته ورته ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



**کشمالی:**

**الله ﷻ موږ له هرې بلا نه ساتي**

وليت الذي بيني وبينك عامرٌ- وبيني وبين العالمين خرابُ

ژباړه:

ای الله ﷻ! کاش! چې زما او ستا تر منځ اړيکې پخې او ستا له مخلوق سره مې شلېدلې وای.

کله نا کله په هوا کې الوتکه خرابه شي؛ نو له سورليو نه مخکې پر پيلوټ (پائلټ) وېره راشي، ځکه چې هغه پرې مخکې پوهېږي او ور پسې سورلۍ هم د الوتکې له خرابېدو خبرې شي؛ نو په چيغو سر کېږي، له وېرې او ترهې يې ژبې له خولو راوځي او ټول الله ﷻ ته د مرستې لپاره چيغې ووهي او د هر چا په خوله د يا الله!... يا الله!... نارې وي؛ نو په دغه وخت کې الله ﷻ پرې ولورېږي او الوتکه بېرته راسازه شي، په کراره پر خپل هوايي ډګر ښکته شي؛ نو زړونه بېرته ډاډمن او تندي خواره شي، پر شونډو موسکا ګانې وغوړېږي.

همدا راز کله چې په لنګوال کې ماشوم ونښلي؛ نو ښځه د مرګ تر خولې ورسېږي او خپل هلاکت په خپلو ستر ګو ويني؛ نو الله ﷻ ته په زارۍ شي او يا الله!... يا الله!... کوي؛ نو الله ﷻ پرې هغه سخته اسانه کړي او په اسانۍ بچی وزېږوي.

که ښځه له کومې سختې سره مخ شي، يا يې تنګسه تنګسه يې لمن راونيسي او دا سر په سجده شي او دغه دعا وغواړي:

«يا معلم ابراهيم علمني، يا مفهم سليمان فهمني، اللهُمَّ رَبَّ جَبْرَائِيلَ، وَمِيكَائِيلَ، وَإِسْرَافِيلَ، فَاطِرَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ، عَالِمَ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ، أَنْتَ تَحْكُمُ بَيْنَ عِبَادِكَ فِيمَا كَانُوا فِيهِ يَخْتَلِفُونَ، اهْدِنِي لِمَا اخْتُلِفَ فِيهِ مِنَ الْحَقِّ بِإِذْنِكَ، إِنَّكَ تَهْدِي مَنْ تَشَاءُ إِلَى صِرَاطٍ مُسْتَقِيمٍ»

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه:

ای د ابراهیم ﷺ لارښوده! ما ته هم لارښوونه وکړه، ای د سلیمان ﷺ پوهوونکیه! ما هم پوه کړه، ای د جبرائیل، میکائیل او اسرافیل ربه! د ځمکې او اسمانونو پیدا کوونکیه! ای په پټ او ښکاره حالاتو پوهېدونکیه! هم ته به د خپلو بنده ګانو ترمنځ په هغه څه کې پرېکړه کوې، چې دوی پکې اختلاف کوي؛ نو ته په خپله اجازه ما ته په دغه اختلاف کې د حق لارښوونه وکړه، ځکه چې ستا چا ته خوښه شي؛ نو هغه ته سمه لار ورښیې.

نو الله ﷻ بیا له انسان سره مرسته کوي او تړلي قفلونه ورته خلاصوي، ځکه چې هغه ډېر لوراند ذات دی.

**رڼا**

نېکمرغه انسان تر خپلې وسې پورې نورو ته هم نېکمرغي وربښي.

**څلا**

الله ﷻ ته وګورئ، چې له ښځو سره نرمي او ښه چلند کوئ!

(c) ketabton.com: The Digital Library


## ګل لاله

**له غفلت نه مه بې پروا کېږه!**

لا تيأسنَّ في النوبْ–من فرجةٍ تجلو الكربْ

ژباړه:

په سختو او ستونزمنو حالاتو کې مه نهيلې کېږه، ځکه په تنګسه پسې اساني ډېره نږدې وي.

له غفلت نه ځان ساتئ، ځکه چې غفلت او بې پروايي انسان د الله ﷻ له ذکر نه لرې باسي، د لمانځه پرېښودو ته يې اړ کوي او د قرآن کريم تلاوت ترې پاتې کوي او غفلت انسان سخت زړی کوي او زړونه داسې ړندوي، چې بيا انسان نه د ښې او بدې توپير او نه د دين د زده کړې کوښښ کولای شي، چې په دنيا کې د غفلت دغه حال وي؛ نو څه فکر کوئ، چې په اخرت کې به يې پايله څه وي؟

د الله ﷻ لپاره داسې وکړئ، چې خپلې ژبې د الله ﷻ په ذکر لمدې وساتئ، تل په ناسته، ولاړه او ملاسته، يانې هر حال کې ځانونه د الله ﷻ له ذکر سره اموخته کړئ او په وزګارتيا کې ځانونه د سبحان الله، الحمدلله، الله اکبر، استغفر الله او د درود شريف په ذکرونو بوختې کړئ؛ نو هله به تاسې ته معلومه شي، چې نېکمرغۍ پر تاسې د باران په څېر راورېږي، ځکه چې الله ﷻ فرمايي:

أَلَا بِذِكْرِ اللَّهِ تَطْمَئِنُّ الْقُلُوبُ ﴿٢٨﴾

ژباړه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



خبردار اوسئ! همدغه د الله ﷻ یاد هغه شی دی، چې په هغې سره زړونو ته ډاډینه ورپه برخه کېږي.

**رڼا**

د دې خبرې انتظار مه کوئ، چې نېکمرغه شو؛ نو بیا به موسیږو، بلکې د نېکمرغۍ ترلاسه کولو لپاره وموسیږئ.

**ځلا**

د بدمرغۍ پر ځای د نېکمرغۍ تمه ولرئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**سنځلې ګل**

## د ژوند لپاره ومو سېږئ

ابني من الكوخ قصراً وانسجي حللاً-من بيتك الطين لا من قصرك العاجي العاجي

ژباړه:

خپله کوډله مانۍ وګڼئ او ښکلې يې کړئ.........

که تاسې په غم کې ومسېږئ؛ نو ښايي، چې غم مو يو څه سپک شي او د خلاصون څه لار وموموئ او په موسېدو کې هم مه دوه زړي کېږئ، ځکه چې په تاسې کې د موسکا ښه ځواک شته او دغه ځواک مه ښخوئ، ځکه چې د دغه ځواک په ښخولو تاسې خپله په عذاب کې اخته کېږئ او بله دا چې په موسکا کې ستاسې څه تاوان دی، فقط دا چې شونډې به مو ښې ښکاره شي!

يو لوېديزوال وايي، چې موسکا د ټولنې اړتيا ده او دا خبره يې بېخي پر ځای ده، ځکه کله چې تاسې له چا سره خبرې اترې کوئ؛ نو بايد په ښه ډول ورسره وغږېږئ او تاسې پوهېږئ، چې زموږ ټولنيز ژوند انساني هنرونو ته څومره سخته اړتيا لري؛ نو له دې امله ته هم بايد هغه هنرونه راخپل کړې او موسکا هم له دغو اړينو هنرونو څخه يو هنر دی، چې ټولنه ور ته سخته اړتيا لري، ځکه له نورو سره د موسکا په بدرګه مخ کېدل نورو ته د ژوند ښکلا وربښل دي، چې په دې سره په نورو کې نېکې هيلې راټوکېږي او ته به پر دې خوښه شې، چې ستا د تريو تندي له امله دې د نورو خلکو ژوند تريخ شي؟

**رڼا**

بريا د هماغه چا په برخه کېږي، چې څوک د بريا ترلاسه کولو کوښښ کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**اوس...**


د دې کتاب تر لوستو وروسته له خپلو ټول اندېښنو سره خدای په امانې وکړئ، په فکر او سوچ سره له غمونو، اندېښنو، لټیو او د نهیلیو له کلي کډه وکړئ، د ایمان پر لور ور رواني شئ او د الله ﷻ د میني جومات ته ورننوځئ.

د الله ﷻ پر قضاء او تقدیر خوشحاله شئ او بیا له سره ژوند پیل کړئ، یو داسې ښکلی او په زړه پورې ژوند چې د نېکمرغۍ په ګاڼه سمبال وي، یو داسې ژوند، چې زړه تنګي او دوه زړتوب نه لري؛ نو هله به تاسې ته د غره له څوکې د ایمان بلندوی دا زېری در کړي، چې هم ته د نړۍ تر ټولو نېکمرغه ښځه یې!

و صلی الله علی نبینا محمد و علی اله و صحبه اجمعین

**پای**


(c) ketabton.com: The Digital Library













**کتاب خپرندویه ټولنه**

جلال کوټ

اړیکشمیرې: 0773370338 - 0786642769

برېښنا لیک: gandharaservices@gmail.com

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**